# لړلیک

عنوان
مخ


سریزه ........................................ ۱

لومړی فصل _ دبین المللي روابطو ددیپلوماتیکي نمایندګۍ ........ ۴

لومړی مبحث _ دسفارتخانې دایجاد تاریخچه ........................................ ۵

دویم مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ تاسیس ........................................ ۷

دریم مبحث - ددیپلوماتیکې نمایندګۍ ډولونه ........................................ ۹

لومړی پراګراف - دایمي دیپلوماتیکي نمایندګي ........................................ ۹

دوهم پراګراف _ مؤقت ماموریت ........................................ ۹

دریم پراګراف _ دوګونی یا څوګونی ماموریت ........................................ ۱۰

څلورم پراګراف _ مشترکه دیپلوماتیکي نمایندګي ........................................ ۱۱

پینځم پراګراف _ دثالث هېواد دمنافعو ساتونکې نمایندګي ........................................ ۱۲

دویم فصل _ دسیاسي دیپلوماتیکي نمایندګۍ غړي ........................................ ۱٤

لومړی مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ رئیسان ........................................ ۱٤

لومړی پراګراف _ سفیران ........................................ ۱٤

دوهم پراګراف _ مختار وزیران ........................................ ۱٥

دریم پراګراف _ شارز دافیر (charge daffier)........................................ ۱۷
دویم مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ اجزاء ........................................ ۱۹..
لومړی پراګراف _ دیپلوماتیکي غړي............................................... ۲۰..............
دویم پراګراف _ اداري او تخنیکي غړي........................................... ۲۱...........
دریم پراګراف _ خدماتي غړي........................................ ۲۲.....................
دریم مبحث _ غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي........................................ ۲۲..
څلورم مبحث _ دیپلوماتیک هیئت (Corp. Diplomatic)................ ............. ۲۳

الف

عنوان
مخ

دریم فصل _ دیپلوماتیکي مصؤنیتونه او امتیازات.................................... ۲٤
لومړی مبحث _ ددیپلوماتیکي مصؤنیتونواوامتیازاتو منطق....................... ۲٥
لومړی پراګراف _ ماورای سرحدي نظریه........................................ ۲٦ ..........
دویم پراګراف _ دنمانیدګۍ نظریه........................................ ۲۷...................
دریم پراګراف _ دوظیفې د اجراء دمصلحت یاایجاباتو نظریه........................ ... ۲۸
دویم مبحث _ ددیپلوماتیکي غړومصؤنیتونه اوامتیازات ....................... ۲۹

لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګی دغړومصؤنیت......................... ۳۰
لومړی جز _ دشخصي مصؤنیت تاریخي سیر.......................................... ۳۱....
دویم جز _ ددیپلوماتیکوروابطو په کنوانسیون کې شخصي مصؤنیت............... ۳۳
دویم پراګراف _ ددیپلوماتیکو غړو امتیازات ................................... ٤٦.......
لومړی جز _ مالیاتي معافیتونه.......................................... ٤۷......................
دویم جز _ ګمرکي معافیتونه.......................................... ٤۸.........................
دریم مبحث _ ددیپلوماتیکو مصؤنیتونواوامتیازاتو څخه ددیپلوماتانو سؤ استفاده.................................................................................. ۵۰....
څلورم مبحث _ ددیپلوماتیک مصؤنیت اوامتیازاتو څخه انصراف.................. ۵۱
پنځم مبحث _ دیپلوماتیک مصؤنیت اوامتیازات په ثالثوهیوادونوکې........... ۵۲
څلورم فصل _ ددیپلوماتیکي نمایندګی مصؤنیتونه اوامتیازات................ ۵٤
لومړی مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګی مصؤنیتونه............................ ۵٤
لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګی داموالو مصؤنیت...................... ۵٤
دویم پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګی داسنادودثبت مصؤنیت................ ۵۵
دریم پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګی دنقلیه وسایلو مصؤنیت ................. ۵۵
دویم مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګی معافیتونه................................ ۵٦
لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګی دځایونومالیاتي معافیت.... ......... ۵٦

عنوان
مخ

دویم پراګراف _ دګمرکي تفتیش څخه ددیپلوماتیکي نمایندګۍ داشیاؤ معافیت.................................................................................57
دریم پراګراف _ په رسمي فعالیتونو کې دنمایندګۍ امتیازات......................57
دریم مبحث _ دنمایندګۍ دغړو دامتیازاتو مختلفې درجې.......................... ٦٠
لومړی پراګراف _ دکورنۍ مفهوم اودهغې امتیازات ........................................ ٦١
دویم پراګراف _ اداري اوتخنیکي غړي اودهغوی امتیازات.......................... ٦١
دریم پراګراف _ دنمایندګۍ خدمه اودهغوی امتیازات..................................٦١
څلورم پراګراف _ شخصي خدمتګاران اودهغوی امتیازات.........................٦٢
څلورم مبحث _ ددیپلوماتیکي امتیازاتو دشروع اوپای تاریخ........................ ٦٢
لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي امتیازاتو دشروع تاریخ..................................٦٢
دویم پراګراف _ ددیپلوماتیکي امتیازاتو دپای تاریخ.......... .........................٦٣
پنځم مبحث _ ددیپلوماتیک اوقونسلي ارګانونو اړیکي..................................٦٥
لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیک اوقونسلي دوه ارګانونوشباهتونه......................٦٥
دویم پراګراف _ ددیپلوماتیک اوقونسلي دوه ارګانونوفرقونه............................٦٦
شپږوم مبحث _ ددیپلوماتیکي ماموریت ختم اودهغې حقوقي اثاراونتایج.........٦٧
لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي ماموریت ختم.......................................................... ٦٨
دویم پراګراف _ دسیاسي یادیپلوماتیکي ماموریت دختم اثار اونتایج..............٦٩

تبصره _ اياقونسلان هم ديپلوماتيکي مصؤنيت لري اوکه نه ؟........................۷۰
پايله ..................................................................................۷۳
اخځليکونه ...........................................................................۷٦

ج

# سريزه

الحمد لله والصلاة والسلام على عباده الذين اصطفٰى
اما بعد : فقد قال الله تعالى فى محكم كتابه ، لَا يَنْهَكُمُ اللهُ عَنِ الذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِى الديْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُوْهُمْ وَتُقْسِطُوْ اِلَيْهِمْ ط اِنَ اللهَ يُحِبُ الْمُقْسِطِيْنَ .
فقد قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ، لولا ان الرسول لا تقتل لضربت اعناقكما .

په حقيقت کې ديپلوماتيک حقوق د بين المللي حقوقو يوه نوې او ځوانه څانګه ده چې د بين المللي حقوقو او ديپلوماتيکو اړيکو د تاريخي څرګندونو څخه داسې معلوميږي چې انسانانو دپخوا راهيسې يودبل سره اجتماعي اوسياسي اړيکې درلودې او دخپلوملي منافعو دساتلو په خاطر يې وخت په وخت دهيوادونو سره خپلې اړيکې دوامداره ساتلي او دهيوادونو نمايندګانو ته په خپله خاوره کې په احترام قايل شوي .

دايو څرګند حقيقت دې چې انسانان نشي کولې په يواځيتوب سره ژوند وکړي او خپل ټول ضرورتونه مرفوع کړي نو په دې اساس مجبور دي ترڅو د ټولنې د نورو افرادو سره ګډ ژوند وکړي او خپلې اړيکې وساتي ، همدارنګه په بين المللي ټولنه کې دولتونه هم نشي کولې چې په يواځيتوب سره خپل ضرورتونه مرفوع کړي نو په دې اساس دوی هم مجبوردي ترڅو په بين المللي ټولنه کې ژوندوکړي او خپلې اړيکې له نورو دولتونو سره دوامداره وساتي .

بايد ذکر کړو چې دديپلوماتيکي اړيکو د ساتلو لپاره ديته ضرورت ليدل کيږي چې ديپلوماتيکي

نمایندګی بایدپه دولتونواو یا بین المللي سازمانونوکې چې نوموړي نمایندګی دځینو خاصو وظایفودترسره کولو لپاره او دځینوخاصوعواملولکه اجتماعي، سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي او داسې نورو له مخې تاسیس کیږي، څرنګه چې پخوا یواځې دمحدودو لویو دولتونو ترمنځ دنمانیدګی داموراتو دترسره کیدو لپاره یودبل په وړاندې به یې سفیران تبادله کول او دنوروکوچنیو دولتونو په وړاندې چې دهغوی په نظر به کم اهمیته وه په ټیټه درجه کې نمایندګان تبادله کول اوهمدارنګه نوموړو نمایندګیومؤقتي بڼه درلوده چې دوخت په تیریدو نوموړو مؤقتي نمایندګیو دولتونو ته یوسلسله مشکلات ایجادکړل چې په نتیجه کې نوموړې مؤقتي نمایندګی په دایمي نمایندګیو بدلې شوې.

هرکله چې یوه دیپلوماتیکي نمایندګي دمتبوع دولت له خوا په کوربه دولت کې تاسیس کیږي نود یو سلسله مصؤنیتونو او امتیازاتو څخه برخمنه کیږي ترڅو نوموړې نمایندګی په کوربه دولت کې ترتعرض لاندې واقع نشي اودنمایندګی د ځایونو، اموالو، اسنادو اودنورو مهموشیانوبایډ په ښه توګه ساتنه او حمایت وکړی شي، او همدارنګه نوموړې نمانندګي درسمي فعالیتونودترسره کولو په وخت کې هم باید دیو سلسله امتیازاتو څخه برخورداره وي ترڅووکولای شي اړوندوظایف په ښه توګه ترسره کړي .

ددیپلوماتیکي نمایندګی دسیاسي دیپلوماتیکي وظایفو داجراء لپاره دمتبوع دولت له خوا کوربه دولت ته سیاسي دیپلوماتیکي غړي لکه سفیران، مختاروزیران، شارژدافیر او دغیرسیاسي دیپلوماتیکي وظایفو داجراء لپاره چې په مستقیم ډول سیاسي جنبه نه لري بلکه په غیرمستقیم ډول سیاسي جنبه لري غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي لیږدول کیږي ترڅو وکولای شي اړوندوظایف ترسره کړي او هرکله چې سفیراو مختاروزیر دکوربه دولت له خوا قبول او خپله اړونده اعتبارنامه دکوربه هیواد رئیس ددولت ته تسلیم کړي نو له ټاکلې نیټې وروسته په ماموریت شروع کوي او شارژدافیر خپله اړونده معرفي نامه دکوربه دولت خارجه وزیر ته تسلیموي.

څرنګه چې حضرت محمد مصطفیٰ (ص) څوارلس سوه کاله وړاندې دنیکمرغی اوکامیابی پیغام نړیوالو ته راوړی چې داسلام مبارک دین دغه ډول نمایندګانو ته حقوق ورکړي اوحضرت محمد مصطفیٰ(ص) په خپله دغه ډول نمایندګانو ته په احترام قایل شوې او له ټولو حقوقوڅخه یې برخمن ګڼلي اوهمیشه یې له هغو سره نیک او ښه چلندکړې .

اوس څرنګه چې سیاسي نمایندګان بالعموم په کوربه هیواد کې سیاسي وظایف اجراء کوي چې سیاسي وظایف او مناسبات په ډیرو اوقاتو کې حساس اوباریک وي نو ددې لپاره چې نوموړي وظایف په ښه توګه ترسره شي نو لازمه ده چې دیپلوماتان په کوربه هیوادکې او هم دلارې په اوږدو کې (ثالث هیوادونو کې) دخپلې دستګیرئ اومحاکمې څخه هیڅ نوع تشویش ونه لري ترڅو خپل حساس وظایف په ښه توګه اجراء کړي، ولې که ددیپلومات دتعقیب اویادمحاکمې او مجازاتو احتمالات په کوربه هیواد یاد لارې په هیوادونو کې موجود وي نو امکان لري چې دیپلومات خپل وظایف له دې ویرې چې مبادا محاکمه یا مجازات نشي نو بیا به خپل وظایف نه اجراء کوي او یا به یې په تاخیرکې اچوي او یاددې احتمال هم شته چې که دمتبوع هیواد اوکوربه هیواد مناسبات خراب شي نو امکان لري چې کوربه هیواد دمتبوع هیواد څخه دغچ اخیستنې په خاطردمتبوع هیواد دیپلومات بې موجبه مجازات کړي نوبنا دنوموړي تشویش دلرې کیدوپه خاطر دسیاسي نمایندګانو یعنې دیپلوماتانو لپاره مصؤنیت قبول شوی دی اوهمدارنګه باید ذکر کړو چې دیپلوماتیک مصؤنیت په حقیقت کې شخصاددیپلومات داحترام په خاطر نه بلکه دکوربه هیواد داحترام ښودل دي دمیلمه هیواد لپاره نوهرهغه څوک چې میلمه هیواد تمثیلوي هغه ته مصؤنیت ورکړل شوې، نود پورته موضوعاتو داهمیت په نظر کې نیولو سره ماهم خپله دمونوګراف موضوع چې دتحصیلي دورې دبشپړتیا په پای کې یې لیکم (دیپلوماتیکي مصؤنیتونه) وټاکل چې دښه روښانه کولو په خاطر نوموړې موضوع په څلورو فصلونو ویشل شوې، چې لومړې فصل یې دبین المللي روابطو دیپلوماتیکي نمایندګی په نوم نومول شوی چې دنوموړي فصل په بطن کې دسفارتخانې دایجاد تاریخچه ، ددیپلوماتیکي نمایندګۍ تاسیس اوددیپلوماتیکي نمایندګۍ په ډولونو باندې بحث شوې، دویم فصل ددیپلوماتیکي یا سیاسي نمایندګۍ غړي عنوان لرونکی دی چې په دې فصل کې ددیپلوماتیکي نمایندګی رئیسان او ددیپلوماتکي نمایندګۍ داجزاؤپه موضوعاتو باندې بحث شوې، دریم فصل دیپلوماتیکي مصؤنیتونه او امتیازات په نوم نومول شوې چې په دې فصل کې په دیپلوماتیکي مصؤنیت منطق، ددیپلوماتیکي غړو مصؤنیتونه او امتیازات، ددیپلوماتیکي مصؤنیت څخه ددیپلوماتانو سؤاستفاده او ددیپلوماتیکي مصؤنیتونو اوامتیازاتو څخه انصراف موضوعاتو باندې بحث شوې او څلورم فصل چې ددیپلوماتیکي نمایندګۍ مصؤنیتونه او امتیازات عنوان لرونکې دې تردې عنوان لاندې په رسمي فعالیتونو کې دنمایندګی امتیازات،

ددیپلوماتیکي نمایندګۍ دغړو دامتیازاتو مختلفې درجې، ددیپلوماتیکي امتیازاتو دشروع او پای تاریخ، دیپلو ماتیکي امتیازات په ثالثو هیوادونو کې او ددیپلوماتیک او قنسولي دوه ارګانونوپه شباهتونو اوفرقونو باندې بحث شوې چې ددې ترڅنګ دمونوګراف په پای کې یوه تبصره او پایله هم وجود لري چې په پایله کې دمونو ګراف خلاصه ذکر شوې .

په درنښت

## لومړی فصل

## دبین المللي روابطودیپلوماتیکي نمایندګي

لکه څرنګه چې دنامه څخه یې معلومیږي چې په یوه خارجي هیوادکې دخپل متبوع هیوادسیاسي اودیپلوماتیکي روابط دکوربه هیوادسره ترتیب اوتنظیموي چې نوموړې دیپلو ماتیکي نمایندګي مشتمل په یوه دیپلو ماتیکي نماینده اودیپلوماتیکي کارکوونکو دي چې دمتبوع دولت لخوا الیږدول کیږي اودکوربه هیوادلخوادقبول وړګرځي. (۸،ص۳۳-۳٤)

همدارنګه نوموړې دیپلوماتیکي نمایندګي دقبلونکي یاکوربه هیواد په پایتخت کې ځای پر ځای کیږي چې پخوانۍ معمول اوعرف هم په همدې ډول وه اوپه دې هکله د۱۹٦۱م کال دویاناکنګرې هم کوم مشخص اومعین ځای نه دې تعین کړې بلکه داکاریې ددولتونوپه خوښې اوانتخاب پورې اړونده ګڼلې.

په حقیقت کې دیپلوماتیک عرف په داسې ډول ترتیب شوی چې دیپلو ماتیکي نمایندګي اوقبلونکي یاکوربه هیواددخارجه وزارت مقربایدپه یوځای کې وي اویاپه بل عبارت اوهغه داچې دیپلوماتیکي نمایندګي بایدپه هغه ځای کې ځای پرځای شي چیرته چې خارجه وزارت قرارلري ، نوڅرنګه چې خارجه وزارت دهیوادپه پایتخت کې قرار لري نودمعمول له مخې ددیپلوماتیکي نمایندګۍ داستقرارمحل دکوربه هیواد پایتخت دی.

اګر که څه هم د۱۹٦۱م کال کنګرې ددیپلو ماتیکي نمایندګۍ دځای پرځای کیدوپه هکله سکوت اختیارکړی خوبیا هم د ۱۹٦۹م کال کنګرې نو موړی مو ضوع داسې څرګنده کړې چې (که چیرې طرفین ددیپلوماتیکي

نمایندګی دمقرپه هکله موافقي ته ونه رسیږي نودیپلوماتیکي نمایندګي بایدپه هغه ښارکې ځای پرځای شي چیر ته چې دقبلونکي یاکور به هیوادخارجه وزارت قرارلري.
ترکومه ځایه چې دکوربه یاقبلونکي هیواد پوري اړه لري اوهغه داچې یواځې یوشخص کولی شي چې دبل هیوادنمایندګي وکړي اوهغه ددیپلوماتیکي نمایندګی رئیس دی چې په کامله توګه دنمایندګی د ټولوفعالیتونومسول ګڼل کیږي ، چې په صراحت سره داپه دې معنی دی چې ددیپلوماتیکي نمایندګی نورکارکوونکي په مستقیم ډول دنمایندګی وظیفه په غاړه نه لري بلکه دخپل رئیس سره مرسته اوهمکاري کوي .
له دې تو ضیحاتوڅخه دا سې معلومیږي چې خپله دسفارت اداره په ځانګړي ډول امتیازات نه لري بلکه کوم مصؤنیتونه اوامتیازات چې ورکول کیږي دهغې منشاء خپله سفیران ،د نمایندګی اسناد اودنمایندګی اموال اوداسی نور. (۹،ص۹۷-۹۸)

## لومړی مبحث : دسفارتخانې دایجاد تاریخچه

لکه چې دنامه څخه یې معلومیږي په یوه خارجي هیواد کې دخپل متبوع هیوادسیاسي اودیپلوماتیک روابط دمیزبان یاکوربه هیوادسره په دایمي ډول ترتیب اوتنظیموي.
یعنی په حقیقت کې دپرنسیپ په لحاظ ددوی موجودیت په مؤقتي ډول نه بلکه په دوامداره توګه دی چې په حقیقت کې داډول مراجع یاارګانونه عبارت دي له سفارت خانو څخه ،دسفارتخانوپه ارتباط بایدوویل شي کوم وخت چې دولتونه دځمکې په مخ رامنځ ته شول دهغه وخته دې ته ضرورت لیدل کیده چې دولتونه بایدیودبل سره سیاسي مناسبات ولري اویودولت بایدپه بل دولت کې ددی مناسباتودتنظیم لپاره خپل نمایندګان ولیږي .
په تاریخي لحاظ داسی ښکاري چې ددی ډول نمایندګانولیږدول دلومړي ځل لپاره په ۵ م قرن کې شروع شولکه چې ویل کیږي په ۴۵۰ م کال کې دلومړي ځل لپاره دروم امپراطورۍ اویوبل هیواد چې داتیلا نومیده دسیاسي روابطودتنظیم لپاره یې خپل نمایندګان یواوبل ته ولیږل چې په هغه وخت کې دې ډول نمایندګانودوه ډوله خصوصیات لرل .
**اول** _ دې ډول نمایندګانومؤقتي بڼه درلوده اودوی موقتاً دیوې مشخصې اومعینې موضوع لپاره لیږدول کیدل .
دویم _ په هغه وخت کې داسی دیپلوماتیکي حقوقي قواعدد نمایندګانودمصؤنیت په اړوند په کوربه هیوادکې موجودنه وه بلکه هلته د نمایندګانودمصونیت

، پذیرایي او تشریفاتولپاره به د عرف اوتعاملاتوڅخه کاراخستل کیده،ولی دوخت په تیریدولیدل کیږي چې په دې ډول نمایندګیوکې بعضې پیشرفتونه منځ ته راځي چې دغه مؤقتي نمایندګی په دایمي نمایندګیو بدلیږي اوحقوقي قواعدهم منځ ته راځي .

داسې ویل کیږي چې دغه مؤقتي نمایندګی په ۱۵ م پیړۍ کې په دایمي نمایندګیو بدلې شوی دي ځکه ویل کیږي چې لومړۍ ځل په فرانسه کې په۱٤۱٦م کال کې یعنی دڅوارلسم لوي دسلطنت په دوره کې بعضی دایمي نمایندګان نوروهیوادونو ته ولیږل شول اوهمدارنګه ایتالیې هم په ۱۵م پیړۍ کې ځینی نمایندګان نوروهیوادونوته ولیږل ، بناً ویلی شو چې دایمي نمایندګۍ دلومړي ځل لپاره په فرانسه اوایتالیاکې یعنی په اروپایې هیوادونوکې شروع شوی دي ، په دې وخت کې اسیایې هیوادونو ددایمي نمایندګیوسره مخالفت کاوه.

مثلاً داسې ویل کیږي چې روسیې تر۱٦۸۲م کال چې د۱۷م پیړۍ اواخردي تر دې دمه دنوروهیوادونوسره بین المللي دایمي نمایندګان نه درلودل اویاهمدارنګه چین اوجاپان حتٰی د۱۹م پیړۍ ترنیمایې پورې ددایمي نمایندګیوسره مخالفت کاوه چې بالاخره دوخت په تیریدو په ټولوهیوادونوکې سیاسي دیپلوماتیکي دایمي نمایندګۍ رواج شوي .

ددې ټو ضیحاتوپه نظر کې نیولو سره و یلای شوچې دسیاسي نمایندګیوایجاداو ځرنګوالی په درې مرحلوسره ترسره شوي .

**لومړۍ** _ مؤقتي مرحله

**دویم** _ دمؤقتي مرحلې بدلیدل په دایمي مرحلې

**دریم** _ دانکشاف اوتکامل مرحله

چې هریولدې څخه په جلاجلاتوګه په لاندې ډول مطالعه کوو.

**لومړۍ مرحله** _ دامرحله لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه د٥ م پیړۍ یعنی د٤٥۰م کال څخه شروع کیږي اوتر ۱٤۱٦م کال یعنې دڅوارلسم لوي سلطنت پورې دوام کوي چې پدې مرحله کې په هیڅ کوم هیوادکې سیاسي دایمي نمایندګی موجودې نه وې بلکه که چیرې به سیاسي نمایندګان تبادله کیدل نوهغه به په مؤقتي شکل سره وه.

**دوهمه مرحله** _ دمؤقتي مرحلې بدلیدل په دایمي مرحلې

دامرحله د۱٤۱٦م کال څخه شروع کیږي اودناپلیون دامپراطورۍ ترپای یعنې ۱۸۱۵م کال پورې دوام کوي چې په دی مرحله کې په ډیروهیوادو نوکې موقتي سیاسي نمایندګی په دایمي سیاسي نمایندګیو بدلې شوې .

**دریـ مه مـرحـلـه** _ دسیـا سي نـمـایـنـدګیـود انـک شاف اوتـکـا مـل مـرحـلـه

دامـرحـلـه د۱۸۱۵م کـال یـعـنـي دنـاپـلـیـون دامـپـراطوری دسقـوط اودویـانـادکـنـګرې څـخـه شروع اوتـر نـن ورځـې پـورې دوام کـوي ، چـې پـه دې مـرحـلـه کـې دایـمـي سیـاسـي نـمـایـنـدګیـونـورهـم انـکـشـاف وکـړاو خـاصـتـاًددې سیـاسـي نـمـایـنـدګیـود وظـایـفـومـسؤنـیـت اوپـذیـرایـي پـه ارتـبـاط بـعـضې شخصي حـقـوقـي قـواعـد رامـنـځ تـه شول چې نـن ورځ همد غه حـقـوقـي قـواعـد پـه نـظر کـې نـیـول کـیـږي لـکـه دهمـدې قـواعـدو دجـمـلـې څـخـه چې مـهـمـه بـیـن الـمـلـلـي مـعـاهـده پـه ۱۸۱۵م کـال کـې دویـانـاپـه کـنـګره کـې لاسلـیـک شوه چې تـرنـن ورځـې پـورې دهـمـدغې مـعـاهـدې اصـول اوقـواعـدپـه دیـپـلـومـاتـیـکـه یـاسیـاسي سـاحـه کـې پـه نـظرکـې نـیـول کـیـږي چـې دې قـواعـدوتـه دیـپـلـومـاتـیـکي حـقـوق هـم وایـي. (۵،ص۵۷_۵۸)

## دویـم مـبـحـث _ ددیـپـلـومـاتـیـکي نـمـائـنـدګی تـاسیـس

د۱۹٦۱م کـال د ویـانـادکـنـګرې د۲ مـادې لـه مـخـی داسې څـرګـنـدیـږي چـې( ددولـتـونـوتـرمـنـځ ددیـپـلـومـاتـیـکـوروابـطـو بـر قـراروُل اودداپـ مـي دیـپـلـو مـاتـیـکي نـمـائـنـدګیـو تـاسیـس دمـتـقـابـل رضـایـت لـه مـخې صورت نـیـسي) .

دپـورتـنی مـادې څـخـه چې یـوه نـقـطـه مـعـلـومـیـږي هـغـه داچـې ددیـپـلـومـاتـیـک روابـطـوبـرقـراروُل ددیـپـلـومـاتـیـکي نـمـائـنـدګیـود تـاسیـس سره فـرق لـري ، بـنـاً ددولـتـونـوتـرمـنـځ ددیـپـلـومـاتـیـک روابـطـوبـرقـراروُل ددیـپـلـومـاتـیـکي نـمـایـنـدګیـو پـه تـاسـیـس پـورې اړه نـه لـري. څـرنـګـه چـې اکـثـره دهیـوادونـو څـخـه یـودبـل سره دیـپـلـومـاتـیـک روابـط لـري مـګر غ یـر لـه دې چې یـود بـل سره دیـپـلـو مـاتـیـکي نـمـائـ نـدګی یـا سفـارتـخـانـي ولـري. اکـثـره دهیـوادونـوڅـخـه خـاصـتـاً هـغـه هیـوادونـه چې لـه نـګـاه دجـغـرافـیـې یـودبـل سره سرحـد نـه لـري اوچـنـدانـې روابـط هـم نـلـري نـود سپـمـایـادځیـنـی نـورو عـوامـلـوپـه اساس یـودبـل پـه وړانـدې دنـمـائـنـدګی د تـاسیـس لـپـاره اقـدام نـه کـوي ، پـه داسې حـال کـې چې دحـقـوقـولـه نـظره ددیـپـلـومـاتـیـک روابـطـو لـرونـکـي هـم وي . نـن ورځ پـه زیـاتـه انـدازه دیـپـلـومـاتـیـک روابـط دمـلـل مـتـحـد پـه سازمـان کـی چې تـقـریـبـاًدتـولـوهیـوادونـو نـمـائـنـدګی پـه ثـابـت ډول هـلـتـه وجـود لـري بـرقـراریـږي. (۸،ص۸۹-۸۸)

اوس هرکـلـه چې لـیـږدونـکـې دولـت وغـواړي پـه قـبـلـونـکـي دولـت کـې نـمـائـنـدګي تـاسیـس کـړي نـولازمـه ده تـرڅـودکـوربـه دولـت رضـایـت تـرلاسه کـړي اودغـه رضـایـت بـا یـدمـخـکـې د نـمـائـنـدګی دتـاسیـس څـخـه پـه صراحـت سره دقـبـلـونـکـي دولـت لـخـو اظهـارشي . پـه حـقـیـقـت کـي دنـمـائـنـدګی تـاسیـس اودهغې قـبـلـول دهـر دولـت حـق دې . (۷،ص ۲۲)

اوس يـوسوال مـطرح كـيږي اوهغه داچي ايا هردولـت حق لـري پـه نـورودولـتونـوكې چې لـه هغوسره ديـپلوماتـيک روابط لـري ديـپلومـاتـيكي نـمايـندگی تـاسيس كړي اويـاداچې هر دولـت حق لـري چې د نـورودولـتونـوسره دنـمايـندگی څخه پـه خپـلـه خاوره كې چې لـه هغوسره ديـپلومـاتـيک روابط لـري منع راوړي؟

ځواب _ نـو مـوړې مـسئلـه دپـخوانـيو حـقـوقـي مـكاتـبو تـرمنځ يـوه اختلافـي مـسئلـه وه چې پـخوا دنـمائـندگی د تـاسيس دحق پـه مـورد كې اويـادسفـيـردلـيږلـواو يـادقـبلـولـو پـه هكلـه اختلاف نـظروه چې بـعضې دحقـوقـدانـانـوڅخه پـه دې عقـيـــده ول چـــې ديـودولـــت پـيژنـــدل اوديـپلومـــاتـيكي اړيـكوبـرقـرارول د يـوې ديـپلو مـاتـيكي نـمائـندگی دتـا سيس لـپاره بـسنه كوي اوطرفـيـنو تـه بـه حق وركول كـيده چې ديـوبـل پـه خاوره كې سفـارتـخانـې تـاسيس كړي.

دهاوانـا قـرارداد چې پـه ۱۹۲۸م كـال كې دامريـكايـې دولـتونـوتـرمنځ واقع شوې پـورتـنی نظريـه قـبولـه شوې چې پـه نـو مـوړی كنوانـسيون كې داسې ذكرشوی (دولـتونـه حق لـري ديـپلومـاتـيكي مـامـوريـن يـوبـل تـه ولـيږي) چې ددې څخه مـوخه دديـپلومـاتـيكي نـمايـندگی تـاسيس دی .

ژرژ سل فـرانـسوي حقـو قـدان پـه دې عقـيده وه چې غـيرداستـثـنايـې حـالاتـو څخه نـور هيڅ دولـت نـشي كولای چې قـانـوناًديـپلومـاتـيک روابط ديـوبـل دولـت سره چې دروابـطو دبـرقـرارولـو تـمايـل لـري ردكړي، نـونـومـوړې دولـت مجبـوردې تـرڅودعدم رضايـت پـه صورت كې خپـل دلايـل ذكركړي .

اوس بـايـــدذكركړو چـــې دديـپلومـــاتـيكي نـمايـنـــدگی تـاســيس د ځينوخاصــوانـگيزولـه مـخــې صــورت نـيســي چــې دديـپلومـاتـيكي نـمايـندگی تـاسيس پـه نـوروهيـوادونـوكې ډيـر مـصرف اوپـرسونـل تـه ضرورت لـري چې دمملـكت پـه بـوديـجه بـانـــدې تـــاثـير واردوي اودهغـــې لـپـــاره اقـــدام كـــول شايـدمختلـفـې انـگيزې ولـري لـكه سيـاسي، اقـتصادي، تـجارتـي، فـرهنگي، نـظامـي او داسې نـور.

وروستـه ددهمې نـړيـوالـې جگړې څخه نـوی تـاسيس شوي هيـوادونـو ډيـر ژر بـين الـملـلي صحنې تـه راووتـل، چې اكثــره ددې هيـوادونــو څخــه دخپــل مـوجوديــت داثـبــات اوپـيـژنـدلـوپـه خاطرتـرهغه حده چې امكانـات يـې لـرل كوښښ يــې كــړې تـرڅوپــه نــورو هيـوادونــو كــې ديـپلومــاتـيكي نـمايـندگی تـاسيس كړي .

بـايـد ذكركړو چې دديـپلومـاتـيكي نـمايـندگی تـاسيس ځينی مـشكلات هم لـري چې دديـپلومـاتـيكي نـمايـندگی تـاسيس اصــولاً اوعمــلاً دروابـطوپــه پـراخوالـي،سياســي منــافـعو، تـجارتـي روابـطو، فـرهنگي يـو شانـوالـي، مـالـي اوتـعلـيـمي كـاري پـرسونـل پـورې اړه لـري چې بـعضې دهغه هيـوادونـو څخه چې دديـمې نـړی هيـوادونـه دي نـشي كولای دنـمايـندگی

دتاسيس مصارف اود سفارت و سايل په نوروهيوادونو کې تحميل کړي .

څرنګه چې ديودولت دايمي ديپلوماتيکي نمايندګي په بل دولت کې دمشخصووظايفو داجراء لپاره ددوه دولتونودمتقابل رضايت په اساس تاسيس کيږي نودا داسې مثال لري لکه يو دولت چې جسماً دبل دولت په خاوره کې شتون ولري، همدارنګه ديودولت دايمي ديپلوماتيکي نمايندګي په بين المللي سازمانونوکې هم تاسيس کيداى شي چې ددولتونو دديپلوماتيکي نمايندګيو تاسيس په بين المللي سازمانونوکې دجامعه ملل دسازمان دتشکيل څخه وروسته شروع کيږي .

دجامعه ملل سازمان دتشکيل څخه وروسته د٦٣ هيوادونو په شاوخوا کې دجامعه ملل عضويت واخيست اما په دې وخت کې د٥٨ څخه زياتوهيوادونو دنوموړي سازمان په جلساتو کې اشتراک ونه کړ، اماامريکا چې دجامعه ملل مبتکر اوتاسيس کوونکې ګڼل کيږي دسنامجلس دغړو دمخالفت په اساس هيڅ يې ونشوکولاى چې دجامعه ملل په سازمان کې خپله دايمي ديپلوماتيکي نمايندګي تاسيس کړي ،اما دملل متحد دسازمان په تشکيل سره ددولتونو دديپلوماتيکي نمايندګيو تعداد دجامعه ملل دسازمان دذکرشوې اندازې څخه ډيرپورته لاړ چې دغه ډول ماموريتونو دملل متحد په سازمان کې په مستقل ډول حضوردرلوده . (٦،ص١١٦-١٠٩)

## دريم مبحث _ دديپلوماتيکي نمايندګۍ ډولونه

ديودولت نمايندګي دبل دولت په وړاندې له نګاه دوضعې،صلاحيت اووظايفو چې اجراء کوي يې په څوډولونو ويشل کيږي .

### لمړى پراګراف _ دايمي ديپلوماتيکي نمايندګي

لکه څرنګه چې دنامه څخه يې معلوميږي په يوه خارجي هيواد کې دخپل متبوع هيواد سياسي اوديپلوماتيک روابط دمقيم هيواد سره په دايمي توګه ترتيب اوتنظيوي .

دايمي ديپلوماتيکي نمائندګي دبين المللي روابطودکنوانسيون په٢ ماده کې ذکرشوي چې (دوه دولتونه يود بل سره درضايت له مخې په خپل منځ کې ديپلوماتيک روابط برقراروي اوهمدرانګه دديپلوماتيکي نمايندګی د تاسيس لپاره هم اقدام کوي چې دوخت له حيثه دايمي بڼه لري) .

په پخوانيو پيړيوکې دوه دولتونو به د لازموتشريفاتود ترسره کولو وروسته دنمايندګی رئيس اواجزاء تعينول اود اقامت دقصد په خاطربه يې مقابل طرف ته ليږدول چې اصولاً دغه ډول نمايندګی دقبلونکی

دولت په پایتخت یا اداري مرکز کې ځای په ځای کیږي. (٦،ص١٤٤-١٤٣)

## دویم پراګراف _ مؤقت ماموریت

مؤقت دیپلوماتیک ماموریت هغه وخت دیودولت له خوابل دولت ته لیږدول کیږي چې اول دولت ددویم دولت په وړاندې کوم دایمي ماموریت ونه لري چې نوموړي مؤقت ماموریت د ځینو خاصو وظایفو دا جراء لپاره کوربه هیواد ته لیږدول کیږي. (٧،ص٤١-٤٠)

مؤقت دیپلوماتیک ماموریت د هغه ماموریت څخه عبارت دی چې په کوربه دولت کې په مؤقتي ډول سیاسي اړیکې ترتیب اوتنظیموي، یعنی دایوډول خارجي هیئتونه دي چې دیودولت څخه بل دولت ته دمعینواومشخصو اهدافودا جراء لپاره لیږدول کیږي ولې په هرصورت ترهغه چې سیاسي وظایف اجراء کوي دنوروډیپلوماتانوغوندې ددیپلوماتیکو مصؤنیتونو اوامتیاز څخه برخمن وي .

بعضې وخت کیدای شي څو هیوادونه یومشترک هیئت بل دولت ته ولیږي اوپه بعضې وختونوکې ددې عکس هم امکان لري لکه یو هیواد یو هیئت څوهیوادونو ته لیږدوي یعنی یوهیواد دخپل هیئت پواسطه په څو هیوادونو کې خپلې سیاسي اړیکې پرمخ بیایي. (٥،ص٦٠)

## دریم پراګراف _ دوه ګونی یاڅوګونی ماموریت

دوه ګونی یاڅوګونی ماموریت په حقیقت کې ددیپلوماتیکو مامورینو دکمبود یا د بودیجې دمصرف له کبله په نورو هیوادونوکې رامنځ ته کیږي.

دغه ډول نمایندګی ددوهم نړیوال جنګ اود جدیدالتاسیس دولتونو درامنځ ته کیدو وروسته معمول ګرځیدلی چې نن ورځ په دیپلوماتیک حقوقو کې د یوې عامې قاعدې تابع دی اودنو موړې قاعدې مطابق چې د١٩٦١م کال دکنګرې په ٥ ماده کې ذکر شوي اوهغه پدې ډول چې ٘ هغه هیوادونه چې دیوبل سره دیپلوماتیک روابط لري امادمختلفودلایلوپه بناء په دې ونه توانیږي چې دیپلوماتیکه نمایندګي تاسیس کړي، نوکولی شي چې د لیږدونکي دولت ترعنوان لاندې دڅوهیوادونو په وړاندې وروسته درسمي اعلان څخه دمربوطه وظایفو داجراء لپاره وګماري. (٢،ص٣٧٩-٣٧٨)

نوبناً دکنونسیون د٥ مادې په اساس دلیږونکي دولت نمایندګي په قبلونکي هیواد کې امکان لري چې د (Accredite) په صفت وجود ولري .

په حقیقت کې دغیرمقیم ماموریت څخه موخه داده چې رئیس هریو درې ګونودیپلوماتیکوطبقاتو څخه اویاد دیپلوماتیک اجزاؤ څخه خپل وظایف په قبلونکي هیواد

کې اجراء کوي غیرله دې چې رسماً په هغه هیواد کې مقیم وي بلکه دهغه داوسیدځای بل هیواد وي.
په عمل کې دولتونه عموماً دغیرمقیم نمایندګیود رئیسانو په موردکې لکه دمقیم یادیپلوماتیک نمایندګۍ رئیسانو په شکل رفتارکوي اومخکې درسمي اعلان اوانتصاب څخه ابتداً په مخفي شکل دهغه شخص لپاره چې ددوه ګوني یا څو ګوني ماموریت نامزد دې دقبلوونې تقاضا کوي اوهغه وخت دقبلونکي دولت دموافقې په صورت کې دغیرمقیم سفیر په نوم استوارنامه صادروي اودهغه انتصاب رسمي اعلانوي.
هغه تشریفات چې دغیرمقیم دیپلوماتیک نمایندګ لپاره داستوارنامې دتسلیم په وخت کې اجراء کیږي دا برابر دهغه سفیر دتشریفاتو سره دي چې په قبلونکي هیواد کې په دایمي شکل ماموریت کوي .
که چیرې لیږونکې دولت خپله نمائندګي د یویاڅو دولتونو په وړاندې دماموریت یورئیس ته محول کړي کولې شي چې هریودهغه دولتونوڅخه چې دماموریت رئیس هلته په دایمي شکل اقامت ونه لري یودیپلوماتیک ماموریت دیو مؤقت کاردار یا شارژدافیر ترنظرلاندې تاسیس کړي.
دلته دکاردار په موردکې دمؤقت کلمې ذکرکول په دې خاطر چې غیرمقیم سفیردنمایندګۍ درئیس په عنوان اصولاً دقبلونکي هیواد څخه په ترتیب لید نه کوي اوکاردار یواځې ددغې مؤقتي اداري نمایندګۍ دلیدنې څخه په یوه فاصله کې اداره کوي، په دې موردکې باید توجه وشي چې مؤقت کاردار دماموریت درئیس په توګه ونه شمیرل شي اوغیرله دې څخه مؤقت کاردار ددایمي کاردار هم ردیفه نه واقع کیږي.
په مؤقت کاردار باندې همیشه په دې موردکې دمؤقت اطلاق کیږي اګر چې په ټوله موده دماموریت کې په قبلونکي هیواد کې اقامت ولري.دنو موږې نمایندګۍ دتاسیس لپاره باید د قبلونکي هیواد موافقه موجود وي اګر که په کنوانسیون کې دهغې ذکر نه دی شوی ولې د ۵ مادې دروح اود نورو ډیرومواردو څخه استنباط کیږي .
(٦،ص١٤٧-١٤٤)

## څلورم پراګراف _ مشترکه دیپلوماتیکي نمایندګي

ددیپلوماتیکوروابطودکنوانسیون ٦ ماده په دې هکله داسې ذکر کوي (څودولتونه کولای شي چې یونفر دماموریت درئیس په توګه دبل دولت په وړاندې تعین کړي مګرداچې قبلونکې دولت ددې امر مخالف وي).
داپه هغه وخت کې امکان لري چې دوه یاڅودولتونه دیوسلسله روابطو او مشترکو منافعو درلودونکي وي او په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي اونوروبرخوکي نه جلا

کیدونکي وي چې وکولای شي په بین المللي صحنه کې دیو واحددولت په شکل عمل وکړي.
دنوموړې مادې مقررات په ماضي کې ښه صدق کاوه اودهغې ښه بیلګه داده چې دارجنټاین مشهور حقوقدان (شارل کالوو) د ۱۹م پیړی په دوهمه نیمایې کې نوموړی دارجنټاین اوپاراګوای سفیر په فرانسه کې وه.
په هر صورت که چیرې نوموړي موارد په اینده کې مخې ته راشي نواحتمالاً دهغې دلیل به یا په دولتي مصارفو کې سپماوي اویا داچې ددولتونو ادغام به په یوبل کې یونوی سیاسي واحد تشکیلوي، لکه څرنګه چې نوموړی احتمال د ارو پایې دولتونو په جامعه کې دامکان له مخې په نظر لیدل کیږي.(۲،ص۳۷۹)

## پنځم پراګراف _ دثالث هیواد دمنافعو ساتونکې نمایندګي

یوه دیپلوماتیکي نمایندګي امکان لري علاوه له هغو وظایفو څخه چې دمتبوع دولت له خوا یې په غاړه لري دثالث هیواد دمنافعوساتنه هم په قبلونکي هیواد کې په غاړه واخلي، داهغه مورد دې چې د دوو هیوادونو تر منځ دیپلوماتیک روابط تردې دمه برقرار شوي نه وي اویا دا چې دځینو دلایلوپه اساس دیپلوماتیک روابط په دائمي یاموقت ډول دتعطیل په حالت کې یاقطع شي او طرفین اویا یوطرف د مقابل طرف درضایت په جلبولوسره دخپلومنافعو ساتنه ثالث هیواد ته چې دوستانه روابط ورسره لري وسپاري ، دنوموړې نمایندګی وظیفه چې دثالث هیواد دمنافعو ساتنه کوي مؤقته بڼه لري.
معمولاً په هغه مواردوکې چې د دوؤ هیوادونو روابط عادي وي اودځینودلایلو په اساس نمایندګي دمحدود یا نامحدود وخت لپاره تعطیلوي ، نوپه دې صورت کې هغه دولت چې خپله دیپلوماتیکي نمایندګي بندوي کولی شي دخپلومنافعواو اتباعوساتنه دقبلونکي دولت په رضایت ثالث دولت ته چې په دې دولت کې نمایندګي لري وسپاري چې دکوانسیون د ٤٥ مادې دریم بند په دې موردکې داسې صراحت لري چې (لیږدونکې دولت کولای شي دخپلومنافعواواتباعوساتنه ثالث دولت ته چې دقبلونکي دولت لپاره دقبول وړوي وسپاري).
اما که چیرې دمنافعود ساتنې بر قرارول د شدیدو اختلافاتو یاعملیاتو په جریان کې وي نوپه دې صورت کې لیږدونکې دولت کولای شي دنمایندګی ځایونه اوهغه اموال چې هلته قرارلري دهغې ساتنه ثالث دولت ته چې دکوربه دولت دقبول وړوي وسپاري.
اوس که دواړه طرفه خپلې نمایندګی یود بل په وړاندې دتعطیل په حالت کې واچوي امکان لري طرفین واحددولت

دخپلومنافعود ساتنې لپاره تعین کړي او یاداچې هر یو ددولت څخه بل دولت ددې لپاره هدف وګرځوي .

په حقیقت کې نمایندګي په حقوق دیپلوماتیک کې د نوي تاسیساتو دمنافعو ساتونکي ده او احتمالاً د لومړي ځل لپاره په ۱۹۱۱م کال کې دعثمانیې او ایتالیا ترمنځ اختلا فاتوکې د المان دولت دهغوی دمنافعو ساتنه په غاړه واخیسته .

دمنافعود ساتنې دسیستم دبرقرارولو لپاره لاندې مراحل وجود لري .

اول _ لیږدونکې دولت دخپلومنافعو دساتنې لپاره دولت انتخابوي

دویم _ هغه دولت چې دمنافعود ساتنې لپاره په نظرکې ونیول شونوموړې پیشنهاد قبلوي

دریم _ قبلونکې دولت دنوموړي پیشنهاد دقبلولوسره بایدموافقه وکړي

معمولاً وروسته دروابطودقطع څخه یونفردلیږدونکي دولت دنمایندګی د غړو څخه په نوموړي محل کې باقي پاتې کیږي اودمنافعود ساتونکي دولت ترنظارت لاندې اجرات ترسره کوي اودمنافعوساتونکي نمایندګي دقبلونکي دولت دمقاماتوسره دنوموړي دولت واسطه ګڼل کیږي چې نوموړې شخص ددیپلوماتیکي امتیازاتوڅخه برخمن ګڼل کیږي . (٦،ص ١٤٨-١٥٢)

# دويم فصل

# دسياسي ديپلوماتيکي نمايندګۍ غړي

دسياسي ديپلوماتيکي نمايندګۍ غړي عبارت دهغه غړوڅخه دي چې دخپل متبوع دولت رسمي نماينده اود ديپلوماتيک مامورترعنوان لاندې په يوه خارجي دولت کې معين اومشخص وظايف په دايمي شکل ترسره کوي .

ديودولت ددايمي ديپلوماتيکي ماموريننومجموعې ته په بل دولت کې ديپلوماتيک هئيت ويل کيږي چې په سفارتخانه کې معين اومشخص وظايف ترسره کوي .(۲،ص۳۷۷)

دديپلو ماتيکي نمايندګۍ غړي عبارت د ديپلو ماتيکي نمايندګۍ رئيس،ديپلوماتيک کارکونکي، اداري اوتخنيکي کارکونکي اودنمايندګۍ دخدمې څخه.

اوس دسياسي ديپلوماتيکي نمايندګۍ غړي په دوه مبحثونوکې مطالعه کوو.

## لومړی مبحث _ دديپلوماتيکي نمايندګۍ رئيسان

دديپلوماتيکي نمايندګۍ رئيسان دکنوانسيون د١٤ مادې په اساس په درې طبقو تقسيم شوي .

لومړی پراګراف _ سفيران

دويم پراګراف _ مختار وزيران

دريم پراګراف _شارزدافير

اوس هريو له دې څخه په جلاجلا توګه مطالعه کوو .

### لومړي پراګراف _ سفيران

سفيران معمولاًدسفارتخانې په راس کې قرار لري چې دسفارتخانې لمړی شخص ګڼل کيږي ،اوغيرله دې څخه چې دسفارتخانې دداخلي اموراتومسئوليت په غاړه لري بلکه مؤظف وي ترڅوله يوې خوادمتبوع دولت سره اود بلې خوادقبلونکي ياکوربه دولت سره د دايمي اړيکو درلودونکر وي .(۲،ص۳۷۸)

باالعموم سفيران د متبوع هيواد درئيس دولت له خوا انتخابيږي .

مخکې له دې چې سفيرکوربه هيواد ته استخدام شي لومړی دکوربه هيوادڅخه قبولي اخيستل کيږي اودمتبوع هيواد د رئيس دولت له خوادکوربه هيواد رئيس ددولت ته معرفي کيږي اوسفيرته دمتبوع هيواد رئيس يوليک ورکوي چې اعتبارنامه يا (Credential Letter) بلل کيږي چې سفيريې دخاصوت شريفاتو له مخې دکوربه هيواد رئيس ددولت ته تسليموي .

ددوهم نړيوال جنګ ترپايه لويودولتونوبه يودبل پر وړاندې سفيران ليږدول اودکوچنيوهيوادونوپه وړاندې يادا که چيرې به نوموړي دولتونه دهغوی په وړاندې کم (حقير) په نظر راتلل نومختاروزيران به يې

ليږدول چې اكثراً ددوى څخه اروپايي دولتونه ول ،مګرتنها په يوموردكې چې د١٨١٥م كال دويانا دكنګرې څخه وروسته يوكوچني هيوادته سفيرچې دفرانسې دهيواد څخه دبلژيك هيوادته وه وليږدول شو چې نوموړې هيوادخپله د ويانا دكنګرې په اساس ايجادشوى،مګردوخت په تيريدو اكثره دمتوسطواوكوچنيوهيوادنو ترمنځ هم يودبل سره چې همسايه توب يې لاره داحترام په اساس په نوموړې سطحه كې نمايندګان تبادله كړل .(٧،ص٤٣)

د سفيرانوليږدول ديودولت څخه بل دولت ته ديوسلسله تشريفاتوغوښتونكي دي.

د١٨١٥م كال دويانا په كنګره كې نوموړې موضوع ذكرشوې امابياد١٩٦١م كال دويانا په كنګره كې په نوموړې مطلب تاكيد شوې چې دكنګرې د١٤ مادې دوهم بند داسې صراحت لري (د وړاندې والي اوتشريفاتوله نظره هيڅ نوع دطبقې له نګاه دنمايندګى درئيسانوترمنځ فرق وجود نه لري ) نوپه همدې اساس پخوا د سفيروړاندې والې په نورومختلفو طبقودنمايندګانو دتشريفاتو په حال كې چې يوه اختلافي مسئله وه له منځه لاړه.

ددو هم نړيوال جنګ پاى اودمـلل متحدد سازمان تاسيس كيدل او دويانا دكنګرې دانفاذ څخه وروسته چې دديپلوماتيكو روابطو په هكله وه بين المللي وضعې دبدلون احساس وكړ.

دكنوانسيون د١٤ مادې څخه داسې څرګنديږي څرنګه چې نن ورځ ددولتونو روابط كه څه هم كوچني وي اوياغټ د حد اقل د نظريې له مخې دمساوات په اساس دي نوپه همدې اساس بالعموم ټول هيوادونه دخپلوديپلوماتيكې نمايندګيو رئيسان دسفيرانوله قطارڅخه انتخابوي اود دوهمې اودريمې طبقې څخه دنمايندګانو ليږدول عملاً نن ورځ له منځه تللي اوله نوموړو طبقو څخه د نمايندګانو ليږدول ډير په نادراتو كې صورت نيسي.(٦،ص ١٥٨-١٥٩)

## دويم پراګراف _ مختاروزيران

وزيران يا (Ministers) چې پخوا په اروپا يا نوروقاروكې دهغه هيوادونود نمايندګانو څخه ګڼل كيدل چې نيمه قدرت يې درلود.(٦،ص١٦٢)

پخوا به مختاروزير چې د سفيرڅخه په ښكته درجه كې قرارلري كوچنيو ياكم اهميته هيوادونوته ليږدول كيدل ،امانن ورځ دا ترتيب له منځه تللى اويوائې دمختاروزير نوم په خپل ځاى پاتې اوبعضې دهيوادونوڅخه مختاروزير يوائې ددوهم شخص په عنوان ، وروسته دسفير څخه اويادهغه په غياب كې ټاكلي وظايف ترسره كوي .

هرکله چې مختاروزیر دنماینډګی درئیس په توګه تاکل کیږي باید د سفیر غوندي دمعرفت اواستوارنامې دتسلیم تشریفات اجراء شي. (۷،ص۳۷۹)

مختاروزیران چې دقبلونکي دولت په وړاندې ماموریت ترسره کوي اودسفیرانوغوندې استوارنامه لري چې دقبلونکي دولت رئیس جمهورته یې دتشریفاتو په حال کې تسلیموي اما په نظري لحاظ هغوی یواځې دخپل متبوع دولت نمایندګان دي اودخپل متبوع دولت درئیس جمهورنماینډګي د بل دولت درئیس په وړاندې نه لري نوپه همدې اساس نشي کولې چې په مستقیم ډول دقبلونکي دولت درئیسانوسره اړیکې ونیسي، اودهغوی ملاقات دمتبوع دولت دخارجه وزارت په واسطه دقبلونکي دولت دخارجه وزیرسره صورت نیسي .

څرنګه چې ذکرشول ددوهم نړیوال جنګ د پای اود نوي دولتونود رامنځ ته کیدو وروسته اوپه بین المللي روابطوکې دډیموکراسۍ دروحیې پیداکیدل اکثراً متوسطو اوکوچنیو دولتونود اقبوله نه کړه چې نمایندګان یې دلویودولتونوڅخه په ښکته درجه کې قرارولري بلکه دیپلوماتیک نمایندګان یې بایددسفارت په سطحه ولیږدول شي .

پخواوخت نمایندګی چې دهغوی په راس کې مختاروزیران وه لګاسیون (Legation) نومیدل د۱۹۶۱م کال په کنوانسیون کې د شرائطودتوجه په صورت کې بعضې دنماینډګانو پیشنهاد وکړ چې داطبقه (مختاروزیران) باید حذف شي و لې اکثریت د شرکت کوونکوڅخه د قدیمي اصولودساتنې اوهمدارنګه دموجودعرف دساتنې په خاطراوهغه نظم چې یونیم قرن وړاندې د۱۸۱۵ م کال ویانا په کنګره کې برقرارشوې قبول کړ. (۶،ص۱۶۲-۱۶۳)

دسفیراومختاروزیرفرق دادې چې سفیردمتبوع هیواددرئیس دولت له خوادمیزبان هیواد رئیس ددولت ته معرفي کیږي اودمتبوع هیواد رئیس ددولت ورته اعتبارلیک ورکوي امابرعکس مختاروزیرته دمتبوع هیوارخارجه وزارت اعتبار لیک ورکوي اودمتبوع هیواد دخارجه وزارت له خوادمیزبان هیوادخارجه وزارت ته معرفي کیږي اوددوهم شخص په حیث دقبول وړ ګرځي. (۵،ص۵۸_۵۹)

دریم پراګراف _ شارزدافیر (Charge daffaire)

شارزدافیردکنوانسیون د۱۴ مادې مطابق ددیپلوماتیکي نمایندګی ددریمې طبقې درئیسانوڅخه ګڼل کیږي خو بایدذکرکړواوهغه داچې دشارزدافیرڅخه زمونږمطلب دایمي شارزدافیر دې نه مؤقت .

شارزدافیرددولت یاددولت درئیس جمهورنماینده نه دی بلکه دقبلونکي دولت دخارجه وزیرپه وړاندي دمتبوع دولت دخارجه وزیر نماینده دی .

لکه څرنګه چې مخکې مو ذکرکړل شارزدافیردسفارتخانې دعمومي چارومسئول ته ویل کیږي اوپه سفارتخانه کې ددریم شخص په صفت چارې سرته رسوي اوورو سته د سفیراومختاروزیرڅخه دریم شخص بلل کیږي اودسفیرپه موجودیت کې خپلې دسفارت چارې پرمخ وړي ، خومعمولاً شارزدافیر په دوه مواردو کې په راس دسفارتخانې کې وظیفه ترسره کوي .

الف _ که یودولت ددې علاقمند وي چې دبل دولت سره روابط تنظیم کړي خو په اوله مرحله کې سفیرنه لیږدوي یعنی روابطو ته دومره انکشاف نه ورکوي بلکه شارزدافیرلیږدوي چې د سفارت په راس کې قرارنیسي اودسفارت چارې پرمخ وړي خوداشخص سفیرنه بلل کیږي .

ب _ یودولت په بل دولت کې هم سفارت خانه ، سفیر،مختاروزیراوهم شارزدافیرلري خوکله احیاناً ددغودولتونوترمنځ روابط خراب شي نوکه دولت وغواړي چې خپل روابط دمقابل دولت سره کم کړي نوسفیرخیل هیواد ته را غواړي ،همدارنګه مختاروزیرهم را غواړي اود غه روا بط دشارزدافیر سطحې ته راټیټوي نو په دې حالت کې شارزدافیردسفارتخانې په راس کې پاتې کیږي چې که چیرې ددغودولتونو روابط بیرته ښه شي نوامکان لري چې مختاروزیراو سفیربیرته ولیږدوي اوکه روابط نورهم خراب شول نوامکان شته چې سفارتخانه ټوله ونړول شي .

شارزدافیرسره له دې چې د سفیراومختاروزیر څخه په ښکته درجه کې قرارلري ولې بیاهم دنمایندګۍ درئیس ترعنوان لاندې دټولوامکاناتواوامتیازاتو څخه برخمن ګڼل کیږي ،ولې یواځې دتشریفاتوله نګاه د هغوی څخه وروسته قرارلري .

څرنګه چې ددوهم نړیوال جنګ ورسته د شارزدافیر تعدادکم شوې نوتقریباً ټول کوچني او لوی هیوادونه نن ورځ خپل نمایندګان د لومړۍ طبقې څخه چې سفیران دي انتخابوي .

دایمي شارزدافیر د نمایندګۍ رئیس اودکنوانسیون ١٤مادې ته شامل دی په داسې حال کې چې مؤقت شارزدافیر د ریاست مقام نه لري بلکې د رئیس لخوا د نمایندګۍ اداري کفالت په غاړه لري او دا کفالت همیشه موقته جنبه لري .

ددې لپاره چې ددایمي او مؤقت شارزدافیر تر منځ په فرق باندې ښه پوه شو نو لازمه ده چې مؤقت شارزدافیر په لاندې ډول ښه وڅیړو .

مؤقت شارزدافیر چې په خارجي ژبه کې ورته (charge daffaire par interim) ویل کیږي ددرې ګوني طبقې څخه چې د کنوانسیون په ١٤ماده کې د هغوی څخه ذکر شوې نه شمیرل کیږي .

مؤقت شارزدافیر چې د کنوانسیون ١٩مادې ته شامل دې داسي صراحت وجود لري (هرکله چې د نماینده‌ګی یا د ماموریت رئیس په دې و نه توانیږي چې خپل وظایف ترسره کړي معمولاً یومؤقت شارزدافیر دنماینده‌ګی درئیس تر عنوان لاندې د نماینده‌ګی ریاست په غاړه اخلي)، اصلاً مؤقت شارزدافیر د سفیر یادخارجه وزیرله خوادمختار وزیرانو څخه انتخابیږي او د قبلونکي دولت خارجه وزیرته یې معرفي کوي .

نن ورځ شارزدافیر غالباً مؤقت دی اما په دې سطحه کې د ددیپلوماتیکو روابطو ساتنه د یواوږد وخت لپاره په غیر معقول ډول، د بین المللي نزاکت خلاف کار دی .

دایمي شارزدافیردمؤقت شارزدافیر سره باید اشتباه نه کړو او ددې دواړو ترمنځ ځیني اختلافات وجود لري چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کوو .

اول _ دایمي شارزدافیر د ثابت ماموریت لرونکی دی په داسې حال کې چې د مؤقت شارزدافیر ماموریت د سفارت دادارې له نګاه محدود او مؤقت دې اګر که طولانې هم وي .

دویم _ دایمي شارزدافیرغیرد تقدم او تشریفاتو څخه د سفیرانو او مختار وزیرانو سره په یوه ردیف کې قرار لري او هیڅ نوع فرق د طبقې له نګاه د نماینده‌ګی‌درئیسانو تر منځ وجود نه لري ولې مؤقت شارزدافیر په هیڅ یومورد کې نشي کولای چې د نماینده‌ګی د رئیسانو په یوه ردیف کې قرار ونیسي اودتشریفاتوله نګاه هم دنماینده‌ګی درئیسانو په اخري صف کې قرار لري .

دریم _ دایمي شارزدافیردلیږونکي دولت دخارجه وزارت له خوا د قبلونکي دولت خارجه وزارت ته معرفي کیږي ولې مؤقت شارزدافیر د نماینده‌ګی درئیس له خوا ( سفیر،مختاروزیر یا دایمي شارزدفیر ) د هغه محل خارجه وزارت ته معرفي کیږي او یاداچې دلیږونکي دولت خارجه وزارت مؤقت شارزدافیر د قبلونکي دولت خارجه وزارت ته یې اعلانوي .

څلورم _ دایمي شارزدافیر خپله د نماینده‌ګی رئیس دی چې له خپل ځان څخه پورته مقام نه لري ترڅو د هغه جانشین واقع شي امامؤقت شارزدفیرکولای شي چې د سفیر یا مختار وزیر او یاداچې شارزدافیر په ځای د نماینده‌ګی اداري کفالت په غاړه واخلي .

پنځم _ دايمي شارژدافيربايدد پورته مقام چې د رايزن په حدودو کې وې درلودونکی وي ولې د مؤقت شارژدافير لپاره کوم قيد وجود نه لري او هر ديپلوماتيک غړې چې په هره درجه کې وي کولې شي د مؤقت شارژدافير ترعنوان لاندې وظيفه اجراء کړې .

دکنوانسيون د ١٩مادې ددوهم بند په اساس هغه داچې( په هغه صورت کې چې هيڅ يو دنمايندگۍد ديپلوماتيک غړو څخه په قبلونکي هيوادکې وجود ونه لري يو د اداري او تخنيکي غړو څخه کولې شي چې دليږونکي دولت څخه د قبلونکي دولت د رضايت په اساس د نمايندگی د جاري اموراتو اداره په غاړه واخلي) .
دلته دوه نقطي قابل د توضيح دي .

الف _ که چيرې کارکونکي دديپلوماتيکي ډلې څخه وي نوکافي ده چي د هغه نوم د قبلونکي هيواداړوند مقاماتو ته اعلان کړي په داسې حال کې چې د اداري او تخنيکي کارکونکي انتصاب د مؤقت شارژدافير په توگه لازم دی ترڅودقبلونکي دولت رضايت ترلاسه کړي .

ب _ که چيرې اداري او تخنيکي غړي چي د مؤقت شارژدافير تر عنوان لاندې معرفي کيږي يواځې کولای شي چې دنمايندگی جاري امورات ترسره کړي اونور اختيارات نه لري لکه د دوو هيوادونو په برخه کې د مذاکراتو حق نلر .

دکنوانسيون د ٥ مادې ددوهم بند په اساس ( مؤقت شارژدافير کولای شي يواځي په يوموردکې عملاًدنمايندگیدادارې دطولاني وخت لپاره اشغالونکي شي چې که چيرې دنمايندگی رئيس په قبلونکي هيوادکې داکرديته ياددوه گوني ماموريت په توگه وظيفه ترسره کړي اواصل اقامت يااوسيدنه يې په بل هيوادکې وې.(٦،ص ١٧٢-١٧٤)

## دويم مبحث _ دديپلوماتيکي نمايندگی اجزاء

دهغه وخت راهيسې چې ددوو هيوادونو روابط دنوعيت او کميت له نگاه مخ په زياتيدو ول نو طبعاً يوازې سفيريامختاروزيرنشوکولای چې د سفارتخانې ټول امورات په شخصي ډول تر سره او اداره کړي او ډير زر نورو غړو ته ضرورت پيداشو ترڅود ماموريت مختلف کارونه تر سره کړي او له هغه امکاناتو او امتياراتو څخه چې د سفير لپاره ورکړل شوي وي د هغو څخه برخورداره گڼل شوي دي او همدارنگه غيرله دې ډلي څخه سفير د نورو افرادو کومک ته هم ضرورت پيداکړ چې د هغه ددفتر کارونه تر سره کړي . ( ٧، ص ٥١ )

د ١٩٦١م کال کنوانسيون ليږدونکی يا متبوع دولت معمولاً د نمايندگی د غړو په انتخاب کې د قبلونکي

هیواد په وړاندې ازاد پریښي په استثناء د ځو محدودو اموراتو چي د قبلونکي دولت د رضایت اخستل لازم ګڼل شوی .

د کنوانسیون د ۸ مادې اول بند د نمایندګۍدافرادو په انتخاب او انتصاب کې چې کوم توصیه کړې هغه داده چې(ددیپلوماتیکي نمایندګې غړي باید د لیږونکي متبوع دولت تابعیت ولري )

د کنوانسیون د ۸۱ مادې دوهم بند داسې ذکرکوي چې(ددیپلوماتیکي نمایندګی غړي نشي کولای چې د قبلونکي دولت د رضایت څخه غیر د هغه دولت د اتباعو څخه څوک انتخاب کړي، قبلونکي دولت کولای شي چې هروخت وغواړي خپل رضایت بیرته واخلي ).

همدارنګه دا حق د ثالث دولت د اتباعو په مورد کې چې د لیږدونکي دولت تابعیت نه لري نوموړی حق د قبلونکي دولت لپاره محفوظ دی .

د ویاناپه کنوانسیون کې ددیپلوماتیکي نمایندګۍ اجزاء په درې برخو ویشل شوي .

لومړی پراګراف _ دیپلوماتیکي غړي

دویم پراګراف _ اداري او تخنیکې غړي

دریم پراګراف _ خدماتي غړي . (۵، ص ۱٦٦ )

## لومړی پراګراف _ دیپلوماتیکي غړي

ددې څخه مطلب هغه غړي دي چې د سفیر سره یو ځای په یوه دیپلوماتیکي نمایندګۍکې درئیس ترنظرلاندې وظیفه اجراء کوې او په هغه ټولو باندې ددیپلوماتانو اطلاق کیږي .(۷، ص ۵۱ )

ددیپلوماتیکي غړو د طبقه بندی په مورد کې مدون بین المللي مقررات وجود نه لري اماعرفي بین المللي حقوق چې په اوس وخت کې هم په خپل حال باقي پاتې داسې صراحت وجود لري چې ورسته د سفیر او مختار وزیر څخه دیپلوماتیک غړي د راجح والي او اولویت په اساس په لاندې ګروپونو تقسیم شوي :

رایزن ( لمړی درجه ، دوهمه درجه ، دریمه درجه ) ، دبیر ( اول ،دوهم ، دریم ) او بلاخره غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي .

که چیرې غیرسیاسي دیپلوماتیــــک غړي یا اړوند کسان دیپلوماتان وي نوددیپلوماتیک وابستګانو یا سیاسي دیپلوماتیک غړو د عنوان لرونکي ګڼل کیږي .

رایزن اوغیرسیاسي دیپلوماتیک غـــــړي یااړوندکسان امکان لري چې فرهنګي،اقتصادي او نظامي امورات هم ترسره کړي غیرله دې چې د خارجه وزارت ددیپلوماتیکي غړو څخه وي، نوموړي اشخاص ددیپلوماتیک مصؤنیتونو اوامتیازاتو څخه برخمن ګڼل کیږي. ( ۲،ص۳۸۰-۳۸۱ )

لازمه نه ده چې هره ديپلوماتيکي نمايندګي ياماموريت د پورته ذکرشوو غړو لرونکې وي اماپورته ذکرشوې ترتيب د ټولو هيوادونو په ديپلوماتيکي ماموريتونو کې رعايت کيږي . ( ۷ ، ص ۵۲ )

دکنوانسيون د۱۰ مادې داول بند په اساس ديپلوماتيک غړي په يوديپلوماتيک ماموريت کې معمولاً د نمايندګی د رئيس په نظر او د خارجه وزير په حکم صورت نيسي او نوموړي سلسه مراتب بايد تعقيب او د قبلونکي دولت خارجه وزارت ته بايد اعلان شي .

همدارنګه د کنوانسيون د ۱۱ مادې مطابق او هغه داچې ديپلوماتيک غړي په يو ماموريت کې د کار او سازمان د حجم او دسفارتخانې د تشکيلاتو په نظر کې نيولووروسته د قبلونکي دولت د موافقې په اساس ټاکل کيږي .( ۲ ، ص ۳۸۱ )

## دويم پراګراف _ اداري او تخنيکي غړي

داداري او تخنيکي غړو څخه په کنوانسيون کې کوم دقيق تعريف ندی شوی ولې د نامه څخه يې معلوميږي هغه اعضاؤ ته ويل کيږي چې معمولاً په کوربه هيواد کې د خپل دولت په نمانيدګی بعضې اداري او تخنيکي وظايف ترسره کوي لکه منشي،کمپوټرکار، ټايپيسټ او داسې نورالبته دې غړو ته ديپلوماتان نه ويل کيږي .(۵،ص۵۹)

نوموړي افرادمعمولاًدخارجه وزارت داداري اوتخنيکي غړوڅخه انتخابيږي( ۲ ،ص ۳۸۱ )

نوموړې ډله د خدمت ليک درلودونک وي اوددیپلوماتيکو روابطودکنوانسيون د مقرراتو مطابق له پراخه امتيازاتو څخه برخمن وي او داد هغوی دهغه مصروفيت په اساس چې د سفارتخانې ليکنو او اسنادو ته لاس رسی لري . ( ٦ ، ص ۱۷۰ )

## دريم پراګراف _ خدماتي غړي

د نمايندګی خدمه د هغه کسانو څخه عبارت دی چې د هغو وظيفه نه سياسې وي او نه اداري لکه د نمايندګی دموټر چلونکي، په خريداری باندې نظارت کونکي، د نومونو ثبت کونکي، اشپزان ، دروازه چي ،امنيتي کسان او داسې نور، همدارنګه نوموړي د نمايندګی اسرارو او اسنادو ته لاس رسی نه لري .

د نوموړی ډلې فرق د شخصي خدمتګارانو سره دادی چې د نمايندګی غړي د ليږونکي دولت څخه خپل حقوق لاسته راوړي او محدود امتيازات لري چې په کنوانسيون کې ذکر شوي، په داسې حال کې چې شخصي خدمت کونکي خپل حقوق د کار فرما څخه لاسته راوړي او هغه امتيازت چې

په کنوانسیون ورته په نظر کې نیول شوي ډیر ناچیز دي او که چیرې مختصر نور امتیازت ولري نو دابه د قبلونکي دولت پوري اړه ولري . ( ۷، ص ۱۳۰ )

## دریم مبحث _ غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي

غیردسیاسي دیپلوماتیک غړو څخه چې د خارجه وزارت کارکونکي دي د ددیپلوماتیکو غړو عنوان د نورو وزارت خانو نمایندګانو ته هم چې په دیپلوماتیکي نمایندګیکې کارکوي وړکړل شوی، د غیرسیاسي دیپلوماتیکو غړو تعداد محدود نه دی او د هیوادونو د روابطو په اساس سره فرق لري .

دمختلفو غیرسیاسي دیپلوماتیکو غړو له جملې څخه کولې شو د نظامي ، بحري، هوایې ، اقتصادي ، فرهنګې ، مطبوعاتې او داسې نورو مثال ذکرکړو ،مګر نوموړي غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي د وظایفو د اهمیت له مخې چې لري یې د رایزن عنوان پیداء کوي لکه فرهنګي رایزن یا مطبوعاتي رایزن او داسې نور .

د بین المللي روابطو د پراخوالي له نظره په اقتصادي، تخنیکي، فرهنګي او داسې نورو مختلفو برخو کې د نیم قرن په تیریدو د غیر سیاسي دیپلوماتیکو غړو تعداد په سیاسي نمایندګیو کې زیات شوی دی .

د وزارت خانو او مختلفو بین المللي سازمانو غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي اګر که د وزارت خارجه غړي نه دي مګرعملاً ددیپلوماتیکي نمانیدګۍ د غړو څخه شمیرل کیږي اود نمایندګۍ رئیس په هغوی باندې ریاست لري اود وظایفودنګاه، هغوی په حقیقت کې د خپلو وزارت خانو سره مستقیماً په تړاؤ کې دي خاصتاً نظامي ، سمندري، هوایې غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي نظر دهغوی په هغه مخفي اوسري وظایفو چې په کمه اندازه ددیپلوماتیکې نمایندګۍ سره په تړاؤکې وي .

هر دولت دغیرسیاسي دیپلومایتک غړو په اړه د مقرراتو په وضعه کولوکې ازادي لري. یوه موضوع باید ذکرکړو او هغه داچې د نمایندګۍ د اجزاؤ تعداد مشخص نه دی تعین شوې او دا د هیوادونو داړیکو په میزان،د هغوی په ضرورت او د هغوی په اهمیت پورې اړه لري او که چیرې د هغه معقول حد څخه تجاوز وکړي نو بیادطرفینو توافق لازم او ضروري دی . (٦ ، ص ١٦٨ -١٧٠ )

## څلورم مبحث _ دیپلوماتیک هئیت ( corp diplomatic)

په یوه هیواد کې د ټولو دیپلوماتیکي اعضاؤ مجموعې ته دیپلوماتیک هئیت یا کور دیپلوماتیک ویل کیږې چې ( corp) د یوه شي بدنې ته ویل کیږي که هغه د انسان وي او که د حیوان او (diplomatic) ددیپلوماتانو

مجموعه یا ددیپلوماتیکي اعضاؤ بدنه چې اختصاري شکل يې (C.D) دی . (٥ ،ص٦٠)
کوردیپلوماتیک د عام مفهوم له مخې علاوه ددیپلوماتیکي نمایندګی د هیئت د رئیسانو څخه، ټول ددیپلوماتیکي نمایندګی غړي چې د قبلونکي دولت له خوا قبول شوي وي خاصتاً مختار وزیران ، رایزنان ، دبیران او د سفارت تخصصي غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي خاصتاً نظامي،سمندري، هوایې غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي او د هغوی معاونین ته شاملیږي. ددیپلوماتیکي نمایندګیوغړي چې ددیپلوماتیک پاسپورت لرونکي وي دکور دیپلوماتیک غړي ګڼل کیږي او مستقیماً ددولت له خوا ورته دیپلوماتیک کارتونه ورکول کیږي. کور دیپلوماتیک د حقوقي شخصیت لرونکي نه دي او ددې مجاز هم ورته نشته چې د یو سیاسي سازمان په شکل عمل وکړي اما په تاریخ کې ددیپلوماتیک رفتار شواهد وجود لري چې کور دیپلوماتیک دغه حق خپل ځانته ورکړې چې په دلیز ډول د یو سازمان په شکل د مقیم دولت په وړاندې پورته شوي ولې دغه ډول اقداماتو حقوقي اساس نه درلود او یواځې د یو سیاسي خوځښت تر عنوان لاندې ګڼل کیږي. (٣ ، ص ٨٩-٩٠ )
معمولاً ددیپلوماتیکي تشریفاتو په لحاظ چې د کور دیپلوماتیک غړو په مجالسو کې اشتراک وکړي نوددې لپاره چې دیپلوماتیکي اداب مراعت شي نو ددې دیپلوماتیکي غړو لپاره یو مشر ټاکل کیږي چې هغه ته شیخ السفراء ویل کیږي او داهغه شخص تعین کیږي چې په هماغه اړوند هیواد کې یې ډیر وخت تیر کړی وي (قدیمي ترین شخص وي ) یعنې د ډیر وخت لپاره سفیر یا سیاسي نماینده پاتې شوې وي او بل کوم معیارته اعتبار نه ورکول کیږي او که شیخ السفراء فوت یا له منځه لاړ شي نو د هغه جانشین چې ډیر قدامت ولري تعین کیږي .(٥ ،ص٦١)

# دریم فصل

## دیپلوماتیکي مصؤنیتونه اوامتیازات

ددیپلوماتیکي مصؤنیتونواوامتیازاتو موضوع دعمومي بین المللي حقوقود مهمو موضوعاتوڅخه شمیرل کیږي چې په دیپلوماتیک حقوقو پورې اړه لري .(٧،ص٧٧)
که څه هم د یپلوماتیک مصؤنیتونه او امتیازات د عنوان له حیثه یو د بل سره یو ځای ذکر کیږي اما دحقوقي ماهیت له حیثه یو د بل سره کاملاً فرق لري. ( ٣ ، ص ١٣ )
دیپلوماتیک مامورین د ډیر پخواراهیسې په هر تمدن کې ددیپلوماتیکي مصؤنیتونو او امتیازاتو څخه خاصتاًد صلحې په وخت کې برخمن ګڼل شوي، چې تر ١٩٦١م

کال پورې اړونده مقرراتوعرفي بڼه درلوده اود ۱۹٦۱م کال د ویانا دکنګرې دانعقاد په اساس نوموړي مقررات مدون شول ،البته هیوادونو په خپلو داخلي قوانینو کې نوموړي مقررات ځای په ځای کړل .

هر کله چې دیپلوماتیک مامورین د لیږدونکي دولت له خوادقبلونکي دولت په قلمرو کې دیوسلسله عمومي خدماتو د اجراء لپاره مؤظف کیږي چې د ماموریت دترسره کولو لپاره د ځینودایمي استثنایي تضمیناتوڅخه یا حداقل د یو سلسله سهولتونو څخه برخمن ګڼل کیږي چې نوموړي تضميناتواوسهولتونوته دیپلوماتیک مصؤنیتونه او امتیازات ویل کیږي ،امادديپلوماتیک مصؤنیتونو اوامتیازاتوددوه جلا مفهومونو تر منځ باید په تفکیک قایل شو .

مصؤنیت په کلي ډول پدې معنا چې ددې حق لرونکی د قانوني تعقیب اود قبلونکي دولت دمامورینو څخه په امان کې وي یا په بل عبارت قانون اود قانون پلي کونکي نشي کولی چې دنوموړي حق درلودونکی تعقیب کړي، نو هرکله چې یو شخص دیو هیواد د قانون او مقرراتو څخه په امان کې وي نودیته دیپلوماتیک مصؤنیت ویل کیږي .

د مزایاؤ څخه مقصداديچې نوموړي شخص ته باید امتیازات ورکړل شي چې نور ډیر خلک د هغې څخه استفاده نشي کولی. ( ۲، ص ۳۸۳- ۳۸٤ )

همدارنګه مصؤنیت په حقیقت کې د ضرورت او د کاردمصلحت په اساس برقراریږي په داسې حال کې چې د مزایاؤد موجودیت فلسفه بین المللي نزاکت دی .

دیپلوماتیک مصؤنیت یوه عمومي او مروجه قاعده ده چې دداخلي قوانیو په اساس نشي کولای چې هغه نقض کړي اودهغې عدم رعایت د متخلف دولت لپاره حقوقي مسؤلیت ایجادوي په داسې حال کې چې د مزایاؤ برقرارول دداخلي قوانینو په اساس نه وي او د قراردادي حقوقو په اساس مخکې نه وي ایجاد شوي بلکه یواځې نزاکت او عرف دی او د هغې نه رعایت کول بین المللي مسؤلیت نه ایجادوي . (۳ ، ص ۱٤)

یوه خبره چې ددیپلوماتیک حقوقو په اکثرو کتابونو کې تکراریږي هغه داده چې د ډیرې پخوازماني راهیسې که چیرې به د دوو قبیلو تر منځ یا د دوو قومونو تر منځ جنګ صورت نیوه او یونفربه چې د یو طرف څخه بل طرف ته د صلحې لپاره وړاندې ورته تر څو پیغام ورسوي نو طبعاً چې مصؤنیت باید ولري تر څودصلحې پیغام ورسوي او په سلامتۍ سره بیرته راوګرځي اما غیر له دې څخه که چیرې به سفیرمړ شو او پیغام به یې ونه رسیده نو هیڅکله به هم نوموړوقومونو ترمنځ صلحه نه رامنځ ته کیده .

هغه امتيازات چې د ۱۹٦۱م كال په كنوانسيون كې دديپلوماتانو لپاره پيژندل شوي په حقيقت كې دنوموړومقرراتو منشاء صرف د بين المللي نزاكت دې چې له وړاندې موجود ول او ددولتونو ترمنځ په اړيكو كې په كم يا زياته اندازه مراعت كيدل .
د كنوانسيون د۲۹ مادې څخه تر۳٦ مادې پورې دمصؤنيتونو اوامتيازاتو لپاره تخصيص شوي چې دكنوانسيون غټ باب تشكيلوي .(٦ ، ص ۲۳۷-۲۳۸ )
ديپلوماتيک امتيازات لكه چې ويل كيږي يوديپلومات په كوربه يا په ثالثو هيوادونو كې د يو سلسله مزاياؤ څخه برخمن وي چې نور اشخاص بيا دامزايا او سهولتونه نه لري چې په ديپلوماتيكي امتيازاتوكې دتعقيب موضوع مطرح نه ده بلكه دلته امتيازات مطر ح دي، چې په ديپلوماتيكي مصؤنيتونواوامتيازاتو باندې د ښه پوهيدو لپاره لاندې مطالب په مفصل ډول مطالعه كوو. (٥ ،ص٦۱)

## لومړى مبحث – دديپلوماتيكي مصؤنيتونو او امتيازاتو منطق

دديپلوماتيک روابطود تاريخي څرګندونوڅخه داسې معلوميږي چې دولتونو په كلي توګه خارجي ديپلوماتانو ته د مصؤنيتونواو امتيازاتودقبلولو په برخه كې هيڅ وخت دزړه له كومې تمايل نه درلود،امابا وجود ددې عملاً په ټولو برخو كې دولتونودغه ډول مصؤنيتونه او امتيازات قبول كړي اومراعت كړي دي چې بالمقابل خپله يې هم له دغومصؤنيتونو اوامتيازاتو څخه استفاده كړې او مستفيد شوي . ( ۷ ، ص ۷۸ )
لكه څرنګه چې مخكې مو ذكركړل ديپلومات په كوربه هيواد كې وي اوكه د سفر په حال كې ديولړامتيازاتوامصونيتؤنو لرونكې وي ،نواوس يو سوال پيداكيږي چې ولې ديپلوماتان د مصؤنيتونو او امتيازاتو څخه برخمن ګڼل كيږي ؟
ځواب _ هغه اصل چې د نمايند ګانو مصؤنيت په هغې باندې استوار دى په حقيقت كې يو قديمي اصل دى چې د روم له حقوقو يې سرچينه اخيستې او هغه پدې ډول چې (برابر قومونه نشي كولى يو په بل باندې د حاكميت اعمال تر سره كړي) چې ددې اصل پر بناء، څرنګه چې دولتونه د مادي حاكميت درلودونكي دي نشي كولاى چې يود بل پر نمايندګانودحاكميت اعمال تر سره او خپل قوانين پرې تحميل كړي. (٦ ، ص ۲۳۸-۲۳۹ )
همدارنګه د كلي اصل پراساس ددولت حاكميت په هر شخص او شي چې دقلمروپه داخل كې وي تطبيق كيږي مګر نه په هغه صورت كې چې قانوناً مستثنا وي.( ۷، ص ۷۸)

ددیپلوماتیک مصؤنیت دمنطق په هکله علماؤ دري ډوله نظریات ورکړي چې دهغو څخه په لاندې ډول یادونه کوو .

## لومړی پراګراف _ ماورای سرحدي نظریه

دماورای سرحدي نظریه د قدیمي ترینو او پخوانیو نظریو څخه شمیرل کیږي چې د هوګوګروسیوس هالنډي حقوقدان له خوا چې د حقوقوپه پلار باندې مشهور دې په ۱۷م قرن کې وړاندې شوه او نوموړې نظریې د۲۰م قرن تر اوایلو پورې ډیر زیات طرفداران درلودل، ګروسیوس داسې ذکر کړل عام قانون دادې چې که هر څوک په یوه خارجي ځمکه کې وي نو دهماغې ځمکې د قانون تابع دی ولې ددولتونومشترک تفاهم په دې موردکې یوه استثناء قبوله کړې اوهغه دسفیرانوحالت دی.(٦ ، ص ٢٣٩-٢٤٠ )

ددې نظریې طرفداران په دې عقیده دي چې دیوهیواد سفارتخانه یا سیاسي نمایندګي په کوربه هیواد کې د حقوقوله نګاه داسې حکم لري لکه چې د اول هیوادڅخه یوه نقطه خاوره اخیستل شوي وي او په هغه بل هیواد کې ایښودل شوي وي ،یعنې د سفارتخانې محوطه د کوربه هیواد د قلمرو جز نه بلکې حکماً د متبوع دولت د قلمرو جز ګڼل کیږي، نو څرنګه چې داخاوره د متبوع دولت ده نو دا دولت ځانته قوانین لري اود خپل هیواد قوانین وربانډې تطبیق کوي نه د کوربه هیواد، دلته یو پرنسیپ وجود لري چې هغه د محلي صلاحیت د پرنسیپ په نوم یادیږي او دا پرنسیپ داسې ذکر کوي چې (د هر دولت قوانین په هغه افرادو باندې تطبیق کیږي چې د نوموړي هیواد په قلمرو کې واقعي یا مادي صورت نیولې وي) نو بناً که په دغه محوطه کې کوم جرم واقع کیږي نو میزبان هیواد وربانډې قوانین نشي تطبیق کولای . (٥،ص٦٢)

دنوموړې نظریې په اساس دیپلوماتیک مامورین په خپله ټوله موده دماموریت کې د هغه افرادو پشان دي چې خپل هیواد یې نه وي ترک کړی اود قبلونکي دولت د قلمروڅخه د باندې یا خارج حضور لري او خپل وظایف هلته اجراء کوي .

همدارنګه ددیپلوماتیکي نمایندګی ځایونه هم دغه ډول وضع او حالت لري او د لیږونکي دولت د قلمرو جز ګڼل کیږي .

نوموړې نظریه چې تر ډیر وخت پورې د بین المللي حقوقو په کنوانسیون کې د قبول وړوه په تدریج سره تر شدیدو انتقاداتو لاندې راغله او نن ورځ نوموړې نظریه قابل د قبول نه ده، چې نوموړي اعتراضات په لاندې ډول دي . (٢،ص٣٨٥)

اول _ هغه جرايم چې دسفيردکار په محل کې صورت نيسي نو که چيرې سفارتخانه جز د قلمرو د سفير د متبوع دولت وي نو په دې جرايمو باندې بايد د سفير د متبوع دولت قوانين تطبيق شي .

دويم _ که چيرې يومجرم جرم تر سره کړي اوترهغې ورسته دسفيرد کار محل يعنې سفارتخانې ته پناه راوړي نود نوموړي مجرم بيرته سپارل دهغه د متبوع دولت مقاماتو ته په حقيقت کې د استرداد تشريفاتو ته ضرورت پيداکوي، په داسې حال کې چې نوموړي شخص د خپل هيواد د قلمرو په داخل کې جرم کړی، نو په دې اساس نوموړې نظريه قابل د قبول نه ده .

دريم _ که چيرې ماشوم د خپل موراو پلار څخه چې دقبلونکي يا کوربه دولت تبعه وي په سفارتخانه کې وزيږيږي ،نو که چيرې سفارتخانه جزد قلمرو د سفير د متبوع دولت وګڼو نو مجبور دی تر څو دسفيردمتبوع دولت تابعيت تر لاسه کړي .

څلورم _که چيرې دانظريه قبوله کړو نو ديپلومات به د سفارتخانې څخه خارج مصؤنيت ونه لري، يعنې که چيرې ديپلومات په هر ځای کې وي ولو که د سفر په حالت کې هم وی د سفارت خانې څخه خارج جرم ترسره کړي نو دی به د نوموړي جرم په هکله د تعقيب لاندې نيول کيږي، په داسې حال کې چې مخکې مو وويل ديپلومات په هر ځای او مکان کې مصؤنيت لري نو که چيرې پورتنۍ نظريه قبوله کړو نو دابه د عامه پرنسيپ سره په ټکر کې واقع شي. ( ۷ ، ص ۸۲ )

## دويم پراګراف _ د نمايندګی نظريه

څرنګه چې سفيردخپل هيواد د رئيس دولت نماينده دی نو په دې اساس دهغه احتراماتو او امتيازاتو مستوجب ګڼل کيږي چې د هغو درلودونکې دی او همدارنګه د يو هيواد رئيس ددولت مستقل او د بل دولت دحاکميت او سلطې لاندې نه وي نو د هغه نمايندګان هم بايددقبلونکي ياکوربه دولت دحاکميت اوقوانينو تابع نه وي .(٦، ص ٢٤٣)

ددې نظريې له مخې ديپلوماتان ځکه د مصؤنيت لرونکي او تر تعقيب لاندې نه وي چې دوی د متبوع دولت نمايندګان او خپل هيواد تمثيلوي، نوبعضې علماء په دې عقيده دي، څرنګه چې دوی په کوربه هيواد کې خپل هيواد تمثيلوي نو که چيرې کوم جرم يا تخلف صورت نيسي نو دوی تابع د خپل متبوع هيواد د قوانينو وي په داسې حال کې که چيرې عادي افراد په کوربه هيواد کې اوسيږي اودکوم جرم مرتکب شي نو په دوی باندې دکوربه هيواد قوانين تطبيق کيږي ځکه چې دوی د خپل متبوع هيواد نمايندګي نه کوي او هغه نه تمثيلوي . (٥،ص٦٣)

دريم پراګراف _ دوظيفې داجراء د مصلحت يا ايجاباتو نظريه

که څه هم نوموړې نظريه يوه نوې نظريه نه ده بلکې د۲۰ قرن په اواخروکې يې زيات طرفداران پيداکړي،دنوموړې نظريې وړاندې کونکی دلومړي ځل لپاره امريک دوواتل( Emeric de vattel ) وه او نوموړې داسې ذکر کوي (بين المللي حقوق دولتونه مجبوروي ترڅو خارجي نمايندګان قبول کړي اوټول حقوق او امتيازات چې د هغه نمايندګانو لپاره لازم دي ورکړي تر څو خپل وظايف په ښه توګه ترسره کړي). ( ٦،ص٢٤٤ )

نن ورځ بعضې علماء په دې عقيد ه دي چې سياسي نمايندګان باالعموم په کوربه هيواد کې سياسي وظايف اجراء کوي اونوموړي وظايف په ډيرو اوقاتو کې ډيرحساس او باريک وي نو ددې لپاره چې دغه وظايف په ښه توګه ترسره شي نو د وظيفې ايجاب او مصلحت داده چې د يپلوماتان په کوربه هيواد کې او هم د لارې په اوږدو کې يا يې د سفر په حالت کې ( په ثالثو هيوادونو کې ) د خپلې د ستګيری او محاکمې څخه هيڅ نوع تشويش ونه لري تر څو خپل حساس وظايف په ښه توګه اجراء کړي ، ولې که ديپلومات ته د تقيب يامحاکمې اومجازاتو څخه په کوربه هيواد ياد لارې په هيوادونوکې ويره موجود وي نو امکان لري چې ديپلومات خپل دغه وظايف له دې ويرې چې مبادا محاکمه يا مجازات نشي، نو بيا به خپل وظايف نه اجراء کوي يا به يې په تاخير اجراء کوي او يا ددې احتمال هم شته چې که د متبوع او کوربه هيوادونو تر منځ سياسي مناسبات خراب شي نو امکان لري چې کوربه هيواد د متبوع هيواد څخه د غچ اخيستنې په خاطر د متبوع هيواد ديپلومات بې موجبه مجازات کړي، نو بناًددغه تشويش دلرې کيدوپه خاطر د سياسي نمايندګانو يعنې ديپلوماتانو لپاره مصؤنيت قبول شوی دی .

علاوه له دې دليل څخه ددې نقطې يادول هم ضروري ده چې بعضې علماء دادليل راوړي چې ديپلوماتيک مصؤنيت دا په حقيقت کې شخصاً دديپلومات د احترام په خاطر نه بلکې د کوربه هيواد د احترام په خاطر او د ښه نظر ښودل دي د ميلمه هيواد لپاره نوهرهغه څوک چې ميلمه هيواد تمثيلوي هغه ته مصؤنيت ورکوي (٥،ص٦٣)

د ١٩٦١م کال د ويانا کنوانسيون هم دغه نظريه قبوله کړې چې د نوموړي کنوانسيون په مقدمه کې داسې راغلي ( په اطمينان سره د مصؤنيتونو او مزاياؤ څخه هدف دا نه دی ترڅواشخاصوته تبارز ورکړ شي، بلکې هدف دديپلوماتيکي نمايندګيو د وظايفو اجراء ددولتونود نمايندګانو تر عنوان لاندې په حسن نيت سره ) .

ځرنګه چې لیدل کیږي په دې وخت کې دیپلوماتیک مصؤنیتونه اوامتیازات په صراحت سره دوظایفو د ښه اجراء لپاره تعین شوي نوپه دې اساس دوظایفوداجراء دمصلحت یا ایجاباتو نظریه تائید اودقبول وړ ګرځیدلې .

دذکروړده چې پخوادملل متحدسازمان د خپلو نمایندګانو په وړاندې په نورو هیوادونو کې چې دیپلوماتیک نمایندګانو ته نږدې حالت لري دملل متحد د منشور د ۱۰۵ مادې ددریم بند په اساس همدغه نظریه قبوله کړې چې دهغې په اساس د ملل متحددغړوهیوادونو نمایندګان او ددې سازمان کارکونکي د مصؤنیت او امتیازاتو درلودونکي دي .

## دویم مبحث _ ددیپلوماتیکي غړومصؤنیتونه اوامتیازات

ددیپلوماتیکي غړوامتیازات دهغه امتیازاتومجموعه ده چې دقبلونکي دولت له خوادنمایندګی غړوته ورکول کیږي ترڅو وکولای شي اړوند وظایف په سهولت اوبیدون له کوم مانع اجراء کړي.

ددیپلوماتیکي غړوامتیازات یوشان نه دي بلکه دهر غړي امتیازات دهغه په درجې اومقام پورې اړه لري .

ددیپلوماتیکوروابطو په کنوانسیون کي د ۲۹ مادې څخه تر۳٦ مادې پورې ټول موارد ددیپلوماتیکوغړودمصؤنیتونواوامتیازاتولپاره مختص شوي .

هغه دیپلوماتیک مامورین چې دقبلونکي دولت تبعه اویا په هغه هیواد کې دایمې اوسیدونکي وي یواځې دوظایفوداجراء په وخت دقضایې مصؤنیت څخه برخمن اودتعرض څخه مصؤن ګڼل کیږي .

قبلونکي دولت کولې شي چې په کنوانسیون کې دذکرشوو امتیازاتوڅخه غیرددیپلوماتیکوغړولپاره په نوروامتیازاتوقایل شي چې دهغې اساس به بین المللي نزاکت یابه ددواړوطرفونوځینې موافقتنامې وي .

اوس یوسوال مطرح کیږي اوهغه داچې کوم اشخاص ددیپلوماتیکي مصؤنیتونو څخه استفاده کولای شي ؟

ځواب_ دعمومي بین المللي حقوقودمقرراتومطابق لاندې اشخاص اصولاً دمتبوع هیوادڅخه خارج ددیپلوماتیکي مصؤنیتونواوامتیازاتوڅخه استفاده کولې شي .

۱- پادشاهان ،د هیوادونوجمهور رئیسان اودهغوی اړوند کسان

۲- دبین المللي دیوان قاضي ولوکه په متبوع هیوادکي هم وي

۳- دبین الدول سازمانونوغړي ولوکه په متبوع هیوادکې هم وي
٤-دبین الدول سازمانونو په وړاندې ددولتونونمایندګان
٥- دیپلوماتیک مامورین په دې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه یادهغه هیواد دایمې اوسیدونکې نه وي ، اماکه چیرې دقبلونکي دولت تبعه یادایمې او سیدونکې وي نویوائې دهغه دوظایفواړوند درسمي اعمالو په صورت کې دقضایې مصؤنیت لرونکې اودتعرض څخه دمصؤن ګڼل کیږي
٦- دیپلوماتیک قاصدان
۷- اداري اوتخنیکي غړي اودهغوی کورنۍ په دې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه اویادهغه هیواددایمې اوسیدونکې نه وي
۸- ددیپلوماتیک مامورینوکورنۍ په دې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه یادقبلونکي دولت دایمې اوسیدونکي نه وي
۹- دنمایندګۍ خدمه په دې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه یادهغه هیواد دایمې اوسیدونکي نه وي
۱۰- دنمایندګۍ دغړوشخصي خدمتګاران چې دقبلونکي دولت تبعه یادهغه هیواد دایمې اوسیدونکي نه وي هغه هم ترهغه حده چې دقبلونکي دولت لپاره دقبول وړ وي
۱۱- نور ډیرا شخاص چې دسیاسي ګذرنامې اویادسیاسي ویزې درلودونکي وي
نودغه ډول افراد اودهغوی کورنۍ دټولودیپلوماتیکي مصؤنیتونواو امتیازاتوڅخه برخمن ګڼل کیږي .(۲،ص ۳۹۱-۳۹۲)
بعضې وخت دولتونه یودبل سره دتوافق په اساس امکان لري دیپلوماتیک امتیازات دهغواشخاصو لپاره ورکړي چې دديپلوماسۍ سره اړیکه نه لري لکه نظامي مشاورین اویاهغه اشخاص چې دیودولت څخه بل دولت ته کومک لیږدوي .(٦،ص ۳۲٤)

## لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ دغړو مصؤنیت

دخارجي نمایندګانو (دیپلوماتانو) شخصي مصؤنیت دپخوا څخه په ټولوهیوادونو کې کم او زیات پیژندل شوی چې دیپلوماتیک مصؤنیت په قبلونکي هیواد کې دبرحاله او جاري قوانینو او مقرراتو څخه مافوق او لوړ وي .

مصؤنیت یو دپلومات ته په قبلونکي هیواد کې دجاري قوانینو او مقرراتو څخه مافوق او لوړ ځای ورکوي ،او هم دهغه هیواد دخارجي اتباعو څخه چې هلته اوسیږي ممتاز ګڼي.که چیرې مصؤنیت نه وي دیوې نمایندګۍ غړي نشي کولای چې په ازادۍ سره خپل وظایف اجراء کړي نو قبلونکی دولت باید حدالوس کوښښ وکړي

چې دهغوی سره ښه برخور وکړي او دهغوی دوظایفو داجراء مانع نشي.
دغړو مصؤنیت په اوله مرحله کې دنمایندګی رئیس او دپلوماتیک غړو ته دی چې دمصؤنیتونو او مذکراتو څخه برخمن ګڼل کیږي .
نور زیات دنمایندګی اجزاء دهغه شغل یعنې وظیفې په اساس چې لري یې دبعضې مصؤنیتونو څخه برخمن کیږي. ددپلوماتیک ماموړینو کورنۍ او دسفارتخانې اداري او تخنیکي کارکوونکي دمشخصو او ټاکلو امتیازاتو درلودونکي دي .
مصؤنیت مختلف ډولونه لري چې ددپلوماتیکو روابطو دکنوانسیون د۲۹ مادې څخه تر۳۱ مادې پورې د مصؤنیتونو په هکله ذکر شوي دي .(٦،ص ٣٢٧-٣٢٨)
لومړی جز – دشخصي مصؤنیت تاریخي سیر
لومړی قاعده چې ددپلوماسی په حقوقو کې منځ ته راغلې هغه د سفیرانو دمصؤنیت اصل دی ، د سفیرانو دمصؤنیت اصل د ضرورت په اساس دپخواني قومونو په وړاندې پیداشوې او اوس هم په خپل اعتبار پاتې .
په حقیقت کې قرنونه وړاندې دلیکوالانو او دبین المللي حقوقو دبنیادګذارانو څخه چې په ١٦ م قرن په اروپاکې یو په بل پسې راښکاره شول او په اسلام کې دقرانکریم،احادیث او سنت نبوي په اساس ځینې قواعد او مقررات دسفارت په برخه کې دسفیرانو دوظایفواو دهغوی په وړاندې درفتار په هکله رامنځ ته شول چې ځینې دایراني لیکوالانو څخه هغو ته متوجه شول.
جلالدین فارسي په خپل کتاب داسلام بین المللي حقوق چې په اسلام کې دبین المللي اړیکو ترعنوان لاندې دې داسې لیکي( دمسلمانانو مناسبات دسولې او ارامتیا په حالت کې دمعینو مقرراتو په وړاندې تابع دي) .
دحضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه و سلم رفتار دمسلمة کذاب لخوا دلیږدول شوي کسانو سره چې دلږ احترام وړ هم نه ؤ، په حقیقت کې دیو اساسي او بنسټیزي دپلوماسۍ بنسټ اېښودونکی دی چې نوموړو لیږدول شوو ډېر هغه مطالب په خپله خوله وویل چې دهرې جملې په اداء کولو سره دوی باید وژل شوي وی چې په حقیقت کې دوینې دتویولو څخه تېر شو او نوموړي ته یې داسې ذکر کړل ( په خدای (ج) څوګند که چېرې دلیږدول شوو او سفیرانو مرګ منع نه وی نو غاړه به مې دې پرېکړی وی.
دبین المللي حقوقو لومړي اروپایي لیکوالان چې دعرف او دبین المللي قضایي رویې پیدایښ ددپلوماتیکو حقوقو په برخه کې او خاصتاً دسفیرانو مصؤنیت دنن ورځې په مفهوم چې تاثیر یې دانکار وړ نه دی او

دهغوی نظریات او مطالعات دسفیرانو دمصؤنیت په برخه کې کم یا زیات هغه څه دي چې نن ورځ منل شوي او قبول شوي دي.
گروسیوس هالنډي حقوقدان په خپل معروف کتاب (جنگ او سوله) چې په ۱٦۲٥ م کال کې نشر شوی دسفیرانود حقوقو ،دهغوی ترتعرض لاندې نه راوستل او دهغوی داموالو په هکله یې ذکر کړی دې.
دبین المللي حقوقودلیکوالانو او بنیاد گذارانو په منځ کې اولین کس چې دسفارت دموضوع په هکله او دسفیرانو دمصؤنیت په هکله یې دحقوقو له نگاه وضاحت ورکړی هغه ابریکو جینتیلي ایتالیایي دی چې هغه په ۱۸۸٥ م کال کې یو کتاب دسفارت تر عنوان لاندې ( de legationbus) په لاتیني ژبه ولیکه، دنوموړي دسفارت په نامه دکتاب دلیکلو علت داوه، هغه توطیه چې دانگلستان دملکې الیزابت اول باندې صورت ونیوله او په نتیجه کې دملکې ماري استوارت دزنداني کېدو او تسلم کېدو باعث شوه.گمان داسې کېده چې دهسپانیا سفیر په انگلستان کې د( برناردنیو مندوزا) په نوم په نوموړې قضیه کې لاس لري نو بناً دنوموړي دمحاکمې او مجازاتو موضوع مطرح شوه ځرنگه چې په هغه وخت کې سفیرانو په بین المللي روابطو کې مشخصه او ثابته وضع نه درلوده او دهغوی مصؤنیت تر تردید لاندې وه نونوموړې موضوع جنتیلیس ته چې دپروتستان کیدو په سبب په هغه وخت کې دایتالیا څخه تښتیدلی ؤ او انگلستان ته مهاجر شوی ؤ اودقضاء له نگاه یې لوړ مقام درلود راجع کړه او له هغه څخه یې وغوښته چې خپل نظر په دې برخه کې چې ایا سفیر کیدای شي محاکمه او مجازات شي او که نه بیان کړي؟
هغه څه چې جنتیلیس ددې سوال په هکله وویل وروسته دیو کتاب په شکل چې په درې جلدونو کې ولیکل شو د(الگا سیونیوس) تر عنوان لاندې چې دهغې مځکې (دسفارت) په هکله نشر کړ چې نوموړي په دې کتاب کې دسفیرانو مصؤنیت دحقوقودنگاه توجیه او ذکر کړ.
بل اروپایي لیکوال دکرنیلیوس_وان_بنکر شوک په نوم د۱٦۷۳- ۱۷٤۱ م پورې چې دهالنډ څخه ؤ دسفارت په برخه کې د(دفارو لگاتوروم defaro legatorum) تر عنوان لاندې په لاتني ژبه یو کتاب ولیکه او هغه یې په ۱۷۲۱ م کال کې نشر کړ چې بنکر شوک په ابتداء کې قاضي ؤ او وروسته دلاهې داستناف دمحکمې رئیس شو دنوموړي دتوجه علت دسفارت موضوع ته داوه چې (کانت فلوز) هلشتاین ددولت نماینده چې دالمان دجز دولتونو څخه شمېرل کیده او دهالنډ ددولت په وړاندې یې ماموریت درلود چې دیو چا څخه یې قرضه اخیستي وه او بیا یې

هغه نه وه ورکړې او په نتیجه کې دا کارددې سبب شو چې هغه یې توقیف کړ او خبره محاکمې ته ووتله ، بینکر شوک پدې امر کې مطالعې ته مخه وکړه او په نتیجه کې یوکتاب ددپلوماتیک مصؤنیت اوامتیازاتو په هکله ولیکه دنو موړي کتاب لیکل ددپلوماتیک حقوقو دپې شرفت په برخه کې او د سفیرانو او دپلوماتانو دمصؤنیت دتعین په برخه کې مؤثر وګرځېده.

په وروسته قرنونو کې دحقوقو لیکوالانو په دې برخه کې خپلو تحقیقاتو ته ادامه ورکړه او دهغوی دنظریاتو څخه عرفي قواعد په بین الملي روابطوکې ددیپلوماتیک مصؤنیت په اړه پیدا شول .

د۱۹ م قرن څخه د۲۰ م قرن تر نیمایي پورې دیپلوماتیک حقوقو دامتیازاتو په برخه کې دلیکوالانو پواسطه په انفرادي توګه یا په حقوقي انجمنونو کې او یا ددولتونو په واسطه پې شرفت وکړ ولې دنو موړو قواعدو مجموعه روښانه نه وه ترڅو چې دویانا کنوانسیون ددیپلوماتیکو روابطو په هکله ،عرفي قواعد دشخصي مصؤنیت په هکله په یو قالب کې یوشان او روښانه یې تدوین کړل. (٦،ص۳۲۸-۳۳۱)

دویم جز _ ددیپلوماتیکو روابطو په کنوانسیون کې شخصي مصؤنیت

دیپلوماتیک مامورین په نمایندګیوکې ددې لپاره چې وکولای شي خپل وظایف په ښه ډول ترسره کړي باید شخصاً مصؤن وي او قبلونکی دولت ونشي کولای چې په هیڅ بها نه دهغه ازادي او هوساینه دخپل مامورینو په واسطه سلب کړي او علاوه له دې څخه قبلونکی دولت مؤظف دی ترڅو دخلکو دتعرض څخه ددپلومات دازادی او حیثیت ساتنه وکړي.

څرنګه چې وویل شول ددیپلو مات شخصي مصؤنیت دحقوقو د نګاه دوه جنبې لري یو داچې دقبلونکې دولت وظیفه ددیپلوماتانو دازادی په ساتنه او دهغوی په احترام کې او دوهم داچې دقبلونکي دولت تعهد دشخص په ساتنه، ازادی او ددیپلوماتانو په حیثیت کې دخپلو اتباعو او اوسېدونکو په وړاندې .

نوموړې دوه جنبې ددیپلومات د شخصي مصؤنیت په هکله څرنګه چې مخکې ذکر شول دوخت او زمان په تېرېدو ددولتونو ترمنځ په روابطو کې دعرفي قواعدو په شکل قبول شول ، ددیپلوماتیکو روابطو کنوانسیون دشخصي مصؤنیت دوه جنبې په ۲۹ ماده کې داسې ذکر کړي دي (دیپلوماتیک مامور شخصاً مصؤن دی او نشي کولای چې هغه په هیڅ عنوان توقیف یا بندي کړي، قبلونکې دولت باید دهغه په وړاندې احترامانه رفتار چې دهغه دشان سره مناسب وي او هغه لازم اقدامات باید ترسره کړي ترڅو

که چیرې په هغه یادهغه په ازادی اویادهغه په حیثیت باندې کوم اعتراضات او الزامات واردیږي دهغه څخه مخنیوی وکړي).

ټول دیپلوماتیک مامورین او دهغوی دکورنی غړي په دې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه یا دایمي اوسیدونکي نه وي دشخصي مصؤنیت څخه برخمن ګڼل کیږ ي، هغه هیواد چې دیوې دیپلوماتیکي نمایندګی برقرارول قبلوي مجبور دی ترڅو دذکر شوو دیپلوماتیکوغړو او دهغوی دکورنی دغړو دشدیدو اعمالو په مقابل کې چې دهرې منبع څخه وي او دحملې او تعرض څخه دهغوی په حیثیت او ازادی باندې چې وي تضمین ورکړي .(۸،ص۹۰)

نوموړې دوه جنبې ددیپلوماتانو دشخصي مصؤنیت په هکله په دوه فقرو کې ترمطالعې لاندې نیسو.

لومړی فقره – په دیپلوماتیکي مامورینو تعرض نه کول

په بین المللي اصطلاح کې دامصؤنیت دیو شخص دحرمت په معنی سره دی او دیو شخص حرمت په حقیقت کې دیو شخص دازادی او دهغوی دحقوقو عدم نقض کول دي،مګر دغه حرمتونه یواځې په دیپلوماتانو پورې منحصر نه دي بلکه په هر ډموکراتیک رژیم کې هر یو شخص ددې حرمت څخه داساسي قانون په اساس برخمن دی .(۳،ص۱۷)

هغه فرق چې دعمومي خلکو حرمت ددیپلوماتانو دحرمت څخه جدا کوي هغه دادی چې دخصوصي خلکو حرمت په ځینو خاصو حالاتو کې دقانون په واسطه امکان لري سلب شي په داسې حال کې چې دپلومات شخص حرمت دنقض وړ نه دی او هیڅ یو داخلي قانون نه شي کولای چې دهغه خلاف مقررات وکړي.(۷،ص۸۷)

لکه دایران په اساسي قانون کې داسې ذکر شوي( دخلکو حیثیت ، ځان ، مال،حقوق ، ځای او دهغوی شغل یا پېشه دتعرض څخه مصؤن دي مګر په هغه موردکې چې قانون ذکر کړي وي).

نوموړی مطلب ددیپلوماتیکو روابطو دکنوانسیون په ۲۹ ماده کې داسې ذکر شوی (دیپلوماتیک مامور مصؤن دی او نه شي کولای چې هغه په هیڅ عنوان توقیف یا بندي کړي).

په حقیقت کې دکنفرانس دمذاکراتو،مباحثاتو او اظهاراتو څخه داسې معلومیږي چې داکثرو دولتونو نمایندګان ددې اصل لپاره ځینې استثنات پېشنهادکړل چې دهغې له جملې څخه وخیم جنایات او مشهود جنایات ،مشروع دفاع، دقبلونکي دولت دامنیت داخلال لپاره توطئه جوړول ، دعمومي نظم درهم برهم کول ، دقبلونکې حکومت پر ضد مظاهراتو کې ګډون کول او داسې نور مثالونه مګر هیڅ یو دپېشنهاداتو څخه کومه متفقه رایه ترلاسه نه کړه او دمصؤنیت اصل غیر داستثناتو

ځخه په مطلق ډول ذکر شوی، ولې دولتونه په خپل تشخیص کې ازاد دي.

داستثناتو په برخه کې دنه توافق اصلي لامل دشخصي مصؤنیت په اصل باندې داوو چې احتمال داسې کیده چې قبلونکې دولت په هغه مواردو کې چې دصحنو په ایجاد سره مثلاً دموټرو ټکر یا دممنوعه موادو اېښودل ددیپلوماتیک مامور په مسکن په مختلفو طریقو چې داستثناء سره تړل شوي او یانادرست اتهامات وارد کړي او دهغې په سبب ددیپلومات دوضعې دتغیر باعث شي او هغه دوظیفې د اجراء ځخه لرې کړي په، همدې اساس مصلحت ولیدل شو اونوموړي پشنهادات همداسې پاتې شول (٦،ص٣٣٢-٣٣٤)

دویمه فقره _ ددیپلوماتیک مامورینو ساتنه او دهغوی ځخه حمایت

قبلونکی دولت متعهددی چې د٢٩ مادې داخرې جملې په اساس(هغه لازم اقدامات باید ترسره کړي چې په دیپلومات شخص ، دهغه په ازادئ او شخصیت باندې چې کوم اتهامات وارد کیږي دهغه ځخه مخنیوې وکړي) ، په حقیقت کې نو موړی تعهد ددیپلوماتیکو روابطو په کنوانسیون کې قبول شوی او په دې هکله دوه ډوله وظایف قبلونکي دولت ته په غاړه اچول کیږي یوه وظیفه یې داده چې ددیپلوماتیک مامورینو ځخه حفاظت ددې لپاره ترځو په دیپلومات ،دهغه په ازادئ او حیثیت باندې کوم داغ او اتهام وارد نه شي ، بله دنده یې ددپلوماتیکو مامورینو ځخه حمایت دی په هغه صورت کې چې هغوی داسې حالت ته ورسیږي چې په خپله په هغوی باندې اتهام واردیږي یاد ازادئ دلاسه ورکولو په حالت کې وي او یاداچې دهغه حیثیت ته صدمه رسیږي.اوس ددیپلوماتیک مامورینو ځینې نور مصؤنیتونه چې په کنوانسیون کې ذکرشوي دهغو ځخه په لاندې ډول یادونه کوو .

اول _ ددیپلوماتیک مامورینو داوسیدو دځای مصؤنیت

ددیپلوماتیکو مامورینو،اداري او تخنیکي غړو داوسیدو ځای لکه دنمایندګئ دمقرپه شان دمصؤنیت ځخه برخورداره دي، دکنوانسیون ٣٠ ماده داسې ذکر کوي چې( ددیپلوماتیک مامور خصوصي داوسیدو ځای لکه دنمایندګئ دمقر په شان مصؤن او دحمایت وړ دی) ، همدارنګه نوموړی مصؤنیت داداري او تخنیکي غړو داوسېدو ځای ته هم شامل دی نو بناً د٣٧ مادې ددوهم بند په اساس (دنمایندګئ اداري او تخنیکي غړي او همدرانګه دهغوی اړوند کسان چې دهغوی دکورنئ اهل دي پدې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه او یا دهغه هیواد دایمي اوسېدونکي نه وي نو دهغه مصؤنیتونو او امتیازاتو ځخه چې د٢٩ مادې ځخه تر٣٦ مادې پورې ذکر

شوي برخمن ګنل کیږي) پس هغوی د۳۰ مادې داول بندشامل ګنل کیږي او دهغوی داوسېدو ځای مصؤن دی ، دنمایندګی داجزاو داوسېدو دځای په هکله یو څو نقطې په لاندې ډول ذکرکوو .

الف _ په حقیقت کې دنمایندګی دمقر مصؤنیت مستقیماً دلیږدونکي دولت پورې منسوب دی په داسې حال کې چې دغړو داوسېدو دځای مصؤنیت دهغه اشخاصو پورې اړه لري او دا شخصي مصؤنیت یا دوظایفو داجراء لپاره دی، دقبلونکي دولت ماموروین دنمایندګی مقر ته دداخلیدو په وخت دنمایندګی درئیس اجازې ته اړ دي ولې دډیپلوماتیک اواداري غړو داوسیدو ځای ته دداخلیدو په هکله په کنوانسیون کې کوم صراحت وجود نه لري مګر دا باید ذکر شي چې دنمایندګی درئیس اجازه لازمه ګنل کیږي.

بعضې دلیکوالانو څخه داسې ذکر کوي چې دډیپلوماتیک غړي اجازه چې هلته اوسیږي بسنه کوي، ولې باید ذکر کړو چې مصؤنیت په ډیپلوماتیک غړي پورې اړه نه لري بلکې په لیږدونکي دولت پورې اړه لري او دډیپلو ماتیکي نمایندګی رئیس چې ددولت استازی دی کولای شي نوموړې اجازه صادر کړي.

ب _ یوه نقطه چې دبین المللي حقوقو په کنوانسیون کې دکنوانسیون دطرحې دتهیه کولو په وخت کې دتوجه وړ وګنل شوه داوه چې دډیپلوماتیک غړو داوسېدو ځای مصؤنیت لري ام که چیرې نوموړي ددوه یا څوداوسېدو دځای درلودونکي وي نو ایا دا ټول داوسېدو ځایونه به دمصؤنیت لرونکي وي او که نه؟

ځواب به داوي چې مذاکرات او مباحثات په دې هکله کومې نتیجې ته ونه رسېدل نوباید داسې وویل شي چې که چیرې نوموړي غړي دنوموړي محل څخه دسکونت په توګه استفاده نه کوي او یا بل شخص په خپل ځای کې داوسیدو لپاره اچوي اګر که نوموړی داوسېدو ځای دنوموړي دیپلوماتیک غړي په نامه هم وي نو دهغه مصؤنیت له منځه ځي.

ج _ دنمایندګی داجزاؤ داوسېدو ځای چې دمصؤنیت درلودونکی دی دمالیاتو دورکړې څخه معاف دی په هغه صورت کې چې دلیږدونکي دولت لخوا دډیپلوماتیک مامور داوسېدو لپاره اخیستل شوی یا اجاره شوی وي.

د _ دنمایندګی دغړو داوسېدوځای لکه دنمایندګی دمقر په شان باید داسې استفاده ورڅخه وکړي چې دنمایندګی دوظایفو سره په مغایرت کې واقع نه شي. (٦،ص٣٤٤-٣٤٦)

دویم _ دډیپلوماتیکو مامورینو داموالو مصؤنیت

دډیپلوماتیک مامورینو اموال دمصؤنیت لرونکي دي ولې دهغه قیودو له مخې چې په هغو باندې وارد شوي دي

، د۳۱ مادې دریم بند ددیپلوماتیک مامورینو داموالو په هکله درې موارد (قضایي ، مدني او اداري) د مصؤنیت څخه مستثنا کړي دي .

الف – دقبلونکي دولت په قلمروکې غیر منقول خصوصي اموال

ب _ هغه اموال چې دګټه اخیستونکو فعالیتونو څخه په قبلونکي دولت کې ترلاسه شوي وي او دهغه په اداري وظایفو پورې کومه اړه ونه لري.

ج _ په قبلونکي دولت کې موروثي اموال چې دیپلوماتیک مامور په هغه کې ذینفع وي.

په دغه مواردو کې دقضایي محاکمو احکام قابل داجراء دي مګر په دې شرط چې دشخص مصؤنیت او ددیپلوماتیک مامور داوسېدو ځای ته کوم داغ یا اتهام وارد نه کړي ، په دې برخه کې یو څو نقطې قابل دذکر دي

۱_ ددیپلوماتیک مامور په هکله چې کوم اموال په کنوانسیون کې ذکر شوي دي دا مهمه نه ده چې هغه به حتماً دهغه داوسېدو په ځای کې وي بلکه موټر، بانکي حساب او نور وسایل چې دهغه په ژوند پورې اړه ولري داټول دهغه داموالو دجملې څخه ګڼل کیږي او دمصؤنیت درلودونکي دي.

۲_ هغه شیان چې ګمرک ته واردیږي که هغه بعضې دژوندانه لوازم وي اویا خوراکي مواد وي داموالو څخه شمېرل کیږي او دمصؤنیت درلودونکي دي. (۸،ص۹۲)

۳_ دنمایندګۍ غړي دماموریت په پای کې کولای شي چې اموال او اثاثیه دوتلو په وخت یا وروسته له هغې دخارج څخه واردکړي اویایې د خپل ځان سره وباسي او همدارنګه هغه اموال چې دخپلو حقوقو سره یوځای په قبلونکي دولت کې ترلاسه کړي وي باید دنوموړي اموالو لپاره دګمرک څخه رخصت واخلي مګر نه هغه شیان چې دقبلونکي دولت دقوانینو له مخې منع وي لکه هنري اثاریا قیمتي داني چې ملي ثروت ګڼل کیږي.

ددیپلوماتیکو مامورینو داموالو مصؤنیت په دې اساس چې له یوې خوا شخصي مصؤنیت او له بلې خوا دهغوی داوسېدو ځای هم مصؤنیت لري نو دهغوی اموال هم د مصؤنیت لرونکي دي، اما دقونسلي مامورینو په موردکې لکه څرنګه چې دهغوی داوسېدو ځای مصؤنیت نه لري نو دهغوی اموال هم مصؤنیت نه لري او دقضایي حکم دصدور په صورت کې مامورین دحکم داجراء حق داموالو په تفتیش او توقیف کې لري. (۹،ص۳۴۷-۳۴۹)

دریم – ددیپلوماتیک مامورینو داسنادو او لیکنو مصؤنیت

ددیپلوماتیک مامورینو اسناد او لیکنې د مصؤنیت درلودونکي دي ، په دیپلوماتیکي او قنسولي کنوانسیونونو کې د اسنادو او لیکنو څخه تعریف ندی شوی، ولې د دیپلوماتیک کنوانسیون د ۲۷ مادې په دوهم بند کې رسمي لیکنې داسې تعریف شوي (د نمایندګی رسمي لیکنې د مصؤنیت لرونکي دي ،د رسمي لیکنو اصطلاح په ټولو هغه لیکنوبا ندې چې په نمایندګی او د هغه د وظایفو په اجرا پورې اړه ولري اطلاق کیږي). (۸، ص ۹۲)

د لیږدونکي دولت د لیکنو اود رسمي او غیر رسمي اسنادو مصؤنیت چې له خارج څخه دیپلوماتیکي نمایندګی ته رسیږي ،یا له دیپلوماتیکي نمایندګی څخه خارج ته لیږدول کیږي چې دولتونه د خپلو پټو اومخفي اسنادو په خاطر او اصولاً هغه اقدامات چې په خپلو اړیکو کې د نورو دولتونو سره کوي دغه مصؤنیت لازم ګڼي .

پخوا وخت ددې مصؤنیت د تامین لپاره نوموړې لیکنې اواسناد به یې مخصوص پیک ته لیږدول ، او هغه به ددیپلومات په شان تر هغه چې د سفارت پوست یې په غاړه درلود د تعقیب او نیولو څخه مصؤن وه چې دغه پخوانی رسم تر اوسه پورې له منځه نه ده تللی ، چې اوس هم بعضې دولتونه د خپلو سفارتخانو سره په ارتباط کې د مخصوص پیک څخه استفاده کوي چې هغه ته دیپلوماتیک پیک (Courier Diplomatique) ویل کیږي ، او د کنوانسیون د ۲۷ مادې په اساس د هغه مصؤنیت یې څیړلی دی .

که چېرې خارجه وزیر د خپل متبوع دولت څخه خارج وي نو په دې صورت کې که چېرې مراسلات دده او د هغه ددولت د سفارت ترمنځ چې په مختلفو دولتونوکې وي دمصؤنیت څخه برخمن نه ګڼل کیږي .

سفارت کولی شي د هرې ارتباطي وسیلې څخه چې امکان د استفادې وي استفاده وکړي چې نن ورځ بعضې ددولتونو څخه د دیپلوماتیک پیک په ځای د مخصوصو طیاروڅخه استفاده کوي .

څرنګه چې ددیپلوماتیک پیک مصؤنیت د دیپلوماتیک پوست د رسولو پر اساس وي نو هر کله چې دغه حواله ورسوي او نور دغه وظیفه په غاړه ونه لري نو مصونیت یې هم له منځه ځي .( ۷،ص ۹۲-۹٤)

اداري او تخنیکي غړي د کنوانسیون د ۳۷ مادي په اساس ددیپلوماتیک مامورینوپه شان اسناد او لیکنې یې د مصؤنیت درلودونکي دي همدارنګه د نمایندګی د غړو د اسنادو او لیکنو مصؤنیت د قبلوونکي دولت تر پرېښودو یا د روابطو د قطع تر وخت پورې ادامه پیداکوي .

همدارنګه هر کله چې د نمايندګی غړي د کوم ثالث هېواد څخه تيريږي نو ثالث دولت مکلف دی تر څو د هغوی د اسنادو او ليکنو مصؤنيت مراعت کړي . (٧،ص٩٢)

همدارنګه هر کله چې ددغه امتيازاتو په مقابل کې ديپلوماتيکي ، اداري او تخنيکي غړو ته مصؤنيت ورکړل شوی نو هغوی مکلف دي چې د کنوانسيون د ٤١مادې د اول بند مطابق د خپل مصؤنيت څخه دداسې اسنادو په جمع کولو کې چې په قبلوونکي دولت باندې يا داسې ليکنې چې د هغې لارې د قبلوونکي دولت لپاره توطيه جوړه کړي يا کودتا وکړي ترڅو حکومت راپرځوي بايد استفاده ونکړي ،همدارنګه بايد ذکرکړو چې د قونسلي مامورينو د اسنادو او ليکنو په هکله په کنوانسيون کې کوم صراحت وجود نلري .( ٦،ص ٣٥٠-٣٥١)

څلورم _ قضايي مصؤنيت

قضايي مصؤنيت پدې معنی چې يو ديپلومات په کوربه هېواد يا د لارې په هېوادونو کې (ثالث هېوادونوکې ) مرتکب د کوم جرم وګرځي نوددغه جرم په مقابل کې هم په کوربه هېواداوهم دلارې په هېوادونو کې مصونيت لري ،او د هيڅ نوع عدلي او قضايي مقاماتود نظارت او تعقيب لاندې نه راځي،يعنې عدلي اوقضايي مقامات نشي کولی چې د يوه مدني يا جزايي تخلف په مقابل کې ديپلومات تعقيب کړي.(٥،ص٦٥)

يعنې دقضايي مصؤنيت مفهوم په دې ډول چې قبلونکې دولت نشي کولې ديپلوماتيک مامور محکمې ته کش کړي يايې وغواړي يايې محاکمه کړي يا شهادت ته يې وغواړي اوکه چېرې محکمه بيا هم پرهغه باندې حکم صادر کړي نو نشي کولی چې هغه اجراء کړي يعنې دديپلومات مصؤنيت د تعقيب څخه پدې معنی چې محکمه نشي کولی خپل صلاحيت د هغه په مقابل کې عملي کړي .

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول دا په حقيقت کې د يو عادي فرد دوضع خلاف ګڼل کيږي، چې د قبلوونکي دولت د قوانينو مطابق که چېرې عادي فرد د يو جرم مرتکب شي نوکولی شي چې هغه محاکمه کړي او شهادت هم ترينه وغواړي اوکه چېرې محکمې حکم پرې صادر کړی وي نو هغه قابل د اجراء هم دی .

په حقيقت کې ددغه تبعيض دليل چې ديپلوماتيک غړي يې په کوربه هېواد کې د نورو افرادو څخه لري څه دی ؟

په حقيقت کې ديپلوماتيک مامور د خپل متبوع دولت د نماينده په توګه بايد وکولی شي غيرله دې څخه چې نومونړی د اتهام يا تهديد لاندې وي يادروحي فشار لاندې راوستل شي خپل وظايف په ارامی اوسوکالی سره ترسره کيږي . (٦،ص ٣٥١-٣٥٢)

یعنې قضايي مصؤنیت د استقلال اوازادی په خاطر د ديپلوماتیک ماموریـنو عمل د اړونده بین المللي حقوقو د وظایفو د اجراء لپاره په قبلوونکي هېواد کې قضايي مصؤنیت ورکړل شوی دی . (۱،ص۳۸۸)

که چېرې دیپلوماتیک مامور قضايي مصؤنیت نه درلود نو هر وخت به ددې امکان وای چې د قبلوونکي دولت مقامات او یاځینې عادي افراد داتهاماتو په واردکولو او یادتهدید لاندې راوستلو په صورت کې به هغوی دخپلو وظایفو څخه لرې کړې وای چی داد اصلي هدف سره په مغایرت کی واقع کیږي، یوه نقطه دذکر وړده چې ددیپلوماتانو قضايي مصؤنیت پدې معنا نه دی چی هغوی په هر عمل کی ازاد دي او دجرم دارتکاب په صورت کې پرهغوی باندي مجازات نشته ،بلکه هغوی په کوربه هېواد کې قابل د محاکمې او مجازاتو نه دي ځکه که چېرې داسې وای نو بیا به ددې احتمال موجود وی تر څو په دیپلوماتانو باندې غیر واقعي اتهامات اوالزامات به يې واردولی تر څو د هغوی د وظایفو خنډ وګرځي او یا تر خپل نفوذ لاندې يې راولي .

په حقیقت کې قضايي مصؤنیت پدې اساس نه دی چې د دیپلومات د جرم په مقابل کې مجازات نشته یا یو چاته د خسارې د اړولو په صورت کې پرې جبران د خسارې نشته،لکه د محکمې صلاحیت او د حکم د اجراء ارزښت په خپل حال باقي دی چې دا ټول د تعلیق په حالت کې غورځول کیږي ، اوهر کله چې مصونیت له منځه لاړ شي نوقضايي ارګان د اول څخه تر پایه ټول مراحل طی کوي . (۵،ص ۳۵۲-۳۵۴)

یا هم د جرم د ارتکاب په صورت کې قضايي یا پولیسي مقامات خارجه وزارت ته خبر ورکوي تر څو سفیر ته خبر ورکړي چې د جرم د تکرار څخه مخنیوی وکړي او که چېرې جرم شدید وي نو بیایې د نا مطلوب عنصر په توګه خپل متبوع دولت ته لیږدوي، په هغه صورت کې چې جرم ثابت او د قضايي مصؤنیت په اساس د عدالت د تطبیق څخه مخنیوی وکړي ، نو د نوموړي متبوع دولت کولې شي چې خپل قوانین په مجرم یا متخلف باندې اجرا کړي .

د قضايي مصؤنیت په هکله ویل شوي چې دغه امتیاز یواځې د هغه دولتو نو دیپلو ماتیکو نمایندګانو ته شامل دی چې د هغوی اړیکی د حقوقو پر اساس وي ، اما که چېرې دوه دولتونه یو بل په حقوقي توګه ونه پېژني او اړیکې يې بالفعل وي نو دغه مصؤنیت د هغوی دیپلوماتیکي نمایندګانوته نه شاملیږي ، په حقیقت کې قضايي مصؤنیت په دوه ډوله دی . (٦، ص۳۵٤-۳۵٦)

الف _ جزايي مصؤنیت

ب _ مدني او اداري مصونیت

الف _ جزایي مصونیت

لکه څرنګه چې د نامه څخه یې معلومیږي داپه دې معنی که یو دیپلومات په کوربه هېواداو یا د سفر په حالت په ثالث هېواد کې مرتکب د جرم وګرځي او یا شریک د جرم شي، نو بیا په کوربه هېوادیا په ثالث هېواد کې د جزایي تعقیب لاندې نه راځي او یواځې په خپل هېواد کې محاکمه اومجازات کېدې شي، خو کوربه هېواد د هغه د اخراج حکم کولی شي، یعنې د یو نامطلوب شخص په توګه یې د خپلې خاورې څخه اخراجوي ، ولې په بعضې وختونو کې میزبان هېواد ددیپلوماسی د ادابو له مخې د متبوع هېواد څخه غوښتنه کوي چې خپل دیپلومات وغواړي او محاکمه یې کړي، البته دا مصؤنیت یوه استثنا لري .

استثنا _ که یو دیپلومات په کوربه هېواد یا د لارې په هېواد یعنې ثالث هېواد کې مرتکب د مشهود او ښکاره جرم وګرځي نو پدې حالت کې په میزبان هېواد کې محاکمه کېدای شي لکه ښکاره قتل وکړي یا ممنوعه سلاح ګانې ورسره وي او یا مخدره مواد ورسره وي او عام خلک وربانديې خبر وي، نو دلته دیپلومات جزایي مصؤنیت نه لري . (٥، ص٦٦)

که چېرې په یو جرم کې داسې ګمان کیږي چې دیپلوماتیک مامور په هغه کې شریک دی ولې له مصؤنیت څخه استفاده کوي، بل شخص چې ددیپلومات سره شریک د جرم دی ددې مصؤنیت درلودونکی نه دی ، نوددې بل شخص په مقابل کې چې د مصؤنیت درلودونکی نه دی تحقیقات او محاکمه صورت نیولی شي او که چېرې محکمه حکم صادر کړي نوهغه اجراء کیږي او هغه نشي کولی چې د دیپلوماتیک مامور په مصؤنیت باندې استناد وکړي . (١،ص ٢٢٩-٢٣٠ )

په حقیقت کې جزایي مصؤنیت په دې خاطر قبول شوی تر څو دیپلوماتیک مامور په ارامی او سوکالی سره غیر د قبلوونکي دولت دماموریتود ویرې اړوند وظایف اجراء کړي او قبلوونکی دولت نشي کولی چې د رعب ،وېرې او اتهام پر اساس په هغه باندې نفوذ وارد کړي .

په حقیقت کې جزایي مصؤنیت چې یوه دیپلوماتیک مامور ته ورکړل شوی دلیږدونکي دولت د استقلال او حاکمیت څخه یې سر چینه اخیستي چې د نوموړي نمایدګانو ته هم وسعت پیداکوي، نو که چیرې یو دیپلوماتیک ماموردتوهمت لاندې قرار ونیسي نو دا په حقیقت کی دخپل متبوع دولت حیثیت ته صدمه رسوي او یواځې همدا دولت دې چې کولې شي دخپل مامور مصؤنیت له منځه یوسي او له هغه څخه تیرشي .

که چیرې یودیپلوماتیک مامورچې په جرم باندې متهم دی که چیرې د ټاکلي وخت په پای کی چې دهغه

ماموریت خاتمه پیداکوي او د کوربه دولت څخه خارج نشي نودهغه مصؤنیت ختم ګڼل کیږي اود عادي فرد په شکل حالت اختیاروي اودکوربه دولت قوانین پرې قابل داجراء دي .

که چیرې دیپلوماتیک مامور دیوجرم په جریان کې مړ او یا وروسته له هغه مړشي نودغه مصؤنیت ادامه پیداکوي او کوربه دولت نشي کولای چې دمتوفی شخص په هکله قضایي تحقیقات وکړي او دهغه مجرمیت او نه مجرمیت په اثبات ورسوي .

همدارنګه ددیپلوماتیک ماموړینوکورنۍ اوهمدارنګه دنمانیدګۍ اداري او تخنیکي غړي هم دکنوانسیون د ۳۷ مادې په اساس دجزایي مصؤنیت څخه برخمن ګڼل کیږي . (۶،ص۳۵۶_۳۶۰)

دیپلوماتیک ماموړینو د موټر چلولو په خلاف د جرایمو په هکله ددولتونو ترمنځ اتفاق نظر وجود نه لري،د مثال په توګه د امریکا خارجه وزارت په دې عقیده دی چې جزایي مصؤنیت د موټر چلولو په خلاف جرایم په دربر کې نه نیسي او د امریکا دمتحده ایالاتو پولیس کولای شي چې هغوی ته په نقدي جریمه اعلان وکړي . (۲،ص۳۸۸)

ب – مدني او اداري مصؤنیت

مدني مصؤنیت پدې معنی چې د مدني تخلفاتود نګاه یو دیپلومات په کوربه هېواد او یادسفرپه حالت کې د لارې د هېوادونو له خوا د هماغه مدني تخلفاتو په نتیجه کې نه محاکمه او نه تعقیب کیږي بلکه یواځې د متبوع دولت له خوا په داخل د هېواد کې محاکمه کېدای شي ولې دا مدني مصؤنیت د جزایي مصؤنیت په مقایسه ډېر قوي مصؤنیت نه دی . (۵،ص۶۵)

په حقیقت کې د دیپلوماتیکو ماموړینو مدني او اداري مصؤنیت د جزایي مصؤنیت برعکس مطلق جذبه نه لري بلکه ځینې استثنات لري چې نوموړي استثنات په درې مواردوکې دي چې د کنوانسیون ۳۱ مادې په دې هکله داسې صراحت لري (دیپلوماتیک مامور په قبلونکي دولت کې د مدني او اداري دعواؤ څخه د مصؤنیت درلودونکی دی مګر په استثناء د لاندې درې حالاتو. (۲،ص۳۸۹)

۱_ د غیر منقول خصوصي اموالو په اړوند دعوٰی چې د قبلونکي دولت په قلمروکې وي اما که چېرې ددیپلوماتیک مامور اموال د لیږدونکي دولت د نمایندګۍ لپاره او د نمانیدګۍ د مقاصدولپاره په خپل تصرف کې ولري نو په دې صورت کې که چېرې په دې هکله کومه د عوٰی رامنځته کیږي نو بیا د مدني او اداري مصؤنیت څخه برخمن ګڼل کیږي .

۲_ که چېرې دعوٰی د ترکې په اړوند وي چې په هغه کې ديپلوماتيک مامور په خصوصي ډول، نه د ليږدونکي دولت په نوم وصي يا امين ، وارث يا موصٰی له وي چې په دې حالت کې د مدني يا اداري مصؤنيت څخه برخمن نه ګڼل کيږي .
۳_ د حرفوي يا تجارتي دعواؤ په هکله فعاليتونه چې ديپلوماتيک مامور د قبلونکي دولت په خاوره کې او د رسمي وظايفو څخه خارج وي دا شغل ولري نو که چېرې په دې هکله کومه دعوٰی رامنځ ته کيږي نو ديپلوماتيک مامور د مدني او اداري مصؤنيت څخه برخمن نه ګڼل کيږي . (۹،ص ۱۵۲)
ددغه درې استثنايي مواردو داشتراک وجه داده چې نوموړي امورات دديپلوماتيک مامور دوظايفو څخه نه ګڼل کيږي نو ځکه ديپلومات دمصؤنيت څخه برخمن نه ګڼل کيږي او داختلاف په صورت کې بايد دهغه ځای محاکمو ته حاضراو ځوابګوی شي.
اما که چېرې په همدې مواردو کې ديپلومايتک مامور نوموړي وظايف دوظيفې په اساس اجراء کړي او دليږدونکي دولت دنمايندګی لپاره وي نو پرا ستثناء باندې استثناء منځ ته راځي او دمصؤنيت څخه برخمن ګڼل کيږي او دقبلونکي دولت په محکمه کې قابل دتعقيب نه دی.
دديپلوماتيکو ماموريـنو کورنۍ او دنمايندګۍ اداري اوتخنيکي غړي او هغوی اړوند کسان دګټه لاسته راوړونکو فعاليتونو څخه منع نه دی اوکولای شي چې په دغه ډول اموراتو کې مشغول وي چې په دې صورت کې بياد مصؤنيت لرونکي نه دی.
همدارنګه امکان لري چې دقبلونکو او ليږدونکو دولتونو ترمنځ دبعضې خصوصي توافقتنامو په اساس په يوه برخه کې توافق صورت ونيسي چې دهغوی ماموريـن کولای شي نور فعاليتونه خارج دديپلوماتيک وظايفو څخه ولري او ترسره يې کړي ، چې په دې صورت کې هم د مصؤنيت څخه برخمن ګڼل کيږي. (۱،ص۲۲۹-۲۳۰)
دعمل او تجربې په اساس معلوم شوي چې دديپلوماتانو ډېرې کمې فيصدۍ دنورو په حقوقو متجاوز واقع شوي او ددعوٰی په طرف کې واقع شوي، ولې په هر حال کې بهتره چې دخصوصي عقودو دانعقاد په وخت دقبلونکي دولت داتباعو سره دمصؤنيت موضوع او دهغوی حدود دمتعاقدينو لپاره واضح شي.
دمدني مصؤنيت په هکله داسوال رامنځ ته کيږي چې ديپلوماتيک مامور په خپله د عوٰی کې ځان مستحق ګڼي کولای شي چې دخپل ځان څخه دفاع وکړي او دمصؤنيت څخه صرف نظر وکړي؟

په دي مورد کې هم چې مصؤنیت حق دی چې په متبوع دولت پورې اړه لري نه په دیپلومات شخص پورې نو یواځې لیږدونکی دولت کولای شي چې دخپل مامور دمصؤنیت څخه صرف نظر وکړي او دا صرف نظر باید چې صراحتاً اعلان شي. (٦،ص٣٦٢-٣٦٤)

ددیپلوماتیک کنوانسیون د٣٧ مادې مطابق (ددیپلوماتیکو مامورینو اړوند کسان دمدني او اداري مصؤنیت څخه برخوردار ه گڼل کیږي ولې دنمایندگی اداري او تخنیکي کارکونکي او دهغوی اړوند کسان دمدني او اداري مصؤنیت څخه برخمن نه گڼل کیږي ، مگرپه هغه صورت کې چې په وظیفې پورې اړه ولري) . (٩،ص١٥٢)

همدارنگه دقضایي مصؤنیت په هکله په کنوانسیون کې ځینې نور موارد هم ذکر شوي چې دهغو څخه په لاندې ډول یادونه کوو .

ج – اجرایي مصؤنیت

دیپلوماتیک مامورین داجرایي مصؤنیت څخه برخمن دي، په حقیقت کې په داخل دهیواد کې دمحکمي حکم چې وروسته دلازمو مراحلو دتېرېدو څخه صادرکیږي او قاطعیت پیدا کړي نو په خپله لازم الاجراء گرځي چې په دې مورد کې یواځې یوه استثنا وجود لري چې هغه ددیپلوماتیک مامور په هکله ده چې په دیپلوماتیک مامور باندې هیڅ ډول اجرایي اعمال نه تطبیق کیږي اما په دې اصل باندې درې استثنات وجود لري او هغه په لاندې ډول دي .

١_ ددیپلومات شخص په اړوند په قبلونکي دولت کې دغیر منقولو اموالو په هکله دعوی .

٢_ دمیراث په هکله دعوی چې دیپلومات شخص په هغه کې گټه پورته کوونکی وي.

٣_ ددیپلوماتیک مامور په شغل پورې اړونده دعوی .

په دغه درې استثایي مواردو کې محکمه بیدون دقضایي مصؤنیت په نظر کې نیولو سره کولای شي چې رسیدگي وکړي او حکم صادرکړي او نوموړی حکم هم قابل داجراء دی او ددیپلوماتیک مامور اجرایوي مصؤنیت نشي کولای چې دهغه مانع وگرځي(٢٠،ص٣٨٩)

دنوموړو درې استثایي موارد څخه خارج اصل دا دی چې دقبلونکي دولت دمحکمې حکم ددیپلوماتیکو مامورینو په مقابل کې قابل داجراء نه دی اگر که ددعوی داقامې په وخت کې او یا په جریان دمحکمه کې قبلونکی دولت خپل انصراف ددیپلوماتیک مامور په وړاندې اعلان کړی وي اوهغه دقبلونکي دولت دمحکمې دقضاوت په حالت کې وي.

دکنوانسیون د۳۷ مادي مطابق ددیپلوماتیکو مامورینو اړوند کسان او همدارنگه دنمایندگۍ اداري او تخنیکي غړي او دهغوی اړوند کسان داجرایي مصؤنیت څخه برخمن دي چې دکنوانسیون د ۳۲ مادې څلورم بند نوموړی مطلب داسې ذکر کړی (دقضایي مصؤنیت انصراف د اداري یا مدني د عوی په وړاندې په حقیقت کې دمصؤنیت انصراف دحکم داجراء ضمانت کوونکی نه دی بلکې دهغه داجراء لپاره دمصؤنیت دانصراف اعلان په جداګانه ډول دهغه په وړاندې ضروري دی). (۶،ص۳۸۱-۳۸۳)

د _ دشهادت د اداء کولو څخه مصؤنیت

دیپلوماتیک ماموردقبلونکي دولت هیڅ یو قضایي یا اداري مرجع دشهادت په ورکړه باندې نه شي مجبورولی چې دکنوانسیون د۳۱ مادې دوهم بند دشهادت په هکله داسې وضاحت ورکړی (دیپلوماتیک مامور دشهادت په ورکړه مجبور نه دی)، همدارنګه دنوموړي مصؤنیت سربېره دیپلوماتیک مامور کولای شي غیرله دې څخه چې په هغه باندې کوم جبر او اکراه وارد شي کولای شي چې په خپله خوښه او رضاء شهادت ورکړي ، همدارنګه ددې خبرې یادونه هم باید وکړو چې دلته داجبار څخه زمونږ موخه قبلونکی دولت دی اما که چیرې متبوع دولت لازم وګڼي نو کولای شي چې خپل مامور دشهادت په ورکولو باندې مجبور کړي. (۲،ص۳۸۹)

باید ذکر کړو که هرڅومره دیپلومات د شهادت دورکړي څخه مصؤنیت لري ، اما که چېرې هغه دیو قتل مشاهده کوونکی وي نو که څه هم هغه قانوناً دمحکمې په وړاندې د شهادت په ورکړه باندې مجبور نه دی اما اخلاقاً او وجداناً نوموړی کار بایدترسره کړي. (۹،ص۱۵٤)

دشهادت د اداء کولو په هکله دحقوقدانانو نظریات مختلف دي چې دیو څو مواردو په هکله دهغو اختلاف نظر ته اشاره کوو .

۱_ دشهادت اداء کول باید اجباري وي او دمصؤنیت لرونکی نه وي نو پس دهرې قضایي قضیې دوضاحت او صحیح عدالت دتطبیق لپاره دشهودو شهادت ضروري دی او دمشاهداتو نه ارایه کول په حقیقت کې دعدالت دانحراف باعث به وګرځي. ددې نظریې طرفداران دبین المللي حقوقو په کمیسیون کې ددیپلوماتیکو روابطو دکمیسیون دتدوین په وخت کې وړاندیز یې کاوه چې د شهادت په اداء کولو کې ددیپلوماتیک مامور عدم مصؤنیت دې د یوې استثناء په شکل په قضایي مصؤنیت باندې باید اضافه شي.

۲_ باید دشخصي او خصوصي افرادو دمسایلو دشهادت په هکله ددیپلوماتیکو وظایفو اړوند مسایلو په هکله چې په سفارت او متبوع دولت پورې اړه لري دشهادت په توپېر باندې قایل شو چې دخصوصي افرادو دمسایلو په

هکله شهادت باید اجباري وي په داسې حال کې چې ددوهم مورد په هکله چې ديپلوماتيک وظايف دمتبوع دولت اړوند مسايل دي بايدديپلوماتيک مامور دشهادت د اداء کولو څخه مصؤنيت ولري.

دديپلوماتيک مامورينو د شهادت په هکله بايد زيات کړو چې که چېرې شهادت په جبر ترسره شي نوځرنگه چې دا د صريح حق مخالف دی نو کوم حقوقي ارزښت نه لري ، چې بين المللي ديوان په دې هکله خپله رايه په ۱۹۸۰ م کال کې دامريکادديپلوماتيکو او قونسلي غړو په تهران کې چې په صراحت سره يې نوموړی مطلب تائيدکړاو هغه هم په هغه وخت کې چې ايراني مقاماتو غوښتل دامريکا ديپلوماتيک مامورين تهديد کړي ترڅو چې محکمي ته يې راکش کړي. (٦،ص٣٨٤-٣٨٦)

دديپلوماتيکو اړيکودکنوانسيون د٣٧ مادې په اساس دديپلوماتيکو مامورينو اړوندکسان اوهمدارنگه دنمايندگی اداري او تخنيکي غړي او دهغوی اړوند کسان دشهادت د اداء کولو دمصؤنيت څخه برخمن گڼل کيږي ، بايد ذکرکړو چې قونسلي مامورين دشهادت د اداء کولو څخه مصؤنيت نه لري اما په ځينو خاصو شرايطو کې چې د هغوی سره پېش بيني شوي دي . (٩،ص١٥٤-١٥٥)

## دويم پراگراف _ دديپلوماتيکي غړوامتيازات

ديپلوماتيک امتيازات په دی معنی چې يوديپلومات په کوربه هيواد يا په ثالثو هيوادونو کی ديوسلسله مزاياؤ څخه برخمن وي چې نور اشخاص بيادا مزايا اوسهولتونه نه لري . (٥،ص٦٦)

ديپلوماتيک امتيازات دحقوقو دماهيت له مخې دمصؤنيت سره فرق لري، په دې ترتيب چې مزيت يوديپلوماتيک امتيازدي چې ديپلومات ته ورکول کيږي، په داسې حال کی چې نورډير خلک له هغه څخه داستفادی حق نه لري ، اما که چيرې نوموړي مزاياهغوی ته ورنه کړل شي نودهغوی دخدمت داجراء مانع نه گرځي، نوويلې شو چې ددې دواړو ترمنځ فرق دفلسفې له نظره وجودلري چې کولای شو مصؤنيت دضرورت او مصلحت پر اساس اومزايا دنزاکت ترعنوان لاندې متمايزکړو. (٩،ص١١٢)

په حقيقت کې ددی دواړو ترمنځ دفرق تشخيصول به څه بې فايدې نه وي، اوهغه په دې ډول چې مصؤنيت يوه عمومي قاعده ده اودولت نشي کولې دخپلوداخلي قوانينو په اساس هغه نقض کړي اوکه چيرې هغه رعايت نه کړي نو د بين المللي مسئوليت دايجاد باعث گرځي ، په داسې حال کې چې که چيرې دمزاياؤ برقرارول دداخلي قوانينو په اساس نه وي نوداپه حقيقت کې يو عرف اوبين المللي نزاکت دي چې دهغې نه رعايتول دبين المللي مسئوليت د ايجاد باعث نه گرځي . (٨،ص٨٣_٨٤)

مهمترین ددیپلوماتیکي مزایاؤ څخه چې دویانا په کنوانسیون کې تصریح شوي په دوه ډوله دي .

لومړی جز _ مالیاتي معافیتونه

دیپلوماتان په کوربه هیواد کې دمالیاتو دورکړې څخه معاف دي او ددوی د سرمایې اودارایې څخه مالیات نه اخستل کیږي، لکه دکنوانسیون ۳٤ ماده په دې هکله داسې صراحت لري چې (دیپلوماتیک مامور دټولومالیاتو څخه اوهمدارنګه دشخصي یا منطقه یې یا شهري مالیاتو دورکړې څخه چې دنوروخلکو څخه اخستل کیږي معافیت لري ).

له هغه ځایه چې دمالیاتو اچونه یوټرلې عمل دې اوله دې حیثه دیپلوماتیک مامورین هیڅ نوع دقبلونکي دولت سره کومه رابطه نه لري نوبلاخره نشي کولې چې هغوی دمالیاتو په ورکړه کې وشمیري ، له بله طرفه هغه حیثیت اومقام چې دیپلوماتانو ته ورکړل شوی ددې تقاضا کیږي چې هغوی په قبلونکي دولت کې د هر نوع مالیاتواو عوارضو دورکړې څخه معافیت لري .(۲،ص۳۹۰)

نوموړې اصل ځینې استثنات لر ي چې دهغوڅخه په لاندې ډول یادونه کوو.

اول _ که چیرې دیپلوماتان په میزبان هیواد کې کومه شخصي تجارتي معامله یا کوم عایداتي کاروبار ولري نو دهغه څخه مالیات اخستل کیږي .

دویم _ که چیرې دیپلوماتان په کوربه هیواد کې غیرمنقول اموال اودارایې دشخصي ګټې لپاره و لري اودسیاسي نمایندګۍ لپاره نه وي نو استثناً مالیه ورڅخه اخستل کیږي .(۹،ص۱۵۷)

دریم _ په موروثي اموالو باندې مالیات چې په قبلوونکي دولت کې یې ترلاسه کړې وي مالیاتي معافیت نه لري ځکه چې په موروثي اموالو باندې دمالیاتو ورکړه ددیپلوماتیکي وظیفې سره کوم تړاؤ نه لري .

څلورم _ که چیرې دیپلوماتیک مامور په خصوصي توګه دخدماتوڅخه استفاده کوي نودمالیاتو په ورکړه باندې مجبور دي اومعافیت نه لري ،اماکه دیپلوماتیک مامور دهغومالیاتو په مقابل کې چې دعامه خدماتو لپاره اخستل کیږي دهغوڅخه معافیت لري لکه ددفاعي چارولپاره مصارف،داموزشي او فرهنګي ساحې پراخول ، په قبلونکي دولت کې عمومي لاره جوړونه چې ددې ټولو په مقابل کې معافیت لري.(۷،ص۱۱۲_۱۱۳)

پنځم _ دیپلوماتیک مامور په کوربه هیواد کې دغیرمستقیم مالیاتودورکړې څخه معافیت نه لري .

څرنګه چې ټول افراد ولو که هغه دیپلوماتیک مامور وي اوکه عادي فرد دژوندانه دضرورتونو دمرفوع کولوترڅنګ مجبوردی ترڅو خوراک اولباس و لري اوهغه واخلي نوعلاوه داصلي جنس دقیمت څخه په

نوموړوامو الوبا ندي مالیات هم اچول کیږي، نو په دې صورت کې د جنس د اصلي قیمت تفکیکول په هغه باندې داچول شوې مالیې څخه مشکل یاناممکن دي نوپه دې اساس په دې برخه کې ددیپلوماتیکو ماموړینولپاره مالیاتي معافیت نشته .

بین امللي نزاکت ددې ایجاب کوي چې دلیږدونکي دولت دماموړینو څخه چې دخپل دولت لپاره په قبلونکي دولت کې وظیفه اجراء کوي مالیات باید وا نه اخستل شي .

دمالیاتودمعافیت اصل مخکې له دې چې په دیپلوماتیک کنوانسیون کې دموضوعه حقوقو په شکل تدوین شي پخوادیوې بین امللي قاعدې په شکل وجود لره اوداسې وضاحت یې درلوده چې دیپلوماتیک ماموړین خپل حقوق دلیږدونکي دولت څخه ترلاسه کوي او که چیرې دهغوی څخه مالیات اخستل کیږي نو باید دلیږدونکي دولت څخه نو موړي مالیات واخیستل شي اودمساوات دحاکمیت ددلیل په اساس دولتونه باید یوپربل باندې مالیات تحمیل نه کړي .

دمالیاتو دمعافیت اصل مخکې یواځې په سفیر اودنمایندګی په رئیس پورې اړه درلوده چې ددې معافیت داصل پراخوالې دنمایندګۍ نورو غړو ته په حقیقت کې یوه نوې موضوع ده چې په کنونسیون کې داخل شوه . (٦،ص٣٩٩_٤٠٢)

## دویم جز _ ګمرکي معافیتونه

ګمرکي معافیتونه چې ډیره تارخي سابقه لري اوداکثره هیوادونو له خواد قبول وړ ګرځیدلې، ولې ددیپلوماتیکوروابطودکنوانسیون د تدوین تروخته پورې په دې هکله دقیق اویوشان قواعدو وجود نه لره اوددولتونوعمل په دې برخه کې مختلف وه چې حقوقدانانو ددې داساس په هکله هم اختلاف نظر درلود چې بعضو یوه عرفي بین المللي قاعده ګڼله او بایدلازماالاجراء وي، اوبعضې دهغوڅخه بین المللي نزاکت قبول کړې وه چې دولتونه دهغې په اجراء باندې ملزم نه وه . (٦،ص٤٠٥)

ګمرکي معافیتونه په دې معنی چې کله دیپلوماتان کوربه هیواته داخلیږي اویادسفرپه وخت له دریم ګړي هیوادڅخه تیریږي نوددوی اموال په سرحداتوکې له ګمرکي محصولاته څخه معافیت لري ،ولې برعکس دعادي افرادو له اموالوڅخه باالعموم ګمرکي محصولات اخستل کیږي،که چیرې دوه هیوادونه دکنوانسیون اومعاهداتو له مخې وکولای شي چې معاهدات وکړي اوګمرکي معافیت ومني ،لکه داروپایې اتحادیې دغړو هیوادونو ترمنځ دیو بین المللي قرارداد له مخې یې قبوله کړې چې

دعضوه هیوادونو له اموالو څخه به دسفرپه وخت په سرحداتو کې ګمرکي محصولات نه اخستل کیږي .(٥،ص٦٦)

دګمرکي محصولاتو څخه ددیپلوماتیک مامور معافیت دهغه اموالوپه مقابل کې چې یایې واردوي اویایې خارجوي لکه دنورومزایاؤ په شان دحقوقوپه اساس نه بلکه دهغه منشاء نزاکت اودعمل متقابل په اساس وي .

دلته په حقیقت کې دهغه اموالو ترمنځ چې سفارت یې دماموریت داستفادې لپاره واردوي اوپه لیږدونکي دولت پورې تړاؤ لري اوهغه اموال چې دخپل شخصي مصرف لپاره یې واردوي فرق وجودلري، دلومړي ډول اموالو په هکله چې سفارت یې دماموریت داستفادې لپاره وادوي اوپه خارجي دولت پورې تعلق لري دهغې دمعافیت په هکله په عمومي ډول کوم شک وجودنه لري، ولې هغه اموال چې دیپلومات یې دخپل شخصي مصرف لپاره واردوي په حقیقت کې دنزاکت داصل په اساس په محدود انداز کې یا تر یو ټاکلي حد پورې دمعافیت څخه برخورداره وي .(٢،ص٣٩٠_٣٩١)

که چیرته دګمرک دمامور لپاره دنوموړو اموالو په هکله شدیدیاقوي ګمان موجودوي چې یقین ته نږدې وي داحق ورکړل شوې ترڅوهغه اموال خلاص او ویې ګوري مګردابه ددیپلومات شخص په حضور کې ترسره کیږي چې نوموړې تفتیش باید ددیپلوماتانو داموالودمصؤنیت سره مغایرت پیدانه کړي اودګمرک دمامورګمان بایددومره قوي وي چې نوموړي ګمان یې باید په یقین بدل شي، اوکه چیرې داسې نه وي نوامکان لري ددیپلوماتیک ماموردشکایت باعث اوهمدارنګه دګمرک دماموردمسئولیت باعث شي .(٧،ص١١٦)

## دریم مبحث _ ددیپلوماتیکو مصؤنیتونو څخه ددیپلوماتانو سؤ استفاده

څرنګه چې دا واضح خبره ده چې بعضې ددیپلوماتانو څخه دخپلو دیپلوماتیکو مصؤنیتونو څخه سؤ استفادې کړي دي دمثال په ډول دامتیازاتو ددرلودلو په صورت کې ددیپلومات دلباس نه تفتیش، کله داسې پېښوي چې غیر مجاز اشیان او یا احیاناً مخدره توکي صادروي او یا یې واردوي ، یا له دې کبله چې دبین المللي حقوقو له مخې کوربه دولت نه شي کولای چې سیاسي نماینده دهېواد په داخلي محکمه کې محاکمه کړي بلکه دا کار دنوموړي سیاسي نماینده دمتبوع دولت په غاړه دی چې بعضې د سفارت د غړو څخه په ارامی سره دجنایت دمرتکب کېدو په خاطر او یا دفحشا او منکراتو مرتکب شوي دي او په مختلفو مواردوکې ضرر رسونکي جاسوسی چې دقبلونکي دولت په ضرر او متبوع دولت په نفع وي او یا دریم دولت ته په ګټه وي، چې دهغه سره

اړیکه لري ترسره کړي دي او دسفارت دمصؤنیت په نامه دکوربه دولت دپولیسو دننوتلو او یاد مداخلي دمنع په صورت کې بعضې دسیاسي او یا غیر سیاسي مجرمین پټوي او ځای ورکوي او یا یې په رسمي توګه پناه ورکړې او په نهایي توګه دکوربه دولت په داخلي چارو کې یې لاس لرلی او دنوموړي دولت په ضد باندې مختلفې ډلې رهبري کړي او دقبلونکي دولت لپاره یې مشکلات رامنځ ته کړي دي. (۹،ص۱۱۵-۱۱۶)

په حقیقت کې قبلونکي دولت بله کومه لاره نه درلوده، غیردسیاسي هیئت دخارجولو څخه او ددې کار په مقابل کې به یې متبوع دولت ته خبر ورکوو چې په نتیجه کې به یایې دنوموړو نمایندګانو دتعویض کولو غوښتنه کوله او یا به ددواړو هېوادنو اړیکو د پرې کېدو باعث ګرځېده او یاداچې کوربه دولت به کوښښ کاوه ترڅو ددې کار یعنې سؤ استفادې څخه ددیپلوماتانو مخنیوی وکړي ولې په حقیقت کې نوموړي تلاشونه دبریالیتوب درجې ته نه دي رسیدلي.

په هر صورت دبین المللي روابطود اهمیت ددلیل په اساس خاصتاً په اخري قرنونو کې هیوادونو دېته ترجیح ورکړه ترڅودنورو هیوادونو سره روابط دسفارتخانو اوقونسلګریو دایجاد په اساس اودسیاسي غړودقبلولو په اساس وساتي اودښو فعالیتونو په اساس دذکر شوو سؤ استفادوڅخه مخیوې وکړي . (۱،ص۲۳۱_۲۳۲)

## څلورم مبحث _ ددیپلوماتیک مصؤنیت اوامتیازاتوڅخه انصراف

په دې ارتباط داسي یو سوال مطرح کیږي چې په بعضې حالاتوکې یودیپلومات په خپله خوښه په ارادي ډول دبعضې دیپلوماتیک مصؤنیتونواوامتیازاتوڅخه انصراف کوي یعني داسې پیشنهادکوي چې دده بکسونه ،جیبونه اونورسامان الات دې دنوروعادي افرادوپه شان وکتل شي او یاداچې داسې ووایې چې زه ددا سې امتیازاتوڅخه استفاده نه کوم نو ایاددې ډول عمل امکان شته چې په کوربه هیواد یاپه ثالث هیوادکې رامنځ ته شي اوکه نه ؟

ځواب _ څرنګه چې په حقوقوکې دیو طرفه حقوق او دبله طرفه وجایب لرو چې په حقوقو کې دوجیبې څخه انکارنه کیږي خوداچې حقوق په دوه ډوله دي افاقي حقوق اوعندي حقوق نو په حقوقو کې یو شخص دعندي حقوقوڅخه انصراف کولای شي همدارنګه دعندي امتیازاتوڅخه هم انصراف کولاي شي چې دایوپرنسیپ دی خودلته دیپلومات چې ددیپلوماتیک مصؤنیت اوامتیازاتو څخه انصراف کوي نوایادا ددې دیپلومات شخصي حق دی

اوکه ددولت حق، نوبناً ء ويلای شوکوم مصؤنيت اوامتيازات چې ديپلومات ته ورکول کيږي داپه حقيقت کې دمتبوع هيواد احترام دی اودمتبوع هيواد له مخې، دکوربه هيواد يا ثالثوهيوادو له خوا ديپلومات ته ورکول کيږي نوپس دا داحق دمتبوع هيواد حق دې چې خپل ديپلومات ته يې ورکړی چې ديپلومات دهغې څخه په ارادي ډول انصراف نه شي کولای اوکه انصراف وکړي نوقابل دقبول نه دې بلکه منطقي خبره داده که ديپلومات دا اجازه ورکړي چې دده بکسونه يانورشيان دې وکتل شي نوداکارددنوموړي د متبوع هيواد په ضرر تماميږي اوداځکه چې کيدای شي دده سره ځينې مهم اسناد وي ترڅو ونه کتل شي ياداچې دوظايفوداجراء پټ اسراريې افشاء نه شي نوځکه نشي کولای چې ددې مصؤنيتونو اوامتيازاتوڅخه انصراف وکړي بلکه دغه مصؤنيتونه اوامتيازات بايدوساتي.

دلته بل سوال واقع کيږي او هغه داچې ديپلومات کولای شي دخپل متبوع دولت په اجازه ددغه مصؤنيتونو اوامتيازاتوڅخه منصرف شي ؟

ځواب _ ديپلومات کولاي شي دخپل متبوع هيواد په اجازه ددې مصؤنيتونو اوامتيازاتو څخه انصراف وکړ ي اوداځکه چې نوموړي مصؤنيتونه اوامتيازات د متبوع دولت حق او کولای شي خپل نماينده ته دانصراف اجازه ورکړي خودهغه داجازې پرته په هيڅ ډول يې نشي کولای مثلاً يووکيل ته خپل مؤکل اجازه ورکوي چې دهغه مال چاته بخشش ورکړي نوکولای شي چې دهغه مال چاته بخشش ورکړي اوکه مؤکل خپل وکيل ته اجازه ورنه کړي نووکيل نشي کولای چې دهغه مال چاته بخشش ورکړي .(٥،ص٦٨_٦٩)

## پنځم مبحث _ ديپلوماتيک مصؤنيت اوامتيازات په ثالثو هيوادونوکی

کلي اصل خوداې چې دديپلوماتيکي مصؤنيتونواوامتيازاتو محدوده دقبلونکي دولت دقلمروپه داخل کې دې اوديپلوماتيک مامور نشي کولی چې په نوروهيوادونوکې حتی په خپل متبوع هيواد کې ددې مصؤنيتونو اوامتيازاتو څخه استفاده وکړي ،مګرددې سره سره په استثنايي حالاتو کې په ثالثو هيوادونو کې هم غيردمتبوع اوقبلونکي دولتونو څخه دديپلوماتيکي مصؤنيتونو اوامتيازاتو څخه برخمن ګڼل کيږي .

ثالث هيوادونه هغه هيوادونه دي چې نه دديپلومات متبوع هيواد وي اونه دديپلومات ميزبان هيواد(دوظيفې داجراء هيواد) بلکه نور هيوادونه وي چې په بعضې وختونو کې يوديپلومات چې دوظيفې څخه معزول شوې نه وي امکان لري ثالثو هيوادونو ته سفر

وکړي، نو دلته سوال پیداکیږي چې ایادیپلوماتان په ثالثو هیوادونو کې عین مصؤنیت چې په میزبان هیوادکې لاره دلته ولري او کنه ؟

ددې سوال په ځواب کې باید ووایو چې ایادیپلومات ثالث هیوادته دخپلې وظیفې په اړوند سفر کړې اوکه دشخصي ګټوپه خاطر ؟

داول سوال په اړوند باید ذکر کړو که دیپلومات دخپلې وظیفې په خاطر کوربه هیواد ته سفر کوي اویابرعکس دکوربه هیواد څخه متبوع هیواد ته سفرکوي اویاهم درخصتۍ په خاطرله کوربه هیواد څخه کور ته راځي اویاداچې دخپل متبوع دولت له خوا احضارکیږي،اوپه همدې ترتیب که دمقیم هیواد څخه دخپل دولت په اشاره یوبل هیوادته مؤقتاً دیوې معاملې یا سیاسي موضوع په خاطر لیږدول کیږي، نومنطقاً دپرنسیپ له مخې په دې ټولو حالاتو کې یودیپلومات له ټولو دیپلوماتیکي مصؤنیتونواو امتیازاتو څخه برخمن ګڼل کیږي .

ددوهم سوال په اړوندبایدذکرکړوچې که یودیپلومات دشخصي کاروبارلپاره یادهواخورۍ یا تفریح لپاره سفر کوي اودده سفر هیڅ نوع دده د وظیفې سره کوم تړاؤ ونه لري نو بیا منطقاً دپرنسیپ له مخې دیپلومات په ثالثو هیوادونو کې دیپولوماتیکي مصؤنیت نه لري اودعادي افرادو په څیر کڼل کیږي ، ولې ددې پرنسیپ سره سره نظر دیته چې دولتونه یوبل ته احترام لري او ددیپلوماتیکي ادابو او تعاملاتو او همدارنګه ددیپلوماتیکي عرف په اساس په ټولو حالاتو کې ثالث هیوادونه دیپلوماتانو ته یوڅه مصؤنیت او امتیازات ورکوي اودوی ته تر یوه حده چې دولت وغواړي ترهغې اندازې مصؤنیت او امتیازات ورکوي اودا مصؤنیت او امتیازات دحقوقو له نګاه نه، بلکه دا په حقیقت کې یو دیپلوماتیکي نزاکت دې ، لکه ددیپلومات د بکس نه تالاشي کول .(٥،ص٦٧)

همدارنګه که ددیپلومات دکورنۍغړي ثالث هیواد ته سفر کوي نودده دکورنۍ غړي عیناً لکه ددیپلومات په څیر مصؤنیت لري ، چې که ددیپلومات دکورنۍ غړي دده سره یوځای سفر کوي او یا دهغه څخه وروسته .(٧،ص١١٦)

دلته یو سوال واقع کیږي او هغه دا که چیرې په ثالثوهیوادونو کې یودیپلومات دغیر مترقبه حالاتو له مخې دده وظیفه وځنډیږي اودده سفر دعادي ضروري حالت څخه زیاتیږي نو ایا په دې حالت کې به هم دیپلوماتان دیپلوماتیکي مصؤنیت ولري او کنه ؟

یعنې دیپلومات یوهیواد ته دیوې ورځې لپاره سفر کوي خو هلته دده درسیدو سره سم پیلوټان اعتصاب کوي اودا اعتصاب یوه میاشت اوږدیږي او طیارې پرواز نه

کوي او یاهم سیلابونه راوځي اوسړ کونه بندیږي ، نوددې سوال ځواب به داوي چې که په هره مسئله کې دیوشخص تقصیر موجود نه وي نودهغې مسئلې ضرر نوموړي ته نه راجع کیږ ي ، اما که چیرې تقصیر یې موجود وي نو بیا دهغه عمل ضرر ورته راجع کیږي، نو بناً په دغه وخت کې چې دغیرمترقبه حوادثوله مخې راجع شو اوداورته قابل د پیشبیني وه نو په حقیقت کې په دې کې دده تقصیر موجود دې ، لکه یودولت اعلان کوي چې مونږ یوه هفته بعد خارجیانو ته دخروج اجازه نه ورکوو چې ځمونږ له خاورې خارج شي اوده ته دامعلومه اوقابل دپیشبیني هم وي نو دلته یې تقصیر مطرح کیږي ، البته هغه ورځې چې دې مؤظف ده دهغو ورځو مصؤنیت لري اما له دې څخه غیر د نورو ورځو مصؤنیت نه لري، ولې برعکس که داحالات ورته غیر قابل دپیشبیني وه نو بیامصؤنیت لري ځکه دلته دده تقصیر نشته او اراده یې هم په کې دخیله نه وي . (٥،ص٦٧_٦٨)

# څلورم فصل
# ددیپلوماتیکي نمایندګۍ مصؤنیتونه او امتیازات

هرکله چې یودولت وغواړي دبل دولت سره اړیکي قایمې کړي نوموړی دولت په هغه بل دولت کې ددیپلوماتیکي نمایندګي تاسیس کوي چې نوموړې نمایندګي دمتبوع دولت له خواور سپارل شوي وظایف ترسره کوي،اوس ددې لپاره چې نوموړي وظایف یې په توګه ترسره کړي وي نودکور به دولت دمتبوع دولت نمایندګانو ته په ځینومصؤنیتونواوامتیازاتو قایل کیږي ترڅواړونده وظایف په ښه توګه ترسره کړي اود هغوی دوظایفوپه مقابل کې کوم خنډواقع نشي چې نوموړې موضوع په دوه مباحثوکې په لاندې ډول مطالعه کوو .

## لومړی مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ مصؤنیتونه

دیپلوماتیکه نمایندګي هم لکه ددیپلوماتانوپه شان باید ددیپلوماتیکو مصؤنیتونو څخه برخورداره وي ترڅودتعرض لاندې واقع نشي او هغه څه چې هلته قرار لري باید دهغې په صحیح توګه ساتنه وشي ځکه نوموړي مصؤنیتونه چې دیپلوماتیکو غړواونمایندګیو ته ورکول

کیږي داپه حقیقت کې دمتبوع دولت په اساس دي، نو که چیرې تر تعرض لاندې واقع شي نوداپه حقیقت کې دمتبوع دولت حیثیت ته صدمه رسوي چې اوس دځینې مصؤنیتونو په هکله یې په لاندې توګه یادونه کوو .

## لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ داموالومصؤنیت

دکنوانسیون په اوله ماده چې د اصطلاحاتو لپاره اختصاص شوې داموالوڅخه تعریف نه دې شوې ، خو بیاهم په کلي توګه ددیپلوماتیکي نمایندګۍ اموال کولی شو داسې تعریف کړو چې (ددیپلوماتیکي نمایندګۍ اموال عبارت دهغه منقولو اموالو څخه دي چې ددیپلوماتیکي نمانیدګۍدمقرپه محوطه کې قرار ولري) چې دکنوانسیون ۲۲ ماده په دې هکله داسې ذکر کوي (دماموریت مقر او نور اموال چې په هغه کې موجود وي اوهمدارنګه دنمایندګۍ نقلیه وسایط دمصادرې او توقیف څخه مصؤن دي) چې داموالو دمصؤنیت حق مطلق او په دې مورد کې کومه استثناء وجود نه لري .(۸،ص۳٤_۳٥)

څرنګه چې مخکې مو ذکر کړل هغه اموال چې ددیپلوماتیکي نمایندګۍ په مقر کې قرار لري نو څرنګه چې نوموړي ټول لوازم دکاراو وظیفې پورې اړه لري نو دتفتیش، مصادرې اوتوقیف څخه مصؤن دي .

دنمایندګۍاموال په حقیقت کی دژوندانه وسایل اودفتري الات دي لکه مخابراتي دستګاوی، لیکونکي مشینونه او همدارنګه هغه مشینونه چې هغه داوراقو او اسنادو دله منځه وړونکي وي اونوموړي وسایل بایدجاسوسي کونکي اوغیرمجاز ونه ګڼل شي، څرنګه چې نن ورځ ټول هیوادونه اواکثره دیپلوماتیکي نمایندګۍ دهغوی دوظیفې دااهمیت په اساس چې په غاړه یې لري په نوموړو ماشینونواو الاتو باندی مجهزوي .(۹،ص۹۷_ ۹۸ )

## دویم پراګراف _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ داسنادو دثبت مصؤنیت

دکنوانسیون ۲۴ ماده داسې صراحت لري چې (دنمایندګۍ داسنادو ثبت په هر زمان او مکان کې مصؤن دي )،نتیجه داسې اخیستلای شو چې دنمایندګۍ داموالو بر خلاف چې اصولاً دنمایندګۍدمقرپه داخل کې مصؤنیت لري ،دنمایندګۍ داسنادوثبت تنهادنمایندګۍدمقر په داخل کې نه ،بلکه خارج دهغه ځای هم د مصؤنیت څخه برخمن ګڼل کیږي ، لکه هغه اسناد چې دسفارت دمحیط خارج اودنمایندګۍ دموټر په داخل کې وي، یاهغه اسناد چې ددیپلوماتیک نماینده دلاسي بیګ په داخل کې دنمایند ګی دمحوطې څخه خارج ته نقل کیږي .

دوخت په لحاظ ددیپلوماتیکی نمایندګی داسنادو دثبت په مصؤنیت باندې کوم زماني محدودیت وجود نه

لري او دکنوانسیون د٤٥ مادې په اساس (دثبت اسناد حتی دروابطودقطعي پر وخت یا دجنګ په وخت کې هم دمصؤنیت څخه برخمن ګڼل کیږی . (۲،ص۳۸۷)

دریم پراګراف _ددیپلوماتیکي نمایندګۍ د نقلیه وسایلو مصؤنیت

ددیپلوماتیکی نمایندګۍ نقلیه وسایل ددیپلوماتیکی مصؤنیت لرونکي دي چې دکنوانسیون د ۲۲ مادې دریم بند په دې هکله داسې ذکر کوي چې (دنمایندګۍ ځایونه او اموال چې دنمایندګۍ په مقر کی قرارلري اوهمدارنګه دنمایندګۍ نقلیه وسایل دتفتیش،مصادرې اوتوقیف څخه مصؤن دي) .

دنقلیه وسایلوڅخه اصل هدف دنمایندګۍ موټرونه هم دي چې دمصؤنیت څخه برخورداره ګڼل کیږي .

دیپلوماتیک پلیټونه په کثرت سره دهغه موټورونولپاره دی چې هغه ددیپلوماتیکوغړو داستفادې وړوي، نور ډیرنقلیه وسایل دسرویس دپلیټونوڅخه استفاده کوی، همدارنګه په ځینو مواردوکی دغیردیپلوماتیکو اشخاصودموټرونو لپاره هم امکان لري په مختلفوعنوانونودیپلوماتیک پلیټ واخیستل شي چې داد دیپلوماتیک عرف څخه خلاف ګڼل کیږي . (۶،ص۲۸۴_ ۲۸۵)

## دویم مبحث _ ددیپلوماتیکي نمایندګۍ معافیتونه

دیپلوماتیکي نمایندګي هم لکه ددیپلوماتانو په شان معافیتونه لري چې نوموړي معافیتونه په دوه ډوله دي او دهغو څخه په لاندې توګه یادونه کوو .

لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیکی نمایندګۍ د ځایونو مالیاتي معافیت

ددیپلوماتیکي او قونسلي نمایندګیودځایونومالیاتي معافیتونه دپخوا راهیسې دیو بین المللي عرف په شکل ددولتونو له خوا پیژندل شوي، ددی عرف په سبب لیږدونکې یامتبوع دولت ددیپلوماتیکي نمایندګۍ دځایونودملکیت داخیستلویا اجاره کولو په صورت کې،دهغه مالیاتوڅخه چې دقبلونکي دولت دقوانینومطابق دنوموړو معاملاتو سره اړخ لګوي اودهغې څخه اخیستل کیږي معاف دي چې دولتونه معمولاً نوموړی عرف په خپلوداخلي قوانینوکې قبول کړی دی ،خوپه هرحال کې باید ذکرکړوچې ددیپلوماتیکي نمایندګۍ دځایونومالیاتي معافیت همیشه په متقابل عمل پورې مشروط دی .

ددیپلوماتیکوروابطودکنوانسیون۲۳ماده ددیپلوماتیکي نمایندګۍ دځایونود مالیاتي معافیت

پوري اړه لري اوپه دوه بندونوکي يې داسې صراحت وجود لري .

اول _ ليږدونكى دولت اود نمايندگۍ رئيس دنمايندگۍ دځايونوپه سبب چې په خپل ملكيت كې يې لري دهرنوع مالياتواوهمدارنگه دمنطقه يې اوياښاري مالياتودوركړې څخه معاف دي ، مګر په هغه صورت كې چې دنوموړو مالياتو اخيستل د يوخاص خدمت دانجامولو په صورت كې وي .

دويم _ دقبلونكي دولت دقوانينومطابق په هغه صورت كې چې دنوموړومالياتو وركړه دداسې يوشخص په غاړه وي چې دليږدونكي دولت يا دنمايندگۍ درئيس سره نوري معامله يې كړې وي مالياتي معافيت ورڅخه نفې كيږي يعنې مالياتي معافيت نه لري.(٧،ص١١٢_١١٣)

دديپلوماتيكي غړودنمايندگۍځايونه،اقامتگاه او اوسيدوځاى په هغه صورت كې دمالياتي معافيت څخه برخمن ګڼل كيږي چې دهغې مالک يااجاره كونكې ليږدونكى دولت يعنى دديپلوماتيک نماينده متبوع دولت اويا دهغه نماينده وي،مگر كه چيرې ددريم شخص په نوم وي نو مالياتي معافيت نه لري .(٨،ص٨٧)

څرنګه چې پورته موذكركړل كه چيرې عادي افرادخپل ملكيت په يوې نمايندگۍ يا دنمايندگۍ پرغړو خرڅ كړي يا يې په اجاره وركړي اويانوموړې ملكيت دديپلوماتيكي نمايندگۍ څخه خريداري كوي ،نو نوموړې نشي كولې په دې عنوان چې دهغوی دمعاملې يوطرف خارجي دولت اويا ديپلوماتيک نماينده دې، دنوموړو مالياتي معافيتونو څخه استفاده وكړي .

اگركه په ٢٣ ماده كې دديپلوماتيک او اداري او تخنيكي غړو داوسيدو دځاى په هكله كوم ذكر نه دى شوى مګردوى په حقيقت كې دنمايندگۍ دځايونو په شان دي اودمالياتي معافيت څخه برخمن گڼل كيږي .(٩،ص٩٨_٩٩)

## دويم پراګراف _ دګمركي تفتيش څخه دديپلوماتيكي نمايندگۍ داشياؤ معافيت

دنمايندگۍ اشياء چې دخارج څخه دنمايندگۍ داستفادې لپاره واردیږي دګمرک څخه رخصت كيږي،اودنمايندگۍ داموالو حكم غوره كوي ، بناً دديپلوماتيک كنوانسيون د٣٦ مادې داول بند په اساس قبلونكى دولت دهغه قوانينو اومقرراتو مطابق چې امكان لري وضع يې كړي دلاندې اشياؤ واردول دګمركي حقوقودمعافيت سره اونور ډير جزيي مصارف اونور هغه مصارف چې دهغې دانباركولو اوباربري كولو يا انتقالولو اونور مصارف چې دمشابه خدماتوڅخه سرچينه اخلي شايد اجازه وركړي، دلته داشياؤ څخه مطلب هغه

اشیاءدي چې نمایندګی دهغې څخه په رسمي توګه استفاده کوي . (٦،ص٢٨٣)

دکنوانسیون د٣٦ مادې د دوهم بند په اساس چې ددیپلوماتیکي غړو په وارداتي اشیاؤ باندې یې ځینې محدودیتونه واردکړي دي،نسبت هغه وارداتي اشیاؤته چې ددیپلوماتیکي نمایندګي پورې تعلق لري دابهام لرونکي دي نوپه دې اساس دهغوی دتحقیق دمعافیت په هکله کومه اشاره نه ده شوې . (٨،ص٨٧)

## دریم پراګراف _ په رسمي فعالیتونوکې دنمایندګۍ امتیازات

دیپلوماتیکي نمایندګي په خپلو رسمي فعالیتونو کې امتیازاتو ته احتیاج اوضرورت لري ترڅو وکولې شي دهغو څخه په استفادې خپل وظایف په ازادانه توګه اوغیر دکوم ممانعت څخه اجراءکړي، په حقیقت کې نوموړي هغه امتیازات دي چې قبلونکې دولت یې لیږدونکي دولت ته ورکوي اودیپلوماتیکه نمایندګي واسطه ده چې نوموړي امتیازات ترلاسه کوي اودهغوڅخه په لاندې توګه یادونه کوو.

اول _ دسهولتونوبرابرول

ددیپلوماتیکوروابطودکنوانسیون ٢٥ ماده په دې هکله داسې څرګندونه کوي چې (ددیپلوماتیکي نمایندګۍ لپاره دسهولتونو اماده کول دقبلونکي دولت وظیفه ګڼل کیږي) .

داښکاره اومعلومه خبره ده هرکله چې یودولت دبل دولت سره دیپلوماتیک روابط برقراروي هدف یې داوي چې نوموړي روابط په احسنه توګه ادامه پېداکړي اونمایندګي وکولای شي چې په ښه توګه خپل وظایف اجراء کړي اوهغه امتیازات چې نمایندګۍ ته ورکول کیږي داپه حقیقت کې په سهولت او ارامتیا سره دوظایفوداجراء لپاره دي، دسهولتونوبرابرول امکان لري دمثبتواعمالو په شکل وي، لکه دقبلونکي دولت کومک ددیپلوماتیکي نمایندګۍ دځایونودتملیک کولو په خاطر یادارتباطاتود تأمین ازادي اود هغې نور مثالونه ،همدارنګه امکان لري چې نوموړي تسهیلات په منفي جهت کې هم وي لکه دقبلونکي دولت وظیفه دنمایندګۍ څخه دتعرض دمخنیوي په خاطر اودنوموړې نمایندګۍ دځایونو حفاظت دمظاهروپر وخت ترڅو دیپلوماتیکه نمایندګي وکولې شي په ارام محیط کې خپل وظایف اجراء کړي . (٦،ص٢٩٤)

دسهولتونولمن امکان لري دقرارداد اوتعهداتو څخه پراخه وي، نوپه نتیجه کې ویلې شوچې دسهولتونودقلمرو مفهوم دقیق نه دې نواصولاً دهغه

دحدودوتعين اودهغوتفسيرول په حقيقت کې ددولتونوپه حسن نيت پورې اړه لري . ( ۸،ص ۹٤)
دويم _ دارتباطاتوازادي
ددیپلوماتيکوروابطودکنوانسيون۲۷مادې
دنمايندګيوارتباطاتوته اجازه ورکړې اوترحمايت لاندې بې راولي اواصولاً يوه ديپلوماتيکه نمايندګي هغه وخت کولای شي خپل وظايف ترسره کړي چې په خپلوارتباطاتوکې دمتبوع دولت او نورو دېرودمتبوع دولت دنمايندګيواوقنسولي پوستونوسره اوهمدارنګه دقبلوونکي دولت دمقاماتوسره ازاد وي .
دقبلونکی دولت ددیپلوماتيکي روابطودبرقرارولواوديپلوماتيکي نمايندګئ دتاسيس لپاره درضايت په شودل په حقيقت کې خپل ضمني تعهدددیپلوماتيکونمايندګيودارتباطاتو دازادی په هکله ښايي . ( ۹،ص ۱۲۵_۱۲٦)
ددیپلوماتيکي نمايندګئ داسنادو ثبت يادتولوليکنو مقصد،ګذارشونه اوټول مخابرات ديوې نقطې څخه بلې نقطې ته هغه څه دي چې دارتباطاتو په ازادی باندې يې تعبير کيږي .
ديوې نمايندګئوسايل محدود نه دي اودنمانيدګئ ارتباطات مختلف شکلونه لري چې هغه عبارت دي له ملافاتونو،ليکنو،دغږومسافرت،دديپلوماتيک بيک ليږدول،دديپلوماتيک قاصد ليږدول، دتخنيکي اومخابراتي وسايلوڅخه استفاده،درادیوي پيغامونولاسته راوړل،دفکس اواترنيت سره دخپلوارتباطاتو برقرارول اود تلويزيوني کيبل څخه استفاده کول اوداسې نور .
بايد توجه وشي چې دديپلوماتيکي نمانيدګئ دارتباطاتو ازادي يواځې ترهغه حده پورې ده چې درسمي مقاصدواودديپلوماتيکو وظايفوداجراء لپاره وي اوغير له دې څخه نشي کولې چې په ذکرشوو ازاديوباندې استنادوکړي . (۸، .ص۸٥)
دريم _ دديپلوماتيک بيک دليږلو اولاسته راوړلو ازادي
دديپلوماتيک روابطود کنوانسيون د ۲۷ مادې په دريم بند کې نوموړی اصل داسې ذکر کوي (دیپلوماتيک بيک بايد خلاص نشي ) چې د ۱۹٦۱ ميلادي کال د ويانا په کنوانسيون کې دبعضې دولتونو نمايندګانو غوښتل چې دديپلوماتيک بيک مصؤنيت بايد محدود کړي حتی ترديې چې په ځينو خاصوحالاتو کې دهغې دخلاصولو اجازه ورکړي ، ولي قبول نشو اودهغه پرځای په دې باندې موافقه وشوه چې نوموړې بيک په هيڅ صورت بايد خلاصي نشي . (۹،ص۱۳۰)
دکنوانسيون د۲۷ مادې په څلورم بند کې په دې باندې تاکيد شوې چې هغه بکسې چې دديپلوماتيک جز ګڼل کيږي بايد دښکاره خارجي علامې اومشخص کيفيت

درلودونکې وي ،اوس نو دلته يوسوال واقع کيږي سره له دې چې ديپلوماتيک بيک دخارجي علامې درلودونکې وي نوڅه لازمه ده هغه بکسي چې دهغې په داخل کې قرار لري هغه هم دخارجي ښکاره علامې درلودونکې وي ؟

ځواب _ په حقيقت کې دښکاره علامې لازموالی په مقصد کې داشتباه دمخنيوي په خاطر اوعلاوه له دې څخه دخارجي علامې دموجوديت په صورت کې دقبلونکي دولت مقامات نشي کولای په دې بهانه چې مونږ نوموړې ديپلوماتيک بيک ندې پيژندلې اودهغې په خلاصولو اوتحقيق باندې شروع وکړي .(٦،ص٣٠٦_٣٠٧)

پخوادديپلوماتيک بيک تيريدل دثالثو هيوادونو څخه دکوم مصؤنيت تضمين يې نه درلود اودهغې رعايتول دنزاکت په اساس وه، ولې دديپلوماتيکو روابطوپه کنوانسيون کې د٤٠ مادې دځای په ځای کولو په اساس ثالث هيوادونه په دې متعهد شول چې دديپلوماتيکو بيکونودتيريدلومصؤنيت بايد په هغه ډول رعايت شي لکه څرنګه چې په قبلونکي هيواد کې دهغه دمصؤنيت تضمين حمايه کيږي .(٨،ص٨٥)

څلورم _ دکوربه دولت سره داړيکودرلو دلو حق

دديپلوماتيکې نمايندګۍ دامتيازاتوڅخه يو دکوربه دولت سره داړيکو درلودولو حق دی، دکنوانسيون د٤١ مادې ددوهم بند په اساس ( ټول رسمي امو رات چې دمذاکرې اواقدام لپاره دقبلونکي دولت سره دليږدونکې دولت له خوا دنمايندګۍ په غاړه اچول شوي ، بايد دقبلونکې دولت دخارجه و زارت په واسطه ترسره شي )، په ټول هيوادنو کې يوازې خا رجه وزارت دخارجي ديپلوماتيکي نمايندګيو ددرخواستونو اوغوښتنو پوره کوونکی دی، نواوس که چېرې کومه مسئله داقصاد په وزارت ياپه بل کوم وزارت پورې تړاؤ پيداکړي نو هيڅ يوه ديپلو ماتيکه نمايند ګي مستقيماً دمکاتبې حق دنوموړو ذکرشويو وزارتونو سره نه لري بلکه خپله موضوع يادرخواست بايد دهغه محل خارجه وزارت ته وړاندې کړي اونوموړی خارجه وزارت داطلاع په خاطر نوموړې موضوع هغه وزارت خانو ته ليږدوي اوبېرته ځواب دهماغه محل دخارجه وزارت له طريقه ديپلوماتيکي نمايندګۍ ته انتقالوي اوهمدارنګه ځينې نورامتيازات هم لري لکه بېرغ اوهغه دعلايمو استعمال،دتګ اوراتګ ازادي،دمخابراتوازادي، دديپلوماتيک قاصد دليږدولو اوقبلولو ازادي ، داتباعو سره داړيکو ددرلودلو حق اوداسې نور.(٦،ص٣٢٠-٣٢١ )

## دريم مبحث – دنمايندګۍ دغړو دامتيازاتو مختلفې درجې

پخوا امتیازات یوازې دنمایندګی رئیس ته ورکول کېدل، ولې دوخت په تېریدو نوردپردیپلوماتیک مامورین چې دسفیر سره یوځای دوظایفو داجراء په وخت کې به یې دسفیر ملګرتیا کوله دامتیازاتو څخه برخمن شول، د۱۹ م قرن په جریان کې ځینې امتیازات اداري اوتخنیکي غړو اوهمدارنګه دسفارتخانو نوروکارکونکو ته هم ورکړل شول .

دثابتونمایندګیودبرقرارولو دوخت راهیسې دسفیرانو ښځې او دهغوي کورنی دسفیرانو سره یوځای دامتیازاتو څخه برخورداره شوی دي ،اګر که نوموړي امتیازاتو دوړاندې څخه وجود درلود، ولې په مختلفلوهیوادونوکې یوشان نه وه اوهر هیواد دخپل تشخیص په اساس دهر یوې ډلې دامتیازاتو درجه به یې تعینوله اوځرنګه چې مخکې دامتیازاتو ورکړه دعمل متقابل په اساس وه چې په بعضې اوقاتو کې به دادیودولت په داخل کې دهري یوې نمایندګی لپاره کم یازیات امتیازات دبلې نمایندګی څخه په نظر کې نیول کېدل اونوموړي کاربه دقبلونکي او لیږدونکي دولتونو لپاره مشکلات ایجادول .

دديپلوماتیکوروابطوکنوانسیون نوموړی مشکل تریوه بریده حل کړی اود ۳۷ مادې په اساس دهری یوې ډلې چې دديپلوماتیکې نمایندګی عضوه ګڼل کیږي دامتیازاتو برخه یې تعین کړه اوهغه وخت یې زیات امتیازت لکه دپخوا په شان دقبلونکو دولتونو په نظر اوددولتونو دوه جانبه اوڅوجانبه توافقاتو په اساس چې هم قبلونکي اولیږدونکي دي سپارلي دي، اوس په لاندې ډول دلاندې څلوروډلو دامتیازاتو حدودات مشخص کوو. (٦ ، ص ، ٤٢٦-٤٢٧)

## لومړی پراګراف – دکورنی مفهوم اودهغې امتیازات

کورنی دديپلوماتک کنوانسیون په مفهوم دهغه کسانو مجموعې ته ویل کیږي چې دنمایندګی دیوې عضوې سره په یوکور کې ژوند کوي، دديپلوماتیک ماموراڼوند کسان چې دهغه کورنیاهل ګڼل کیږي دلاندې مزایاوامصؤنیتونوڅخه چې دکنوانسیون د۲۹ مادې څخه تر۳٦ مادې پورې ذکر شوي دي برخورداره ګڼل کیږي،نو په دې اساس دديپلو ماتیکو غړو هریو داړوند کسانو څخه دقبلونکي دولت قلمرو ته دداخلیدواوخارجیدو یادتولدیافوت یادطلاق تاریخ چې په کورنی کې رامنځ ته کیږي اودکورنی په تعداد کې دتغیر باعث کیږي باید دقبلونکي دولت خارجه وزارت ته اطلاع ورکړي، ددې اهمیت په دې کې دی چې دديپلوماتیکو

امتيازاتوبرقرارول يادهغو حذف کول دهغه په اساس صورت نيسي . (۱،ص ۴۲۷-۴۳۱)

## دويم پراګراف – اداري اوتخنيکي غړي اودهغوی امتيازات

دويانا کنګره ددیپلوماتيکو روابطو په هکله دهغوی لپاره يوه ثابته وضع ورکړه اودهغوی امتيازات يې دديپلوماتيکو ماموړينو ترڅنګ تعين کړل .

دنمايندګۍ اداري اوتخنيکي غړي اوهمدارنګه دهغو ي اړوند کسان چې دهغوی دکورنۍ اهل ګڼل کيږي ، په دې شرط چې دقبلونکي دولت تبعه يادهغه دولت دايمي اوسيدونکي نه وي دذکرشويو امتيازاتو اومصونيتونو څخه (۲۹-۲۶) مادو کې ذکر شوي برخمن ګڼل کيږي او په مدني اواداري اموراتو کې دهغوی مصونيت ترهغه اندازې دی چې په دې برخه کې دهغوی اعمال بايددهغوی دوظايفو څخه خارج نه وي. (۷،ص ۱۱۷-۱۱۸)

## دريم پراګراف – دنمايندګۍ خدمه اودهغوی امتيازات

دنمايندګۍداجزاووهغه دسته ګڼل کيږي چې دنمايندګۍ په اداراتو کې په خدمت بوخت وي، دنمايندګۍ خدمه هغه اعمالو ته چې دوظايفوڅخه يې سرچينه اخلي او دماليات دورکړې څخه دهغه مزد په مقابل کې چې دکار دانجام په مقابل کې يې لاس ته راوړي معاف ګڼل کيږي اوهمدارنګه داجتماعي بيمې دورکړې څخه هم معاف ګڼل کيږي . (۷،ص ۱۱۷-۱۱۸ )

## څلورم پراګراف – شخصي خدمتګاران اودهغوی امتيازات

شخصي خدمتګار يعني هغه شخص چې دنمايندګۍ دغړي خادم وي اودليږدونکي دولت له خوا استخدام شوی نه وي چې ديپلوماتيک کنوانسيو ن حداقل امتيازات يې دنوموړي دلې لپاره تعين کړي چې دکنوانسيون د۳۷ مادې څلورم بند داسې صراحت لري (دنمايندګۍدغړو شخصي خدمتګاران چې دقبلونکي دولت تبعه يادنوموړي دولت دايمي اوسيدونکی نه وي دماليات دورکړې اودحقوقي عوارضو څخه چې دوظيفې داجراء په وخت کې يې لاس ته راوړي معاف دی چې دنورو مصونيتونو اوامتيازاتوڅخه دهغوي استفاده يوازې دهغه حدودو پورې چې دقبلونکي دولت دقبول وړوي برخورداره ګڼل کيږي )

قبلونکی دولت نه بايد خپل حاکميت په نوموړو اشخاصوباندې داسې عملي کړي چې دنمايندګۍ دوظايفو داجراء مانع وګرځي . (۶،ص۴۳۷)

## څلورم مبحث _ دديپلوماتيکي امتيازاتودشروع او پای تاريخ

دديپلوماتيکي امتيازاتو دشروع او پای تاريخ هم دنمايندګۍ دغړو دنظره او هم دقبلونکي دولت نظره داهميت درلودونکي دي،چې پخواپه دې برخه کې ددولتونو ترمنځ کوم اتفاق نظر وجود نه درلود بلکه هر دولت په ځانګړي توګه ځينې خاص مقررات په دې برخه کې وضع کړي وه . (٦،ص٤٤١)

### لومړی پراګراف _ دديپلوماتيکي امتيازاتودشروع تاريخ

دکنوانسيون د٣٩ مادې داول بند په اساس دامتيازاتو څخه داستفادې دشروع تاريخ دتعين لپاره دوه حالتونه پيشبيني شوي، يوداچې دعضوی دانتصاب په وخت دقبلونکي دولت دخاورې څخه خارج وي اوبل داچې عضوه دانتصاب په وخت دقبلونکي دولت دقلمرو په داخل کې وي ، نو په دې صورت کې د امتيازاتو څخه استفاده دهغه تاريخ څخه دې چې دهغه انتصاب دقبلونکي دولت خارجه وزارت ته اعلام شي .

پخواوخت کله به چې ديپلوماتيک ماموروپه نمايندګۍ کې دغړې په توګه ونيول شو نو دهغه تاريخ څخه ياداچې کله به يې وصول نامه خارجه وزارت ته تسليم کړه نودهغه تاريخ څخه ياداچې که نوموړې به قبلونکي دولت ته داخل شو نو دهماغه وخت څخه به ديپلوماتيک امتيازات شروع کيدل .

هرکله چې دنمايندګۍ رئيس محضې دقبلونکي دولت خاورې ته داخل شي نو دديپلوماتيکي امتيازاتو څخه برخمن ګڼل کيږي ، اماترهغه وخته چې استوارنامه يې وي تسليم کړي نه وي نودامضاء يادرسمي مقاتوسره دنمايندګۍ درئيس ترعنوان لاندې دملاقات حق نه لري . (٣،ص٢٤١_٢٤٢)

په هغه صورت کې چې نوموړې دنمايندګۍ دغړي په توګه انتخابوي اوهغه دقبلونکي دولت دقلمرو په داخل کې وي نو هرکله چې په نمايندګۍکې په کار باندې شروع وکړي نودهمدې تاريخ څخه يې امتيازات شروع کيږي .

اوس امکان لري نوموړې وضع په څو مواردو کې واقع شي، لکه هرکله چې دقونسولي پوست غړي په هماغه هيواد کې دديپلوماتيکي نمايندګۍمقام ته لوړياداچې دنمايندګۍ اداري اوتخنيکي غړي دديپلوماتيک مامورينو مقام ته لوړشي .

که چېرې دديپلوماتيک غړي کورنۍ دهغه سره يوځای کوربه هيواد ته داخل شي نو دهغوی دامتيازاتو دشروع تاريخ هماغه تاريخ دې چې کوم وخت نوموړي کوربه هيواد ته داخل شوي وي، هرکله چې دنمايندګۍ غړې

کوربه هیواد ته داخل او دیپلوماتیک امتیازات هم ورته برقراره شي او بیا وروسته له دې دهغه کورنۍ دنوموړي کوربه هیواد ته داخل شي نو له همدې تاریخ څخه چې دهغه کورنۍ کوربه هیواد ته داخلیږي نو دهغوی لپاره امتیازات برقراریږي .

هرکله که چېرې شخصي خدمتګار دنمایندګی دغړي سره یادهغه دکورنۍ دغړوسره یوځای کوربه هیواد ته داخل شي نودنمایندګیدغړي کوربه هیوادته دداخلیدو تاریخ یا دهغه دکورنیکوربه هیوادته دداخلیدو تاریخ اعتبارلري .

په ټولو مواردو کې دانتصاب تاریخ یاد استخدام تاریخ یادکورنۍ دوضعې تغیر څخه باید دقبلونکي دولت خارجه وزارت ته دهغې اطلاع ورکړل شي ترڅو دهغې په اساس امتیازات برقرار کړي .(۸،ص۸۹_۹۰)

## دویم پراګراف _ ددیپلوماتیکي امتیازاتو دپای تاریخ

هرکله چې دیودیپلوماتیک ماموږماموریت چې دمصؤنیتونواوامتیازاتو څخه برخورداره وي خاتمه پیداکوي نو نوموړي مزایاوې او مصؤنیتونه معمولاً دنوموړي هیواد دخاورې دترک په وخت یادمناسبې مودې دنقض په وخت کې چې ماموریت پای ته رسیږي اوداموراتو دتصفیې لپاره ورکول کیږي قطع کیږي، لیکن نوموړي مزایا اومصؤنیتونه حتٰی دمسلحانه جنګونو په وخت دماموریت دختم تروختیه پورې هم ادامه پیداکوي .

دکنوانسیون د۳۹ مادې په دوهم بند کې دنوموړو تاریخونو څخه ذکرشوی، یوداچې ماموریت پای ته رسیږي، بل داچې کله هیواد پریږدي او دریم دمناسبې مودې نقض کیدل دي .

اوس کوم یو ددې تاریخونو څخه باید دامتیازاتو دپای تاریخ وګڼل شي ؟

ځواب به داوي ځرنګه چې دمصنؤنیتونو اومزایاؤ څخه منظور افرادوته نفع ورکول نه، بلکه ددیپلوماتیک ماموریتونو دوظایفوپه احسنه توګه اجراء دې، نو په دې اساس منطقي ده اوباید وویل شي چې دوظایفودپای سره امتیازات هم پای ته رسیږي .

لکه ځرنګه چې مخکې وویل شو هغه غړي چې ماموریت یې خاتمه پیداکړی دپاتې اموراتو دتصفیې لپاره یوې مودې ته ضرورت لري اوداهماغه دمناسبې مودې نقض کېدل دي چې پس له دې څخه دقبلونکي هیواد خاوره ترک کوي همدارنګه دقبلونکي هیواد دترک کولو لپاره چې دامتیازاتوسره یوځای وي، په ځومواردو کې امکان لري یوه معینه موده تعین شي .

يوموردداديې چې كه دوؤهيوادونو ديپلوماتيک روابط قطع شي نوپه دې وخت کې دنماينډګۍ غړوته صراحت ورکول كيږي ترڅو وکولای شي خپل امورات په سرعت سره تصفيه اودنوموړي هيواد خاوره ترک کړي ،اماترهغه وخته چې روابط نه وي قطع شوي حتٰی که مسلحانه جنګ هم جريان ولرې نو ددیپلوماتيکي ماموريـنو ماموريت په خپل ځای پاتې دې اودامتيازاتو څخه برخمن ګڼل كيږي، بل هغه مورد دې چې دهيواد ترک کولو لپاره وخت تعين كيږي اوداهغه حالت دې چې نوموړي د قبلونکي دولت له خوادنامطلوب عنصر په توګه اعلان شي چې دهيواد دترک کولو لپاره يومهلت ورکول كيږي اود مودې دتکميليدوسره يوځای امتيازات هم پای ته رسيږي .

دکنوانسيون د۳۹ مادې دريم بند دوه موضوعات دنماينډګۍ دغړو دفوت په هکله داسې ذکرکړي چې دنماينډګۍ دغړي دفوت په وخت دهغه دکورنۍ غړي دمصؤنيتونو اوامتيازاتو څخه ترهغه وخته چې دقبلونکي دولت له خوا دخاورې دترک لپاره وخت ورته ټاکل شوې نه وي نوپه دې موده کې لکه دپخوا په شان دټولوامتيازاتو څخه برخمن ګڼل كيږي .

# پنځم مبحث _ دديپلوماتيک اوقونسولي ارګانونو اړيکې

دقونسلګرۍ تشکيلات ۱۰۰۰ کاله وړاندې دمختلفوقومونو تر منځ منځ ته راغلي، په داسې حال کې چې دديپلوماتيکي نماينډګۍ تأسيسات ددرې يا څلوروقرنونو وړاندې نه دي چې ددولتونو په منځ کې منځ ته راغلي .

پخوا بعضې ددولتونو څخه لکه انګلوساکسون هيوادونه يا خصوصاً امريکاچې دوی دديپلوماتيک اوقنسولي دوه ارګانونو نږديوالي مخالف وه، نوموړودولتونو دديپلوماتيک ارګان لپاره بين المللي تعاملي امتيازات قبول کړي ولې دقونسلي ارګان لپاره په لږ امتيازاتو باندې قايل شول .

نن ورځې وضعې تغير کړې خاصتاً د۱۹٦۱ م کال دديپلوماتيک قواعدو په تدوين سره او په ۱۹٦۳ م کال کې قونسلي قواعدو تدوين په حقيقت کې ددې په سبب دواړه ارګانونه يوبل ته نږدې شول او قونسلي امتيازات او وظايف زيات شول لکه چې دديپلوماتيک امتيازاتو او وظايفو سره يې شباهت پيداکړ، ددې دوه دولتي ارګانونودښه پيژندنې لپاره ددې دواړه ارګانونو شباهتونه اوفرقونه مطالعه کوو.(۱۵٤،۷_۱۵۵)

## لومړی پراګراف _ ددیپلوماتیک اوقونسلي دوه ارګانونوشباهتونه

ددیپلوماتیک اوقونسلي دوه ارګانونود شباهتونو اواشتراک وجه په لاندې ډول ده .

اول _ اګرکه دیپلوماتیکه نمایندګي اوقنسولي پوست دبین المللي حقوقو دنظره دوه جدا ارګانونه شمیرل کیږي اودمختلفوحقوقي رژیمونو لرونکي دي، ولې ددولتونو دداخلي حقوقودنظره دهغوی ترمنځ کوم فرق وجود نه لري ، اوددې دواړو ډلوغړي په عمومي توګه دلیږدونکي دولت کارکونکي دي اودخپل متبوع هیواد په داخل کې دمساوي حقوقو څخه برخمن وي اودهغوی ترمنځ کوم تبعیض وجود نه لري .

دویم _ دیپلوماتیک او قونسلي تشکیلات دنړی په اکثرو هیوادونو کې نن ورځ دلیږدونکي دولت دخارجه وزارت تابع اوپه یوردیف کې قرار لري . یاپه بل عبارت عملاً دخارجه وزارت کارکونکي دي چې کله په دیپلوماتیکه نمایندګی کې اوکله په قونسلي پوست کې په کارکولو باندې ګمارل کیږي . (۶،ص۴۷۷_۴۷۸)

دریم _ په مساوي توګه دقونسلي وظایفو زیاتوالې اودیپلوماتیکو وظایفوته دهغې نږدې کیدل، په حقیقت کې دقنسولي مامورینو په امتیازاتو کې زیاتوالې راغلې او ددیپلوماتیک مامورینو امتیازاتو ته نږدې شوي دي اوله هغه سره یې اړخ لږولی دی پس په دې دواړو مواردو کې دامتیازاتو منطق دادې چې دامتیازاتو ورکړه په حقیقت کې دافرادو دمنفعت لپاره نه بلکه دهغې څخه موخه په احسنه توګه دوظایفو ترسره کول دي . (۲،ص۳۹۷)

څلورم _ بله داشتراک وجه یې داده چې نوړي دوه ارګانونه کولای شي په لازمواردو کې یودبل وظیفه اجراء کړي .

دکنونسیون د۳ مادې دوهم بند داسې صراحت لري چې (هیڅ یودمقرراتو ددې کنونسیون نه باید په هغه توګه تفسیر شي چې ددیپلوماتیکې نمایندګی په واسطه دقونسلي پوست دوظایفوداجراءمانع وګرځي ) همدارنګه دقونسلي روابطو دکنوانسیون ۱۷ ماده په دې ډول صراحت لري چې (قونسلي مامورین کولای شي چې دیپلوماتیک اعمال ترسره کړي ) . (۸،ص۴۷۸_۴۷۹)

## دویم پراګراف _ ددیپلوماتیک او قونسلي دوه ارګانونو فرقونه

هغه فرقونه چې ددیپلوماتیک اوقنسولي دوه ارګانونو ترمنځ وجود لري په لاندې ډول دي .

اول _ دیپلومات دقبلونکي دولت په وړاندې دلیږدونکي دولت نماینده دې اودهغه وینا او کردار

ټول دهغه دولت ته منسوبيږي چې دکوم دولت په نوم باندې وظيفه اجراء کوي .

ديپلومات دبين المللي حقوقو تابع اوکولای شي ديوقرارداد په امضاء کولو ياديو قرارداد په ليږدولو خپل متبوع دولت متعهد کړي، اوقونسل دخپل متبوع دولت نمايندګي نه لري اودهغه دولت کارکونکي اوحکومتي مامورين دي چې ددوی له طرفه په بل دولت کې امورات ترسره کوي چې زيات سروکار يې دافرادو سره وي اوقونسل خپل وظايف په حقيقت کې دليږدونکي او قبلونکي دولتونو په چوکاټ کې ترسره کوي .(۷،ص۱۳۱)

دويم _ دديپلوماتيکي روابطو برقرارول دنورو دولتونو سره دبين المللي حقوقو له نظره دهغه دپيژندنې په اساس، په داسې حال کې چې دقونسلي روابطو برقرارول په نورو دولتونو کې چې دهغې دشناخت دليل دحقوقو په اساس نه وي، يعنې هرکله چې يودولت دبل دولت سره قونسلي روابط برقراروي نو په حقوقي انداز نوموړې دولت نه پيژني، نوپه نتيجه کې ويلې شو چې دوه هيوادونه غيرله دې څخه چې دهغوی ترمنځ ديپلوماتيک روابط وجودلري اوغيرله دې څخه چې يو بل وپيژني کولی شي چې يو دبل په خاوره کې قونسلي پوستونه تاسيس کړي .(٦،ص٤٧٥_٤٧٦)

دريم _ سياسي تحولات ددوه هيوادونو په ديپلوماتيکو روابطو اثر غورځوي چې په بعضې اوقاتو کې دماموريت درئيس په کښته غورځيدو يادديپلوماتيکو روابطو دقطع کيدو سبب کيږي يادنمايندګۍ دتعطيل سبب کيږي، په داسې حال کې چې دادول اختلافات په قونسلي روابطو کوم حقوقي اثر نه غورځوي او امکان لري چې دواړه هيوادونه دجنګ دجريان په وخت يادروابطو دقطعې پر وخت هم خپلواداري وظايفو ته ادامه ورکړي .

څلورم _ دديپلوماتيکي نمايندګۍ دفعاليت قلمرو ټول کوربه هيواد دې اوداصولو له مخې ديپلوماتيکي نمايندګۍدهيوادونو په پايتخت کې مستقر کيږي چې دهيواد دقدرت مرکز ګڼل کيږي ، په داسې حال کې چې دقونسلي پوست دفعاليتونو ساحه دقبلونکي هيواد يوه برخه ده چې امکان لري يوياڅو ايالتونه دربر ونيسي اودقونسلي پوست مقرهم يوښاروي چې امکان لري دقبلونکي دولت خاوره په څو قونسلي حوزو باندې تقسيم شي .

همدارنګه ددې امکان هم شته چې په پايتخت کې هم ديپلوماتيکي نمايندګي اوهم قنسولي پوست دنمايندګۍ څخه په مستقله توګه وجود ولري چې په دې صورت کې دنمايندګۍدفعاليت حوزه ټول هيواد دې او دقونسلي پوست صلاحيت امکان لري چې په پايتخت پورې محدود وي

او دنوموړي هيواد په نورو ايالاتو کې نوري قنسولګرۍ وجود ولري . (٧،ص١٣٢)

پنځم _ دديپلوماتانو دامتيازاتو لمن پراخه ده، په داسې حال کې چې دقونسلي مامورينو دامتيازاتو لمنه محدوده او په اکثرو برخو کې دديپلوماتانو څخه لږ امتيازات لري .

ددې دليل به داوي چې دامتيازاتو ورکړه دقبلونکي دولت له خوا دوظايفو داهميت پر اساس دي چې اجراء کوي يې نوځرنګه چې ديپلوماتيک وظايف نسبت قونسلي وظايفو ته د ډيراهميت څخه برخمن دي نو بنا ديپلوماتيک امتيازات نسبت قونسلي امتيازاتو ته زيات دي . (٦،ص٤٧٧)

## شپږم مبحث _ دديپلوماتيکي ماموريت ختم اودهغې حقوقي اثار او نتايج

داچې بعضې اوقات ديپلوماتيکي ماموريت خاتمه پيداکوي نوددې ايجاب پيداکيږي چې هغه حالات بايدمطالعه کړو چې نوموړې سياسي ماموريت په کې خاتمه پيداکوي اوهمدارنګه ددې ماموريت په ختميدو سره ځينې اثار اونتايج رامنځ ته کيږي چې بايد مطالعه شي .

### لومړې پراګراف _ دديپلوماتيکي ماموريت ختم

ديپلوماتيکي ماموريت په لاندې حالاتو کې خاتمه پيداکوي .

لومړی جز _ دسياسي مناسباتو دانقطاع په اساس

دويم جز _ دسياسي مامور دوضعې او حالت په نسبت

دريم جز _ دليږدونکي ياميلمه دولت دتصميم په اساس

څلورم جز _ دقبلونکي ياکوربه دولت دتصميم په نسبت

اوس هريو ددې څخه په جلا جلا توګه مطالعه کوؤ .

#### لومړې جز _ دسياسي روابطو دانقطاع په اساس

په بعضې وختونوکې ددې امکان موجود وي چې ددولتونو ترمنځ سياسي روابط ددولتونو دسياسي مناسباتو په اساس خاتمه پيداکړي اودغه سياسي روابط نظرلاندې حالاتو ته انقطاع مومي .

الف _ دجنګ په نسبت

په بعضې وختونو کې ددولتونو ترمنځ جنګ ددې سبب ګرځي چې ددوی ترمنځ سياسي روابط منقطع کړي .

ب _ دسياسي روابطو دخړ پړتيا په نسبت

بعضې وختونه چې ددولتونو ترمنځ روابط خړپړشي نوسياسي روابط هم انقطاع پيداکوي.

ج _ دتعزيراتو په نسبت

بعضې وختونه که يوهيواد دبل هيواد په مقابل کې دتعزيراتو څخه کار واخلي نو داعمل هم دسياسي روابطو

دانقطاع سبب گرځي. لکه یو هیواد دبل هیواد په نمایندګانو محدودیتونه لږوي یاپه یو بل هیواد بندیزونه لږوي .(٥،ص٧٠)

دویم جز _ دسیاسي مامور دوضعې په نسبت

بعضې هغه حالات اودلایل چې دسیاسي مامور پورې تړلي اودسیاسي روابطو دانقطاع سبب کیږي اوسیاسي روابط پای ته رسیږي نوموړي حالات په لاندې ډول دي .

الف _ دسیاسي مامور دمړینې په اساس سیاسي مناسبات هم خاتمه پیداکوي

ب _ دسیاسي نماینده داستعفاء په اساس

ج _ دسیاسي مامور دتقاعد په اساس

د _ احتمالاً دلیږدل شوي مامور دوخت دپوره کیدو په اساس .(٢،ص٣٩٥)

دریم جز _ دلیږدونکي یا میلمه دولت د پریکړې په اساس

په دې حالت کې کیدای شي چې متبوع هیواد په کوربه هیواد کې دخپل سیاسي مامور په هکله تصمیم ونیسي ترڅو دهغه سیاسي نماینده ماموریت ختم کړي چې په دې اساس سیاسي مناسبات هم انقطاع مومي او په لاندې حالاتو کې ورڅخه یادونه کوو .

الف _ دسیاسي نماینده دوظایفودنه اجراء په اساس لیږدونکې هیواد خپل مامور راغواړي نو په دې اساس سیاسي مناسبات خاتمه پیداکوي .

ب _ همدارنګه دامکان په صورت کې دمتبوع هیواد له خوا دسیاسي مامور دتغیر اوتبدیل په صورت کې هم سیاسي مناسبات خاتمه پېداکوي .(٧،ص١٢٣_١٢٤)

څلورم جز _ بعضې وخت کېدای شي سیاسي ماموریت یا مناسبات دقبلونکي هیواد دپریکړې په اساس خاتمه پیداکړي . لکه په بعضې مواردوکې کوربه هیواد دسیاسي نماینده د اخراج حکم صادروي اودیو غیر مطلوب په توګه یې معرفي کوي چې دا حالت دسیاسي روابطو یاسیاسي ماموریت داختتام سبب ګرځي .(٢،ص٣٩٥)

## دوهم پراګراف _ دسیاسي یادیپلوماتیکي ماموریت دختم اثار او نتایج

نظر بعضې حالاتو ته چې سیاسي مناسبات او ماموریتونه په کې خاتمه مومي لکه مخکې موچې ورڅخه یادنه وکړه، اوس نو دلته یوسوال پیداکیږي چې ددې نوع ماموریت دختم اثاراونتایج په څه وي اودمیلمه هیواد دسفارتخانې دتعمیراتو،وسایلو،اوتجهیزاتو حفاظت به په کوربه هیواد کې دحقوقو دنظره دچا په غاړه وي ؟

ددې سوال په ځواب کې باید ووایو چې دسیاسي مناسباتو دختم او دهیوادونو دروابطو دخړ پړ کیدوسره هم بعضې حقوقي اثار اونتایج لاسته راځي چې ددې حقوقي اثارو دمشکلاتو اونواقصو دحل لارې په لاندې ډول دي .

لومړی جز _ لومړی حقوقي اثر

دسیاسي ماموریت دانقطاع سره سم دمیلمه هیواد دسفارتخانې دتعمیراتو او وسایلو دساتنې مکلفیت رسماً او حقوقاً دکوربه هیواد په غاړه وي چې دسیاسي روابطو دختم وروسته دهغې ساتنه کوي .(۲،ص۳۹۶)

دویم جز _ دویم حقوقي اثر

میلمه هیواد کولای شي دکوربه هیواد په موافقې دهمدې تعمیراتواوتجهیزاتو ساتنه اوحمایه دثالث هیواد سفارتخانې ته وسپاري چې په کوربه هیوادکې وجودلري.(۵،ص۷۱)

دریم جز _ دریم حقوقي اثر

میلمه هیوادکولای شي چې د خپلو عمومي،سیاسي اواتباعودمنافعو ساتنه اوحمایه چې په کوربه هیوادکې شتون لري دکوربه هیواد په موافقې دثالث هیواد سفارتخانې ته وسپاري .

څلورم جز _ څلورم حقوقي اثر

ددې امکان هم شته چې میلمه هیواد دکوربه هیواد په موافقې سره دخپلې سفارتخانې دتعمیراتواووسایلود ساتنې لپاره دسفارتخانې دماموړینو څخه یونفر په حیث دنماینده په کوربه هیوادکې پریږدي چې ددې شخص موجودیت په حقیقت کې دسیاسي روابطو ددوام په معنی نه دی، بلکه دتعمیراتو دساتنې او حمایې په منظور دې اوباید ذکرکړو چې ترڅو نوموړي نماینده په کوربه هیواد کې وي نو دسیاسي مصؤنیت څخه به برخمن وي البته دکوربه هیواد په موافقې سره .(۲،ص۳۹۶)

## تبصره _ ایاقونسلان هم دیپلوماتیکي مصؤنیت لري او کنه ؟

څرنګه چې دنامه څخه یې معلومیږي اویاداچې نظر دهغوی وظیفوته چې ترسره کوي یې هغه غیرسیاسي روابط دي نودوی ته دیپلوماتان نه ویل کیږي .(۵،ص۷٤ )

دیپلوماتیک مصؤنیت چې دهغې منطق په احسنه توګه ددیپلوماتیک ماموریت ترسره کول دي اوهمدارنګه نوموړي ماموریت چې کوم خاص شکل نه لري اودنوموړي محل تابع نه دې نو نوموړي مصؤنیت په هرځای اوهر وخت کې دهغه سره وي ولوکه دکاردمحل څخه خارج هم وي ، نو په نتیجه کې دیپلوماتیک مصؤنیت په دیپلومات شخص پورې تعلق لري .ولې برعکس قونسلي مامور شخصاً دپرنسیپ له مخې مصؤنیت نه لري اوهغه چې ددولتونو

ترمنځ دقراردادونو، عرف او رسم په اساس ورکول کيږي هغه ددې لپاره چې دوظايفو داجراء په لاره کې ورته کوم خنډ واقع نشي،نوبناً دقونسلي مامور مصؤنيت محدود دې . (٧،ص١٤٢)

دپرنسيپ له مخې قونسلان ديپلوماتيکي مصؤنيت نه لري خواستثناً يا په عمل کې يادبين المللي تعاملاتو له حيثه قونسلان ته هم په مقيم يا کوربه هيواد کې يوڅه ديپلوماتيکي مصؤنيت او امتيازات ورکول کيږي،ولې په هرصورت دقونسلانو مصؤنيت اوامتيازات نسبت ديپلوماتانو ته محدود دي .

قونسلان لکه دسفيرانو په شان دتعرض څخه مصؤنيت لري مګر په لږ تفاوت سره يعنې دقونسلانومال، بدن،بکسونه،دوسيې اواسناد دلاړې ي په اوړدو کې اوهم په کوربه هيوادکې دتعرض څخه مصؤنيت لري اونه تالاشي کيږي،همدارنګه دقونسلګرۍ دفترونه ، دوسيې،اسناد اوشعبې هم دمصؤنيت څخه برخمنې دي، ولې دقونسلګرۍ نوره احاطه مصؤنيت نه لري اوامکان لري تالاشي شي، خودسفارتخانې ټوله احاطه دتعرض اوکنترول څخه مصؤن ده، خوداچې دتعرض څخه مصؤنيت دهيوادټول اتباع اواوسيدونکي يې لري نوفرق داتباعواو اوقونسلانو دمصؤنيت دادې چې دقونسلانو مصؤنيت دايمي وي ولې داتباعو مصؤنيت دايمي نه وي او د محکمې د حکم په اساس دمنځه تللې شي .

څرنګه چې دسياسي نمايندګانو مصؤنيت کامل دې اوقونسلان چې سياسي نمايندګان نه دي نودپرنسيپ له مخې قونسلان ديپلوماتيک مصؤنيت نه لري خو استثنا قونسلان په مقيم دولت کې جزايې مصؤنيت لري سره ددې چې دوی سياسي نمايندګان نه دي اوکارونه يې دمدني يا تجارتي، فرهنګي اوداسې نوروامورواتو په اړونددي،خوبايد وويل شي چې ددوی جزايې مصؤنيت دسياسي نماينده سره مساوي او برابر نه دې بلکه دقونسلانو جزايې مصؤنيت يواځې دوظيفې داجراء په وخت کې وجود لري يعنې که دوظيفې دجريان په اوږدوکې دوی دکوم جرم مرتکب وګرځي لکه رشوت، سرقت يادقوانينو خلاف ورزي وکړي نودوی جزايې مصؤنيت لري خودقونسلانو دکورنۍ غړي جزايې مصؤنيت نه لري البته دقونسلانو بکسونه اوهم دوی دسفرپه وخت په بندرونو کې نه تالاشي کيږي اوهم يې کورونه نه تالاشي کيږي . (٤،ص١٩)

بايدذکرکړوکه چيرې قونسل مامور په کوربه هيواد کې دکوم مشهودجرم مرتکب شي اګرکه دوظيفې داجراء څخه غير په بل وخت کې وي بياهم مصؤنيت لري ولې په دې هکله دوه نظريې وجود لري .

اوله نظریه _ که چیرې نوموړي مشهود جرایم دوظیفې سره تړاؤ ولري نو قونسل باید په کوربه هیواد کې محاکمه اومجازات شي .

دویمه نظریه _ کوربه هیواد کولای شي دغیر مطلوب شخص په توګه یې دهیواد څخه خارج کړي .(٥،ص٧٦)

همدارنګه قونسلان په کوربه هیواد کې تریوټاکلي حد پورې مدني مصؤنیت هم لري یعنې دمدني مسایلو په ترڅ کې په قونسلانو باندې په کوربه هیواد کې مدني دعوه نشي اقامه کیدای اودا په هغه صورت کې چې قونسل دارایې اواموال دخپل هیواد څخه د ځانه سره راوړي یعنې منشاء یې خپل متبوع هیواد وي نوددې اموالو په اړوند بیا په کوربه هیواد کې ددې دعوه نشي اقامه کیدای او که دعوه اقامه کیږي نوپه خپل متبوع هیواد کې به پرې اقامه کیږي،اوهمدارنګه دهغه اموالو په اړوند هم مدني دعوه په کوربه هیواد کې نشي اقامه کیدای چې د قونسلګرۍ په دفتر پورې اړوند وي لکه دقونسلګرۍ اثاثه اونورضروري لوازم، نو په دې قسم حالاتوکې قونسلان او قونسلګري مدني مصؤنیت لري، ولې نور ډول اموال اودارایې چې منشاء یې متبوع دولت نه وي نو بیا په دې ډول حالاتو کې نوموړي اموال اودارایې مدني مصؤنیت نه لري او دعوه پرې په کوربه کې هم اقامه کیدای شي .(٧،ص١٦٢_١٦٣)

ولې په اخر کې باید دقونسلانو دامتیازاتو په هکله ذکرکړو چې قونسلان هم لکه دسفیرانو په شان دګمرکي محصولاتو څخه معاف دي ولې دغه معافیتونه دهغه اموالو او دارایو په اړوندي چې منشاء یې متبوع دولت وي اویا هغه اموال، تجهیزات، لوازم، او اثاثه چې د قونسلګرۍ درسمي کارونو د ترسره کولو لپاره ضروري وي نو بیادغه ډول اموال او دارایې هم معافیتونه لري او ددې ډول اموالو څخه علاوه دنورو اموالو او دارایو په اړوند بیا دغه امتیازات او معافیتونه نشته .(٨،ص١١٣_١١٤)

# پایله

دبین المللي روابطو دیپلوماتیکي نمایندګي چې په یوه خارجي هیواد کې دخپل هیواد سیاسي دیپلوماتیک روابط دکوربه هیواد سره ترتیب او تنظیموي چې نو موړې نمایندګي په یوه دیپلوماتیک نماینده اوځونورو دیپلوماتیکو غړو باندې مشتمله ده چې یواځې یوشخص دنمایندګۍ دټولوفعالیتونو مسؤل ګڼل کیږي او هغه دنمایندګۍ رئیس دې چې دخپل متبوع هیواد استازیتوب کوي اودنمایندګۍ نورغړي په مستقیم ډول دنمایندګۍ وظیفه په غاړه نه لري بلکه یواځې دخپل رئیس سره مرسته اوهمکاري کوي .

سفیران معمولاً دسفارتخانې په راس کې قرارلري چې دسفارتخانې لومړې شخص ګڼل کیږي، اوغیرله دې څخه چې دسفارتخانې دداخلي اموراتو مسؤلیت په غاړه لري بلکه مؤظف دی ترڅوله یوې خوادمتبوع دولت سره اودبلې خوا دقبلونکي یاکوربه دولت سره ددایمي اړیکودرلودونکي وي، چې معمولاً سفیر دمتبوع هیواد درئیس دولت له خوا انتخابیږي .

څرنګه چې دسیاسي اودیپلوماتیکي وظایفوداجراء لپاره دمتبوع دولت له خوا په کوربه دولت کې سیاسي دیپلوماتیک غړي لکه سفیران اونوردیپلوماتیک غړي په کارګمارل کیږي اودیوسلسله مصؤنیتونو اوامتیازاتو څخه برخمن کیږي، داچې اوس ولې سفیران اودیپلوماتیک غړي په کوربه هیوادکې دیوسلسله مصؤنیتونو برخمن کیږي ځانته منطق اودلایل لري، خوبیاهم ددې لپاره چې اړونده وظایف یې په احسنه توګه ترسره کړي وي نوکوربه دولت ورته په یوسلسله مصؤنیتونو او امتیازاتو قایل کیږي چې که چېرې نوموړی په کوربه هیوادکې دکوم جرم مرتکب اویاد قانون خلاف کوم عمل ترسره کړي نوبایدمصؤنیت لرونکې وي اودکوربه دولت له خوادجرم په اړوند نه محاکمه او نه مجازات کیږي اوددې لپاره چې دوظایفود اجراء په وخت کې ددوی سره کومه ویره او بیم نه وي ترڅو ددوی په کارونو کې سکتګي او خنډ رامنځ ته نشي، اونوموړو ته کوربه دولت په یوسلسله امتیازاتو هم قایل کیږي لکه

مالیاتي معافیتونه چې په کوربه هیواد کې د هر ډول مالیاتو دورکړې څخه معاف ګڼل کیږي، همدارنګه ګمرکي معافیتونه چې دهیوادونو د سرحداتو څخه دتیریدو په وخت دخپلوامولو په اړوند دهرډول ګمرکي محصولاتو څخه معاف وي او داسې نور .

خوبا یدهیره نه کړو چې ددوی ترڅنګ غیرسیاسي دیپلوماتیک غړي چې اداري اوتخنیکي کارکونکې دي او په غیرمستقیم ډول سیاسي وظایف اجراء کوي هم دیوسلسله مصؤنیتونواو امتیازاتو څخه برخمن ګڼل کیږي .

په حقیقت کې دیپلوماتیک مصؤنیتونه او امتیازات یوازې په کوربه هیواد پورې منحصر نه دي بلکه که چیرې نوموړې سفیر یادیپلوماتیک غړې دمتبوع دولت په اشاره دکوربه هیواد څخه ثالث هیواد ته دیوې مذاکرې اویادیوې معاهدې دامضاء لپاره لیږدول کیږي نوپه دې ټولومراحلو کې ولوکه دسفرپه حال کې هم وي دټولومصؤنیتونواوامتیازاتو څخه چې په کوربه هیوادکې یې لري برخمن ګڼل کیږي، اونه یوازې دوی بلکه دهغه دکورنۍ غړي ولوکه په کوربه هیواد اویاهم په ثالثو هیوادونو کې وي دټولومصؤنیتونو او امتیازاتو څخه دسفیرانو اودیپلوماتیک غړوسره یوځای برخمن کیږي .

په بعضې اوقاتوکې امکان لري چې متبوع دولت ددیپلوماتیک غړو دمصؤنیتونو اوامتیازاتو څخه انصراف وکړي چې له ټاکلې نیټې وروسته دیپلوماتیک مصؤنیتونه اوامتیازات له منځه ځي، اوکله داسې هم واقع کیږي چې خپله دیپلوماتان له دیپلوماتیکو مصؤنیتونو اوامتیازاتو څخه سؤاستفاده وکړي چې په نتیجه کې دکوربه دولت له خوانوموړي مصؤنیتونه اوامتیازات سلب کیږي اود نامطلوب عنصر په توګه یې اعلانوي اوداخراج حکم یې صادروي.

ددې لپاره چې ددولتونو ترمنځ سوداګریز، اقتصادي، فرهنګي اوداسې نورې اړیکې موجودې وي نوبا یدچې قنسولي نمایندګۍ تاسیس کړي ترڅو اړونده وظایف ترسره کړي .

څرنګه چې ددیپلوماتیکي نمایندګۍ غړي ددیپلوماتیکي مصؤنیتونو او امتیازاتو څخه برخمن دي، دغه ډول قونسلان هم دقونسلي مصؤنیتونو اوامتیازاتو څخه برخمن ګڼل کیږي اماپه لږ تفاوت سره چې قونسلي مصؤنیتونه اوامتیازات نسبت دیپلوماتیکي مصؤنیتونو او امتیازاتو ته سپک دي .

داچې دولتونه یودبل نمایندګانو ته په مصؤنیتونو اوامتیازاتو قایل شوي دا په حقیقت کې شخصاددیپلومات په خاطر نه بلکه دمیزبان دولت احترام دې دمیلمه دولت په وړاندې چې داکار ددولتونو ترمنځ

دمتقابل احترام په اساس صورت نیسي نو هرهغه څوک چې میلمه هیواد تمثیلوي هغه ته په مصؤنیت قایل کیږي .

په هر صورت که څه هم نن ورځ په نړۍ کې ددولتونو دسیاسي نمایندګانو دمصؤنیتونو اوامتیازاتو په هکله نړیوا له دویا نا کنګره چې پخواني عرف اوتعامل ته په کې هم ځای ورکړل شوی اوخپله ددولتونو ترمنځ نړیوال میثاقونه هم وجود لري خو بیاهم نن ورځ ددولتونو دسیاسي نمایندګانو مصؤنیتونه او امتیازات په حقیقت کې ددولتونو په متقابل رفتار پورې اړه لري چې که چیرې یودولت دبل دولت سیاسي نماینده ته په ټولو مصؤنیتونو اوامتیازاتو قایل شي نو هغه بل دولت هم دنوموړي دولت سیاسي نماینده دټولو مصؤنیتونو او امتیازاتو څخه برخمن کوي .

نوددې لپاره چې په نړیواله ټولنه کې ددولتونو ترمنځ دامن یوه فضاء رامنځ ته شي اوددولتونو سیاسي نمایندګان وکولای شي خپل امورات په سالمه فضاء کې په احسنه توګه ترسره کړي نو لازمه ده چې هردولت دبل دولت سیاسي نماینده ته دټولونړیوالو کنوانسیونونو او بین الدول میثاقونو ته په نظر کې نیولو سره نوموړي سیاسي نماینده ته په ټولو مصؤنیتونو او امتیازاتو قایل شي .

ومن الله التوفیق

دسرلوړي اواباد افغانستان په هیله

# اخځلیکونه


۱ _ ابراهیمي،محمد، اسلام وحقوق بین الملل عمومی، جلددوم، دفترهمکاری حوزه ،تهران ،چاپ اول ۱۳۷۷ هـ ش

۲ _ بیګدلي،محمدرضاضیائي، حقوق بین الملل عمومی، کتابخانه ګنج دانش، چاپ بیست ویکم،۱۳۸٤ هـ ش

۳ _ دبیری،محمدرضا، دیپلماسي کاربردی ورویه های دیپلوماتیک، مؤسسه چاپ وانتشارات وزارت امورخارجه، چاپ اول ۱۳۷٤ هـ ش

٤ _ دانش،حفیظ الله، بین الملی حقوق جزا،ننګرهار پوهنتون ،۱۳۸٦ هـ ش

٥ _ دانش،حفیظ الله،عمومی بین المللی حقوق، ننګرهار پوهنتون،۱۳۸۷ هـ ش

٦ _ ذوالعین،پرویز،حقوق دیپلماتیک، مرکزچاپ وانتشارات وزارت امورخارجه، چاپ سوم، زمستان ۱۳۸٦ هـ ش

۷ _ صدر،جواد،حقوق دیپلماتیک وکنسولی، مؤسسه انتشارات وچاپ تهران، چاپ هشتم، ۱۳۸٦ هـ ش

۸ _ فلت هام،ار. جی،ترجمه،قنبری محمد،راهنمای دیپلماتیک، مؤسسه چاپ وانتشارات وزارت امور خارجه، چاپ دوم، ۱۳۷٤ هـ ش

۹ _ معین زاده، عباس، حقوق دیپلماتیک نوین، مؤسسه چاپ وانتشارات وزارت امورخارجه، چاپ دوم، ۱۳۷٤ هـ ش